باب

شرک

نَحْمَدُہٗ وَنُصَلِّی عَلٰی رَسُوْلِہِ الْکَرِیْمِ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ۞ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۞ اِنَّ الشِّرْکَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ۞ لقمن13

معزز طلباء کرام ! شرک په لغت کښ حصه دارے ته وائي او په اصطلاح د شريعت کښ شرک دا الله په ذات او صفات کښ مخلوق د الله سره حصه دار يعني شريک گنړلوته وائي.

په ټولو مخلوقاتو کښ يو مخلوق هم خواه که انبياءؑ وي يا اولياء کرام،پيران،بزرگان،فقيران،فرشتے عرض داچه ټول مخلوق، کۀ مړه وي اوکه ژوندي خو چي کله ئے دالله سره په ذات اوصفاتوکښ څوک شريک اوگنړي نو دِ ته شرک وائي.

خدا فرما چکا قرآن کے اندر
میرے محتاج ہیں پیر و پیغمبر
نہیں طاقت سوا میرے کسی میں
کہ کام آوے تمھارے بے کسی میں

الله تعالیٰ هر يوه گناه معاف کوی خو شرک نه معاف کوی . اِنَّ اللهَ لَا یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَکْ بِہٖ وَیَغْفِرُ مَادُوْنَ ذٰلِکَ لِمَنْ یَّشَآءُ۞سورة انسآء116-
بے شک الله تعالیٰ شرک نه معاف کوي چي الله سره شرک اوکړے شي او د شرک نه علاوه چه کوم گناهونه دي هغه الله معاف کوي. چي خوښ ئے شي چاته. بل ځائے کښ ارشاد دے اِنَّہٗ مَنْ یُّشْرِکْ بِاللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَیْہِ الْجَنَّۃَوَمَأْ وٰہُ النَّارُ وَمَا لِظّٰلِمِیْنَ مِنْ اَنْصَارٍ۞(مائده ايت نمبر۸۲) بے شکه چا چي د الله سره څوک شريک جوړ کړو نو الله تعالی په هغه باندے جنت حرام کړے دےاو دهغه ځائے جهنم دے او د ظالمانو (مشرکانو) مددکولو والا هيڅوک نشته.
په دي آيت کښ الله جله جلاله په واضحوالفاظوسره داحکم کوی چي څوک زماسره شريک جوړوي نو په هغه باندي دَ جنت خوشبوئي هم حرامه ده.او دداسے بدنصيبه د پاره په آخرت کی هيڅوک امداد

کولووالا نشته. چي د دِ مشرک مدد او شفارس اوکړی.

جو خود محتاج ہے دوسروں کا

بھلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا۔

شرک ناقابل معافی جرم دے سورة الزمرایت نمبر65 کښ الله تعالٰی فرمائي لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ۔ که چرته تا شرک کړے وے نو ستا اعمال به هم ضائع شوے وے.

گورے طا لبعلمانو او مسلمانانو رونړوانبیاءعلیه السلام خودهرقسمه گناهونونه پاک وو خو په دِایت کښ امت ته تعلیم ورکړے شوے دِ چي شرک دومره قبیحه گناه ده که بالفرض د انبیاء نه هم دا شوے وے نو الله تعالیٰ به ئے عمل ضائع کړے وے.گورے رونړو اصل کامیابی داده چي مونږه د هر قسم شرکیاتونه ځان اوساتوبعض خلق د نظر بد د پاره غاړے ته یالاس ته تورتار اچوي یا په فصل،آبادے،دکان وغیره باندے سرے یا تورے کپړے یا د ځاروو ښکري لگوي په دي عقیده باندے چي دا به مونږه د بد نظر نه بچ کوي نو دا عقیده غلطه ده یا زیارتونه د نفع نقصان مالکان گنړي نو دا شرک دے . چي بعض ناپوهه ئے پو نوم باندے نذر منختے هم مني او یره ترے هم کوي.

اَرَبٌّ وَاحِدٌ اَمْ اَلْفُ رَبٍّ

ایا خدائے یو دے اوکه زر خدایان دي.

اَدِيْنٌ اِذَا تُقُسِّمَتِ الْاُمُوْرُ

ایا دا **هم** دین دِے چه کارونه پکښ تقسیمولے شی. چي څوک د غیرالله نه اولاد غواړي څوک ترى مال غواړي.

وہ کیا ہے جو نہیں ملتا خدا سے۔

جسے تم مانگتے ہو اولیاء سے۔

باب

د شرک پیدا کیدلو اسباب

نَحمدُہٗ وَنُصَلِّی عَلٰی رَسُوْلِہِ الْکَرِیْمِ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ۝ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝ اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاکَ نَسْتَعِین۝

مغزز طلباءِ کرام! د شرک د پیدا کیدولو ئے وجوهات نن سبا غلط دم ګري دي اوهغه خلق دي چي په سماع موتی باندے زور ورکوي چي د هرځائے نه مړي آورى.

غلط دم ګري عوامو له تارونه غاړے ته اچوي او غلط تعویذونه کوي. نو بیا خلق دا عقیده اولري چي داخځ کیدل په دې تارونو باندے دي نو دا دعوامو عقیده جوړه شي.قرآن کریم په داسے غلطه عقیده ردکوي ځکه چي څه کول اور بیماري راوستل صرف دالله په حکم راځی.

وَاِنْ یَّمْسَسْکَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَاَ کَاشِفَ لَہٗ اِلاَّ ھُوَۚ وَاِنْ یُّرِدْکَ بِخَیْرٍ فَلَاَ رَآدَّ لِفَضْلِہٖ یُصِیْبُ بِہٖ مَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِہٖ۝یونس نمبر۱۰۷

"کهٔ چرته تاته الله څه معمولی غوندے ضرر دراورسوي نو دا څوک نه شي لرے کولے مګر صرف الله به ئے لري کوي اوکه تاته الله څه خیر دراورسوي نو د الله دا فضل څوک روستو کولے نه شي الله تعالیٰ خیر اوشر رسوی هغه چاته چي د خپلو بندګانو نه ئے خوښه شي.

وہ کیا ہے جو نہیں ملتا خدا سے

جسے تم مانگتے ہو اولیاء سے

ددے آیت نه معلومه شوه چی بیماری،صحت،سکون،اطمینان،خفګان ټول دالله په اختیار کښي دي. بیماري تارونه او بندونه نشي څه کوؤلے.او نه شر دفع کوؤلے شي بلکه داټول دالله په حکم باندے کیږي او داسے عقیده په غیرالله ساتل شرک دے.

بله وجه داده چي نن صبا ډیر خلق زیات زور په سماع موتی باندے ورکوي چي مړي آوري نو اکثر عام خلق دا یقین اوکړي چه مړوکښي څه کمالات شته دے نو بیا خلق منتونو ته ځي او د هغوی په

نوم منختی او نذرونه پیش کوي او چی دانے پرې راوښیږی نو د قبر خاروے ئے په ځانونو راکاږی او امداد ترے طلب کوي نو دا شرک دے لکه څنګه چی بریلیان نبي علیه السلام عالم الغیب ګنړي.یا دا عقیده ساتي.

چه کله اولیاء په امداد سره رااوغوښتلے شي نودخپلو دوستانوامدادکوی اودشمنان ورله تباه کوی" نو دا عقیده ساتل د قرآن او حدیث مخالف ده او دا شرکیه عقیده ده.څوک هم چي دغیرالله نه بغیر د اسبابو داسے د مدد کولو عقیده ساتی نو هغه سړے مشرک دے.

پکارو صرف اللہ کو وہی حاضر وہی ناضر

وہی مشکل کشا سب کا وہی ہر چیز پر قادر

وہی اولاد دیتا ہے وہی حاجت روا کافی

یہ قبریں کچھ نہیں کرتی وہی ناصر وہی شافی

معزز طلباء کرام!کله چی په کتابونو کښي داسےقسمه عقیدےعوام اوګوري او طالب علمان ئےاوګوري اوواؤري نو دهغوی رُجحان قبرونواوزیارتونوطرف ته جوړ شي او بیا حاجات د غیرالله نه ، ولی، شهید نه غواړی او بغیر د اسبابو نه د هغوی نه طمع کوي.او مونږ په مانځه کښ وایو اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاکَ نَسْتَعِینُ۝چی یا الله خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا نه امداد غواړو. نو چی کله ناپوهه دجمات نه اوځی نو بیا غیر الله رامدد کوی.

بزرگوں کو مزاروں میں نہیں طاقت ذرا بھر بھی۔

اور نہ انہیں فریاد سننے کی لیاقت ذرا بھر بھی۔

په داسے عقیده قرآن مجید رد کوي. وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ یَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللهِ مَنْ لَّا یَسْتَجِیْبُ لَہٗ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَۃِ وَھُم عَنْ دُعَآءِ ھِمْ غَافِلُوْنَ ۝احقاف نمبر5

او دهغه چانه لوئی ګمراه څوک کیدے شي چي دا الله سوا هاغه څوک رابلي چي تر قیامته پورے دده وینا

دبلنے جواب نه شي ورکولے ځکه چي هغوی ددوی دامداد کولونه غافل او بے خبره دي.

خدا تجھ کو تجھ سے بھی نزدیک تر ہے۔

یہ قول خدا ہے نہ قول بشر ہے۔

وہ جو کہ رہا ہے وہ سچ ہے بلاشک

پھر اس سے تو کیوں دور سو میل پر ہے۔

ګوره الله پاک داسے په صاف انداز سره فرمائیلي دي چي مړي د دنیا والو کلام او پیغام یا هیڅ قسمه خبرے نۀ شي اوریدے او کله فرمائي **اِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوتیٰ**-چه پیغمبرﷺ ته مړو ته اوروُل نه شی کولے-

جو خود محتاج ہے دوسروں کا

بھلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا

او سورة فاطر آیت نمبر ۲۲کښی فرمائی **مَا اَنتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِی الْقُبُوْرِ** " چی ته هغه چا ته نه شي اوروُلی چي څوک قبرونو کښ دي" او په دِی کښي دِی امت ته تعلیم دے چي مړي نه آوُري. نو معلومه شوه چي څوک بغیر د اسبابو نه د ژوندو یا د مړونه امداد طلب کوي او دا عقیده ساتي چي مړی ددنیا والو کلام عادةً د هر چا او د هر ځائے نه په هر وخت کي بغیر د اسبابو هم آوري او امداد هم کولے شي نو دا عقیده د شرک ده.

اللهم حفظنا منه

باب ۳ ات په اکثریت کښی نه دے.

الحَمْدُللهِ وحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ
اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمْ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وَاِنْ تُطِعْ اَکْثَرَ مَنْ فِی الْاَرْضِ یُضِلُّوْکَ عَنْ سَبِیْلِ اللهِ (انعام آیت 115)

معزز سامعین کرام! نن سبا خلق په یو دهوکه کښ پراتهٔ دي. اوهغه داچه خلق په خپل اکثریت باندے فخر کوي. چي زمونږه ډله یعنی جماعت لوئی دے او عوام الناس ته وائي چه ډیرو پسے روان شي. اکثرفریق مخالف خلق په دی دهوکه کښي اچوي. ماچه کوم ایت مبارکه تلاوت کړو ددے ترجمه داده. " که چرته تاسو تابعداری وکړه د ډیرو هغه چا چي په زمکه کښي دي نو گمراه به کړی تاسو لره د الله جله جلاله دلارے نه.

سامعین ! دا ځکه چی خلق خپل گمان پسے روان دے او هوائے نفس پسے روان دے او د غسے ایت کریمه سورة یوسف نمبر106کښي هم الله فرمائی .

وَ مَا یُؤْمِنُ اَکْثَرُھُمْ بِاللهِ اِلَّا وَ ھُمْ مُّشْرِکُوْنَ (۱۰۶)

"ایمان نه راوړےزیات دخلقونه مگر دوی شرک کوي"مطلب دادے چه دایمان سره سره لا اله الا الله وئیلو سره سره ډیر خلق شرک کوي ډیر خلق داسے شته چی خالق،رازق،مالک،الله گنړي او په مصیبتونو کښي ورته نعرے هم وهی او ځنے عبادتونه هم کوی خو ددے باوجود هم شرک کوی لکه د الله نه سِوا نور څوک عالم الغیب مشکل کشا،دغیبي چغو آوریدو والا غیرالله گنړي. او دَ دِې عقیدے والا په دِ وخت کښ عالمانو کښ هم شته اوپه عوام الناس کښ هم شته نو ډیر خلق خو په دِې نه پوهیږي.

او په سورة الانعام نمبر۱۱۱کښ الله فرمائی اَکْثَرُھُمْ یَجْھَلُوْنَ " زیات د دے خلقونه

جا هلان دي" او کله الله فرمائی اَکْثَرُھُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ"زیات خلق نه پوهیږي"

نو د کتابُ الله نه ثابته شوه چي اکثريت حجت نه دے.

چې الله درسره مل نه وي عبدالرحمانه
که لښکرے درسره وي يک تنها ئے.

نو په ډيرو ايتونو کښ رد په هغه چا دے چې هغوی په غلطه روان دی اوبياهم په خپل اکثريت خوشحاله دي اِنَّا وَجَدْنَا اٰبَآءَنَا چی مونږه په دی طريقه خپل مشران موندلے دی.

رونړو نن باطل پرست پخپله ډله باندے دهوکه شوي دي ليکن چي کله څوک دالله په توحيد او په حق باندے کلک پاتے شوے دے نوکه هغه يو تن ولے نه دے خو الله پاک ورته ډله وائي . اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً "بے شک ابراهيم ؑ ډله وو. او دغه شان نوحؑ او د هغه تابعدار حق پرست الله بچ کړل او اکثريت د باطل پرستوالله تباه کړل. چی هغوی دۀ اکثريت دعوئ کوله نن يو دليل باطل پرستواکثريت هم جوړ کړے دے ليکن

چاروں طرف سے کانٹوں میں گِرا ہے پھول

پھر بھی ہنستا ہے عجب خوش مزاج ہے۔

په دِي پروا ه مۀکوی او نجات په اکثريت کښ نه دے بلکه حق پرستے کښ دے او خلق به الزامونه لګوی ليکن زړۀ به نه تنګوی.

ماچی قدم کیخوده په باغ دسرو ګلونو کښ
اوکړو نصيحت راته هر ګل په دِ لفظونو کښ
څه دَ ازغو مينځ کښ هميشه
تروتازه يمه
ته کړے فريادونه معمولی
امتحانونو کښ

حديث کښ رسولﷺ فرمائی (رياض الصالحين) چی په قيامت کښ به بعضے انبياء ؑ سره يو امتي وی چاسره به ډير وی چاسره به شپږکسان وی. چاسره به درے کسان وی.

کامیاب هغه دی چی هغوی دُرسته عقیده او قرآن او سنت پسے روان وی. زۀ خپل بیان په دی شعر باندے ختموم

مدعی لاکھ بُرا چاہے تو کیا ہوتا ہے

وہی ہوتا ہے جو منظور خدا ہوتا ہے.

باب ۴ حقیقت

څه دے؟

اَلْحَمْدُاللهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَ اللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْم (۳۱)العمران

وَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِی او کما قال علیہ الصلوۃ والسلام

ماچی کوم ایت اولوستلو الله پاک په هغے کښ فرمائی . " اووایه پیغمبرﷺ کۀ چرته تاسو د الله سره محبت کول غواړے نو زما تابعداري اوکړے چه الله تاسو سره محبت اوکړی او ستاسو ګنا هونه به معاف کړی او الله بخښونکی اورحم والا دے.

او رسولﷺفرمائیلی دی چي تاسو باندے زما طریقی لازمی دی.نو دَدِي ایت او حدیث نه بلکل صفا معلومه خبره ده چي نجات او کامیابی دَ رسولﷺ په اتباع کښ ده او د تابعینواوصحابووااتباع د رسولﷺ په حکم سره ده . نو ګویا چي د صحابوۇاوتابعینواتباع دحضورﷺپه اتباع کښ داخله ده.ځکه چي نبیﷺفرمائیلے دي چي غوره پیړے زما پیړے ده یعني هغه خلق چي زما په دور کښ دي بیا هغه کسان چي دوی ته نزدے وی هغه کسان چي دغے خلقو ته نزدې دی نو دا غوره دي ځکه چي دَ قرونِ ثلاثوۇ په دورکښ چرته بدعت نه وو ایجاد شوے داتول درسولﷺ د سنتوتابعداروو-

اسلام کی عظمت کے منارے ہیں صحابہ

اگر چاند محمد ﷺ تو ستارے ہیں صحابہ

ہم فخر سے کہتے ہیں ہمارے ہیں صحابہ

واللہ ہمیں جان سے پیارے ہیں صحابہ

امام ابن کثیررحمۃاللہ علیه دي سورۃ احقاف په تفسیر کښ فرمائی. اَمَّااَهْلُ السُّنَّةِ وَالْجُمَاعَةِ فَيَقُوْلُوْنَ كُلُّ قَوْلٍ وَفِعْلٍ لَمْ يَثْبُتْ عَنِ الصَّحَابَةِ فَهُدبِدْعَۃ۔" اهل سنت و الجماعت والا هغه خلق دی چي هغوی هرهغه قول اوفعل ته بدعت وائی

چی هغه د صحابوو نه نه وي ثابت" کوم خلق چی د صحابوو نه ډیر روستو په دین کښ بدعات جوړوی نو داخلق اهل السنت والا نهٔ شی کیدے.
نن ډیر خلق ځان ته اهل السنت والجماعت والا وائی او په حقیقت کښ اهل بدعت دي او عوام الناس ته دهوکه ورکوی چي مونږه دیوبندیان یو لیکن مونږه وایو

بگوش ہوش سنو ہم سنائے دیتے ہیں

جو کچھ بھی حجاب ہیں تو وہ اٹھائے دیتے ہیں۔

انشاءالله ټولے پردے به لرے کوو چی کومے پردے چی خلقو په ځانونو دَ دیوبند اچولے دی.
عوامو ته ځان دیوبندیان ښکاره کوی لیکن ټول مشن ئے دعلماءِ دیوبند خلاف دے. ددیوبند مشن خو خلق شرکیاتو ته مائله کول نه وو لکه څنګه چی دامخالفین خلقوله قبرونوته دعوت ورکوی چی مړي آوري،او داوسیله بذوات فاضله ده دااستشفاع ده.اودا مبتدعین دریمے شُمے،کلیزے ، اودادی خلاف سنت دَ ذکر مجلسونه نوداخودَدِ یوبندیت خلاف دي.

ہم آہ بھی کرتے ہیں تو ہو جاتے ہیں بدنام

وہ قتل بھی کرتے ہیں تو چرچا نہیں ہوتا۔

ته دِ تمام بدعات کوی او بیا دی هم ته دیوبندي او زه دِي ددیوبند اصل مشن چلوم او زه دِ دیوبند ي نه شم .
ابن قیم ؒ فرمائی.

اَتُحِبُّ اَ عْدَاء الْحبِیْبِ وَتَدَّعی
حُبالّٰہ ما ذاک فی امکان

ته مینه کوی دشمنانودمحبوب ﷺ سره او دعوه کوی د محبت د هغه چا چي دا ممکن نه ده.
نو خلقو نن ځان باندے څادر د دیوبند اچولے دے او کوی بدعات نو دا مشن ددیوبند

بلکل نه وو څه چې دوی کوی . خپل بیان زه په دِ شعر ختموم .

توحید کو سمجھا نہیں مفتی بنا تو کیا ہوا

بدعت سے بے زاری نہیں صوفی بنا تو کیا ہوا۔

باب ۵

بدعت څه ته وائی.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَ اَضَلَّهُ اللهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّ خَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَ قَلْبِهٖ وَ جَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً سورة الجاثیہ نمبر۲۳

وَقَالَ النَّبِىُّ صَلَى الله عليہ وسلم مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ اَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْاِسْلَامِ اوکما قالؐ ۝

توحید کو سمجھا نہیں مفتی بنا تو کیا ہوا

بدعت سے بے زاری نہیں صوفی بنا تو کیا ہوا۔

معزز سامعین کرام! په د ایت مبارکه الله تعالی فرمائی" ایا ته گورے ته هغه څوک چه هغه خپل خواهش خپل معبود جوړ کړے دے او هغه سره د علم او پوهے نه الله گمراه کړے دے او دهغه په غوږ ونو او زړه بانده الله مهر لگولے دے او په سترگو ئے ورله پردے لگولے دي نو پس څوک داسے کس ته هدایت کولے شي بغیر دالله جلا شانه نه.

طلباءِ کرام! بدعت هم دې ته وائی چی یو انسان د شریعت د عمل نه علاوه د خپل زړ ه مرضئ پسے روان وی او چه کوم یو کار ورته ښه ښکاری نو هغه کوی. اگر چه شریعت پرې څه حکم نه وي کړےخو دغه سړے دا عمل کول ثواب گنړی او دا ورته ښه ښکاري.

شیخ القران رحمة الله علیه به وئیل.

ولی گڼوي بدعت سنت د مجتبٰی سره

مخ به لگوی سبا قیامت کښ مصطفې سره

اول د بدعت دوه قسمه دی.

1 . بدعت لغوی او دهغے تحقیق:.

1 . امام ابوالفتح ناصربن عبدالسیدالمطرزی رحمة الله علیه الحنفی(جلد 30/1) چه بدعت ابتداع یعنی نوی څیز ایجاد کول، یعنی دین کښ کمی یا زیاتے کول.

2. امام رازی ؒلیکي چه بدعت د پوره والی ددین نه روستو دنوی کار په دین کښ پیدا کولو ته وائی. مختارالصحاح صفحه نمبر280

3. فیروزاللغات ص194 بانده لیکي په دین کښ څه نوی څیزراوستل یا رسم راوستل.

مصباح الغات ص 27 بانده د بدعت دا معنی لیکي چه بغیر د نمونی نه جوړ شوے څیز په دین کښ نوی رسم، هغه عقیده یا عمل چه د هغے څه اصل په قرون ثلٰثه کښ موجود نه وو . نو دِې ته بدعت وائی.

2. بدعت شر عیه او دهغے تحقیق

د شرعي بدعت په باره کښ د علماء تحقیق.

1. علامه بدرالدین عینی الحنفی ؒلیکي چه بدعت په اصل کښ داسے نوی ایجاد(جوړ) شوی څیز ته وائی. چه دحضورﷺ په زمانه کښ نه وو (عمدة القاری جلد ۵ ص 254)

2. حافظ ابن حجر ؒوائی بدعت هغه څیز ته وائی چي هغه بغیر د سابقه نمونی نه ایجاد کړے شوی وی اوپه شریعت کښ دسنت په مقابله کښ وي په هر حال کښ دا مذموم وی (فتح الباری جلد 4ص219)

3. حکیم الامّتْ اشرف علی تهانوی ؒلیکي چه دنوی خبرے نه مراد دادے چه هغه د شریعت د یو دلیل (قرآن) سنت، اجماع، قیاس، نه ثابت نه وی او داسې خبری په دین کښ داخلولو ته په شریعت کښ بدعت وائی.

او الحمد الله دا زمونږ د جماعت مشن هم دے چي (قرآن اوسنت په لاره روان دے په نوم د پنجپیرې یادیرې مشن دۀ دیوبند چلوی.

دا د اشاعت څوانان توحید سنت بانده خپل سر ورکوی.

درسول الله ﷺ حديث مبارک دے . مَن اَحْدَثَ فِیْ اَمْرِنَا هٰذامَا لَيْسَ مِنْہٗ فَہُوَرَدٌّ (مسلم /بخاري)

"چاچی زمونږه په دي معامله يعنی دين کښ نوي خبره راويستله .کومه چی ددی نه نه وی نو هغه مردوده ده.

نو په شريعت کښ د ځان نه نوئے کار کول اوثواب ئے ګنړل بدعت دے.

دويم قسم دبدعت لغويه پنځه قسمونه دي.

١.واجب ٢. مندوب ٣. مکروه ۴. مباح ۵. حرام (لمعات التنقيح جلد 257/1)

1. بدعت واجبه:. يعنی هغه کار چه هغے سره ددين حفاظت کيږي مثلاً علم النحواوغيره. بعضے مبتدعين داعتراض په شکل وائي چی بيا خو نحوصرف وئيل هم بدعت دےخودا بدعت نه دے ځکه چی دا بعض قواعد دنحو ے صحابوؤ ليکلي وو. او بل دا چی نن که دِي له زده کول لا زم کړی شوی دی نو په دِی عرض سره چے قرآن او حديث باندے علم حاصل شی.
2. بدعت مندوبه:. يعنی هغه کار چي د هغے نه بغير هم دين حاصيليدلی شی ليکن هغه خاص ددين حصول د پاره وي مثلاً مدرسے جوړول (اوددے دَ جوړولوتائيدداصحاب صفوونه شوے دے چی هغوی خاص دعلم حصول دپاره راغلے وواو مسجد کښ وو)
3. مکروه بدعت:. يعنی د اختر مانځه نه مخکښ نفل کول، او جوماتونه ښائسته کول.
4. مباح بدعت:. يعنی د خوراک څخاک په څيزونوکښ فراخی کول او هغه ټول مباحات کښ چي د نبیﷺپه زمانه کښ نه وو.
5. حرام بدعت:. يعنی څومره اهل بدعت چی بدعت شرعيه کوی يعنی په دين کښ د ثواب کارګنړل هغه چی هغه د نبیﷺپه زمانه کښ نه وو نو هغه حرام دی.

لمعات التنقيح(جلد 1/ 257)

نو دبدعت نه اجتناب پکار دے.

بندر کے نچانے سے قلندر نہیں بنتا

تسبیح کے پھیرانے سے پیغمبر نہیں بنتا

واطالب علمانو ځان دَۀ دِې بدعاتو نه اوساتی.

رَأَيْتُ الذنوب تميت القلوب

وقد يورث الذل اِدْمَانُها

اولیدل ماګناهونه چی مړه کوی زړونولره

اوهمیش ګیری کول په ګناهونو باندے ذلت راولی

نو بدعات نه پریخودل سبب د ذلت دے.

بــا ب ۶ مړی عادةً دَدنیا والو خبري نه آوري

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ مَا اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِی الْقُبُوْرِ(سورۃ الفاطر23)

جو خود محتاج ہے دوسروں کا

بھلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا۔

دآیت ترجمہ:۔ پیغمبرﷺ تہ هغه چا ته نه شی اوروِلی چی هغه په قبرونو کښ دی.
د مړو په نه آورید وباندے قرآن کریم ډیر ایتونه راغلي دی.

زندگی میں ہر ولی محتاج اک انسان تھا۔

اب جو وہ مرا ہے تو بلکل خدا بنتا نہیں۔

امـام آلـوسی رحمةالله علیـه دسورة احقـاف پـه ایـت نـمبـر۵کـښ فـرمـائـی وَهُمْ عَنْ دُعَآ ئِهِمْ غَافِلُوْنَ

هغوی نـه آوري او نـه پیـژنـي کچرےکـانـړې رامـددکـړے شو نـو هغه نـه آوریـدل خـو ظاهر دی او کـه چرتـه (ذوی الـعقـول) دالله مقـرب او مقـبـول بـنـدګـان رامـدد کـړے شـول نـوهغوی ځکه نـه آوري چی ددے عالَـم نـه تـلـی دی.

اَلْمِیِّتُ لاَ یَسْمَعُ وَلاَ یُدْرِکُ شَیْاً

مړے نه آوري اونه ادراک کولے شي (تفسیر کبیر للرازی 104/ ۳)

باز آنا در بدر پھرنے سے تم کو ہے ضرر

اے چلاسی رب وہ ہے جو دینے سے تھکتا نہیں۔

اَلْمَیِّتُ لَا یَسْمَعُ وَلَا یَفْهَمُ

مـړے نـه آوری او نـه پـوهیږي (فـتح الـقـدیـر69/1 -142-446)

وَلَا نِزَاعَ فِی اَنَّ الْمَیِّتَ لَا یَسْمَعُ " اوپـه د کښ هیڅ جګـره نـشته چی مـړی نـه آوري. (شرح المقاصد 22/2)

شاه ولـي الله رحمة الله علیـه پـه اِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتیٰ بـانـدے فـرمـائـي د آوریـدوپـه معـامـلـه کښ مـړاوکـونـړ بـرابـر دے. تـحفـة الـمؤحـدین صفحه 23

حضرت گنگوهی رحمةالله علیه فرمائی چي دحضرت عائشے رضی الله عنها او ابن عباس ؓ او امام ابوحنیفه ؒ هم دا مسلک دےچی مړی نه آوري ځکه چی اِنَّکَ لَا تُسْمَعُ الْمَوْتی "بے شکه ته مړو ته نشی اوروليے".

الله تعالٰی کفارپه نه آوریدوکښ د مړوسره مشابه کړي دی نو ددې نه دا معلومه شوه چی مړی نه آورې کنی نو بیا تشبیه صحیح نه راځی. الکوکب الدری جلد 197/2.

مولانا مفتی عزیز الرحمن دیوبندی ؒ فرمائی سماع موتی اختلافی مسئله ده (په مینځ د مذاهبو اربعه وو کښ) احناف دَ مړو دنه آوریدو قائل دي. او د عائشے رضی الله عنها هم دا مسلک دے او د قرآن کریم ایتونه په دې باندے دلا ئیل دی چی مړي نه آوري.

فتاوٰی دارالعلوم دیوبند 441/5

انور شاه کشمیری ؒ فرمائی اَلْمَيِّتُ فَلاَ يَسْمَعُ فِیْ کُلِّ وَقْتٍ "مړے هر وخت نه آوري" فیض الباری 91/4

کوم حدیث چی قائلین د سماع والا په دلیل کښ پیش کوی چي مړے د خلقو د خپو کشار آوری دهغے خلقو چی دفن کولو دپاره راغلے وی (حدیث د قرع النعال)

نو ددے جواب دادے چی د کنایه ده د فرشتو د ذر راتللو نه ددے نه حقیقتاً د مړی آوریدل ثابت نه دی . الکوکب لدری 197/2

نیند میں سنتا نہیں تھا سب کو یہ معلوم ہے

جو بھی تم چاہو تمہاری بات وہ سنتا نہیں

او بیا رشید احمد گنگوهی رحمة الله علیه په حدیث د کلیب بدر باندے هم گفتگو کوی او فرمائی چه داپه سماع باندےدلیل نشی کیدلے ځکه چی ظاهره خبره دنه آوریدوده اودا زمونږه په نزد صحیح

ده . الكوكب الدری 198/2. شرح مقاصد جلد 123/2
فتح القدير 446/1
شامی 343/3 لطائف رشيد يه 15
تاليفات رشيديه 676 الكوكب الدری 319/1
كشاف 20/2 جامع البيان 209/11
مدارك 9/2 ابن جرير 185/7 تفسير عثمانی559
كشف الرحمن ص 696 معارف القرآن 329/7
بيان القرآن او ددے نه علاوه هم دا حنافو تفاسير او كتابونه په دِ دلالت كوی چی مړی نه آوری.
په حنفی مسلك كښ دا خبره مسلمه ده چی مړی نه آوری نو د مبتدعينو نه دلته تپوس اُوكه چی تاسو په كوم مسلك كښ ئے؟ زه خپل بيان په دِ شعر سره ختموم

اولیاء کی قبر سے کوئی بھی پاتا نہیں
کر یقین کوئی بھی جز ذات خدا داتا نہیں۔

باب ۷ د سلام معانی او مطلب

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَقُلْ جَآءَالْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا بنی اسرائیل (۸۱)

نہ خنجر اٹھے گا نہ تلوار انکی

یہ بازو ہمارے آزمائے ہوئے ہیں۔

معزز طلباءِ کرام! چی کوم عام او خواص د سلام په معنی نه پوهیږی نو هغوی خلقو ته په ذهنونو کښ دا خبره اچوی چه ګوره مړی خو څکه آوری چی مونږه پري سلامونه اچوؤ نو محترم طلباءِ کرام!

ابتداءً خو دا خبره لا زمی ده چی د سلام په معنی پوهه حاصله شی په قرآن مجید کښ الله رب العزت سلام په څو معنو باندے فرمائیلے دے. چی په خپل خپل ځائے کښ سلام جدا جدا معنی ورکوی دمعروف سلام نه علاوه د سلام نورے مختلفے معانی راغلے دي.

1. سلام ترهیب

وَ اِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ. انعام نمبر54

کله چی تاته ایمان والاراشی فقل سلام نواووایه سلامتیا دے وے په تاسو، دلته سلام په معنی داستقبال اوهر کلے دے.

2. سلام دعائیه

سَلَامٌ عَلَی نُوْحٍ، سَلَامٌ عَلٰی مُوْسٰی وَهٰرُوْنَ(سورۃ صفّٰت) او دغسے نور ګنړ ایتونه دي نو دِی کښ سلام په معنی ددعا باندے راغلے دے.

3. د جاهلانو او شریانو د بحث نه چهپ کیدلو دپاره وَاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا فرقان آیت نمبر۶۳

4. حضرت مولانا مفتی رشید احمد لدهیانوی فرمائی چه صحیح روایاتو کښ صرف السلام علیکم وئیلو حکم راغلے دے او اګر چه مړی نه آوری او نه جواب ورکولے شی لیکن دا سلام اچول صرف د زیارت کونکی د پاره د عبرت دوجے سلام کول مشروع دی.

ابو الحسن الحنفی

نہ مردہ ہیچ بیند حال زندہ

نشوداو گھے اقوال زندہ

هيڅ يو سړے د هيڅ ژوندی حال نه وينی
او نه هغه د ژوند و خبرے آوری.
نو سلام كول قبر باندے مړے ته دعا ده هغه ئے نه آوری.

علماءِ ديوبند دنفی سماع باره كښ "مصدقه كشف مغالطات په مسئله دسماع اموات كښ په دِ تفصيلی كتاب ليكلے دے او هغوی ليكلی دی چی قبرستان ته د تللو او په قبرونو سلام كول په اصل كښ دَ مړو دپاره مغفرت غوښتل دی.او سلام اچول ورته صرف دعاده او نه دهغوی اوريدل شرط دے بلكه دَدِي دۀ سلام دَوجے الله تعالی مړو ته معافی كوی او رحمتونه به په راوليږی.

كشف مغالطات صفحه نمبر112

اوهم په دِكشف مغالطات كښ ليكی چی په قبر د سلام اچولونه دا دليل نيول چی مړی آوری نو دا بريليانه انداز دے. معززو سامعينو ددے نه علاوه نورهم ډير دلا ئل او حواله جات داسی دی چی مړی نه آوری ليكن دنن دور مبتد عين د مړو قوتونه بيانوی او خلقو كښ افراط تفريط پيدا كوی او حق پرست بدناموي.

حاسد حسد کے آگ میں خود ہی جلا گئے

وہ شمع کیا بجھے گا جسے روشن خدا کرے۔

د خپل حسد د وجے نه ځان او خلق جهنم طرف ته بوځی او د غير و قوتونه بيا نوی.

شيخ عبد القادر جيلانی ؒفرمائي

لَقَدْ اَسْمَعْتَ لَوْ نَا دَيْتَ حَيًّا

يقيناً ته به واورى خبرے لره که تا آواز ژوندى ته کړے وو.
وَلٰكِنْ لَّا حَيَاةَ لِمَنْ تُنَادِىْ
ليکن ژوند نشته دهغه چا دپاره چی ته ورته چغی وهی.

دکتاب د ملاويدو دپاره لاندى نمبروباندي رابطه وکړے.
موبائل +92-345-8072683
اي ميل : microsbn@gmail.com

seenatechnical@gmail.com
داکتاب تاسودويب سائټ نه هم داؤن لوډ کولے شے.ويب سائټ لنک لاندى ورکړے شوے دے.
www.seenatechnical.blogspot.com

باب ۸ د دعا غوښتلو طريقه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ قَالَ اللهُ تَعَالٰی اُدْعُوْنِی اَسْتَجِبْ لَكُمْ سورة

معززو طلباءِ كرام! الله رب العزت چې خپل بنده پيدا كړے دے نو ورته ئے داهم خودلی دي چې عاجزی به چاته كوی او امداد به د چا نه غواړی نو الله فرمائی "زما نه اوغواړے زه به ستاسو دعاګانے قبولے كړم"

اَللّٰهُ يَغْضَبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَہٗ
وَبَنِی اٰدَمَ حِيْنَ يُسْاَلُ يُغْضَبُ

دالله نه چې سوال نه كوې نو الله خفه كيږی او دبنيادم نه چې كله سوال كوی نو بنيادم خفه كيږی. الله فرمائی چې كله سوال كوی نو زما ښائسته ښائسته نومونه دی په هغے سره څما نه سوال كوه.

وَ لِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی فَادْعُوْهُ بِهَا۪ وَ ذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِیْۤ اَسْمَآىِٕهٖ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۸۰)(اعراف)

"د الله دپاره نومونه ښائسته ښائسته دی پس رابلے الله تعالی په دې نومونو سره او پريږدے هغه خلق چې غلط لاراختيار وې دالله په نومونوكښ سَيَجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنٌ زرده چې دوی ته به سزا وركړی شی ددوی دعملونو

فَلا تدعوا بأمر قط غيره
على باب الالہ لكم نصيب
"چرےمه رامدد كوی غيرالله په خپلو حاجاتو كښ"

ځكه چې دالله په دربار كښ ستاسو د پاره هم د بلنی برخه شته دے'' معززطلباءِ كرام! الله رب العزت قرآن كريم كښ د ډيرو انبياءدعاګانے ذكر كوی او مونږه ته ئے تعليم راكړے دے چې تاسوهم دنورونبيانو په شان دعاګانے غواړے.
ابوالبشرحضرت آدم عليه السلام د پريشانی په وخت كښ دعاګانے غواړی.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَاۤ اَنْفُسَنَا٘ وَ اِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (۲۳)اعراف

نوح علیه السلام دعا غواړی براه راست دالله نه رِبِّ اَنِّیْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ۔ قمر10
ایوب علیہ السلام۔وَاَیُّوْبَ اِذْ نَادَیٰ رَبَّہٗ أَنِّی مَسَّنِیَ الضَّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ۔ (انبیاء 83)
یونس علیہ السلام: لَا اِلٰہَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحٰنَکَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ (انبیاء 87)
او ددے نه علاوه د ډیرو انبیا ء ددعا گانو تذکره الله تعالی کړے ده. لیکن دا ټول انبیاء دالله نه براه راست دعا غواړي او د هیچا وسیله او برکت یا جاه اومرتبه الله تعالی ته نه پیش کوی.بلکه بے دَ واسطے نه خپله عاجزی الله ته پیش کوی څکه چی الله سورة البقرة کښ فرمائی فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَادَعَانِ "بے شکه زه نزدے یم او قبلوم دعا ددعا کونکی کله چی زما نه دعا غواړی.
اوسورة ق کښ الله فرمائی نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِیْد" زه دے انسان ته د مرے درگ نه هم زیاد نزدے یم"

څه حاجت دے چی د بل په درئے غواړم
په خپل کور کښ هم کناردے رب زما

نو چی الله دومره زیات خپل بنده ته نزدے دے نو بیا څنگه ورله فریق مخالف وسیلے جوړوی اووائی چی گوره جج د پاره خلق وکیل وسیله جوړوی او د چهت ختلو دپاره پونړےوسیله ده، نوالله ته مونږه نیک بنده وسیله کوو. چی دَ هغه په برکت ترے مونږه سوال کوؤ دادمخالفینو دلیل دے.

خدا گفتا د من چو من قریبم

وبابالم یقل انی قریب

الله فرمائی چی زمانه اوغواړےزه نزدے یم. او بابا نه دی وئیلے چی زه نزدے یم نو ته ترے تپوس اوکه چی کله الله د مرے د رگ نه زیات نزدے دے نو په مرے کښ به څنگه پونړے لگوی.
فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَال ۝ داسے مثالو نه دالله دپاره مه بیانوی.

زه خپل بیان په دی شعر ختموم
نحن اقرب گفت من حبل الورید

تو فگندہ تیرہ فطرت رابعید

باب ۹ دوسیلے معنی او مطلب

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃِوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمْ۝بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝یٰاَیُّہَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْااتَّقُوااللّٰہَ وَابْتَغُوْ اِلَیْہِ الْوَسِیْلَۃَ مائدۃ 35

معززمؤحدین طلباءکرام! نن دوسیلے بذوات فاضلے مسئلے له خلقو ډیر زور ورکړے دے لیکن مونږه د قرآن اوحدیث په رنړا کښ ګورو چی وسیله څه ته وائی. او کوم وسیله جائز ده او کومه نه ده جائز.

بعضے حضرات د وسیلے په معنی نه پوهیږي نو چه کله مطلق لفظ د وسیلے واوری نو خلقو ته وائي چه اوګوره وسیله خو دقرآن نه ثابته ده او اشاعت والا ئے نه منی. نو دِ نا پو هه ته پته نشته دی وسیله خو بے شکه د قرآن نه ثابته ده لیکن کومه وسیله؟ قرآن پاک کښ صریحی دوه ایاتونه دی چه د وسیلے لفظ پکښ ذکر دے لیکن یو مفسر هم ددینه وسیله باالذوات نه ده اغستے لکه څنګه چی دا حضرات نن هر ځائے کښ دوسیلے بالذوات فاضله چغے وهی او د مړو برکتونه یادوی "چی په برکت د فلانکی بابا او په برکت د فلانکی پیر صاحب وغیره باندی.

علامه ابن قیم : . لَیْسَ التوسل والتقرب بالهوی
بل التقی والبر والا حسان

نه ده وسیله او نزدیکت په خوهشاتو
بلکه وسیله ﷲ ته پرهیزګاری اونیکي او احسان دے.

هذا کتاب الله یفصل بیننا
هل جآء فیه توسلوا بفلان

دا دﷲ کتاب فیصله کوی زمونږه په مینځ کښ
ایا راغلي دی دِ کتاب کښ چی په فلانکی باندے وسیله اونیسی؟

ﷲ رب العزت سورة المائدة ایت نمبر35کښ فرمائی " اے ایمان والو دﷲ نه اویریږی اولټوی ﷲ ته وسیله (نزدیکت)

⌘ امام راغب اصفهانی ؒ فرمائی دوسیلے حقیقت دادے چه خپل نیک عمل اوعلم اوکوشش الله ته وسیله کوه دالله تعالیٰ ته وسیله او نزدے والی دے (مفردات صفحه نمبر545)

⌘ الله تعالٰی ته وسیله نیول دادی چی نیک عمل باندے الله ته قرب حاصل کړی(منتهی الارب جلد 4ص413)

⌘ حافظ ابن کثیر دَابن عباس ؓ نه روایت کوی چی دوسیلے معنی داده چی نزدیکت حاصل شی الله تعالی ته او بیا فرمائی چی د ائمو وو اود مفسر ینو په دِ کښ هډو اختلاف نشته چی وسیله هغے څیز ته وائې چی په هغے باندے الله ته نزدے والی حاصیلیږی داد وسیلے معنی ده. (ابن کثیر جلد 2ص52)

⌘ اخون درویزه بابارحمةالله علیه فرمائی.

دا ایت گوره راغلے دے له خدایه
وسیله ورته اُغواړی طالبانو
چی ایمان وی اویریږی له خدایه
وسیله وی خدائے ته څه ده که پوهیږی
فرائض په ځائے کوئی
اودحرامو بیرته کیږی
دا معنی مې په تفسیر بیضاوی کښ ده لیدلی.
باوراوکی اے خلقو ما په سترگو ده لیدلې
ولی ډیر گمراهان وائی ماددوی دی اوریدلی
وسیله وی خدائے ته پیر دے خلق ځکه پسے زغلی

گمراهان دِ شرمنده شی چی معنی بدلوینه
د تفسیر نه خبرنه دی غلط ولې دوي خاینه

ددے ایت په تفسیر کښ د مفسرینوڅو حوالے مونږه بفضل الله تعالی پیش کوو چی هغوی وائی دوسیلےنه مراد الله ته نزدیکت حاصلول دی په عمل سره او یو مفسر هم دانه دی وئیلے چی د وسیلےنه مراد بالذوات یعنی د چا بدن او ذات وسیله کول دی (مدارک جلد1 صفحه نمبر282)
تفسیر کبیر11 جلد ص 220. غرائب القرآن جلد 6 ص89
ابو مسعود جلد 3ص 32 السراج المنیرجلد1/373
(الدرالمنثور جلد2-280) تفسیر کشاف جلد 336/1
البحرالمحیط جلد 3-460 فتح القدیرجلد38/2
روح المعانی 124/6 قرطبی 154/6
دامفسرین ټول دوسیلے نه مراد نیک عمل باندے الله ته نزدیکت مراد اخلی.
نوټ:. نو معلومه شوه چی فریق مخالف ایاتو نه صحیح وائي او معنی مقصد ئے دځان نه جوړوی په قرآن مجید کښ دوسیلے متعلق دویم ایت او دهغے لاندے دمفسرینو اقوال اوګورے.
أُوْلٰئِکَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ یَبْتَغُوْنَ اِلٰی رَبِّهِمْ الْوَسِیْلَةَ اَیُّهُمْ اَقْرَبْ وَیَرْجُوْنَ رَحْمَتَہٗ (بنی اسرائیل)۵۷
ابن کثیر ؒدمجاهد ؒنه په دِقول دالله کښ " یَبْتَغُوْنَاِلٰی ربِّهِمُ الْوَسِیْلَةَ " کښ چی هغوی به عیسی ابن مریم ؑ ، عزیر ؑ او ملائیک او شمس او قمر رامدد کول-
او بیا وائی الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ المَلَائِکة (ابن کثیر جلد 3ص 48)
روح المعانی جلد 5ص /104
الدراالمنثور الیسیوطی جلد 189/4
قرطبی 189/10 امام رازی ؒ213/20
البحرالمحیط51/1
ابن کثیر جلد 3ص 48 خازن 134/4
ددے عبارتونونه او حواله جاتو نه دامعلومه ده چی مشرکانو به د غیرالله عبادت کو و او غیرالله به

ئے مالک د نفعے او نقصان گنړلو او نیکان خلق به ئے الله تعالی ته وسیله کول او که چا به ورته اوئیل چې دا سے مهٔ کوی نو جواب کښ به ئے وئیل هٰؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَاللهِ دا خلق زمونږه سفارشیان دی.
لکه څنګه چې دا اُوسنی بعضے ناپوهه خلق وائی الله دِ مونږ دداسے غلط عقیدے نه اوساتي.

باب ۱۰ وسیله نیول په ذوات فاضله باندے څنګه دی؟

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمِ۝بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝وَ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِہٖٓ اَوْلِیَآءَ مَا نَعْبُدُھُمْ اِلَّا لِیُقَرِّبُوْنَآ اِلَی اللّٰهِ زُلْفٰیؕ (الزمرنمبر۳)

توحید کو سمجھا نہیں مفتی بنا تو کیا ہوا

بدعت سے بے زاری نہیں صوفی بنا کیا ہوا

معزز طلباءِ کرام!
کله به چه مشرکانو بتان رامدد کول نو هغوي به وئیل چی مونږه دوی ته وایو او دوی ئے الله جلا شانه ته وائی نوا لله تعالی دهغوی هغه غلطه عقیده سورة زمر ایت 3کښ ذکر کوی.
ترجمه" هغه کسان چه هغوی دالله نه علاوه نورخلق مددګاران نیسی (نوددوی دا خیال دے)چه مونږ ددوی عبادت نۀ کوو مګر ددے دپاره چی مونږه الله ته په درجه کښ نزدے کښی.
مشرکانو به دا عقیده ساتله چی اصل کښ دا عبادت خو د الله دپاره مونږ کوو لیکن مونږه ئے دِ زیارتونو او بتانو ته وایو او دوی ئے الله تعالی وائی ته او مونږه الله ته په درجه کښ نزدی کوی.نو معلومه شوه چی د چاذات وسیله کول چی هغه وفات شوی وی نو دا عقیده دقرآن خلاف ده.

ہر چیز مسبب سبب سے مانگ

ادب سے مانگ منت سے مانگ

دوسیلے بالذوات فاضله (قبرونو کښ نیکانو) باندے وسیله نیول درست نه دی.
دعلماءِ دیوبندوحوالے لاندے دی مفتی اعظم هند نه سوال شو ے دے نو هغه وائي چه په بِحقِ النبی واله الامجاد وئیل ناجائز دی کفایت المفتی56/2 امام الهند.

مولانا رشید احمد گنګوهي ؒنه سوال اوجواب

- سوال :.دعا کښ په حق دولی الله وئیل ثابت دی یا نهٔ دی ثابت بعض محدثین دا وئیل منع کوی ددے څهٔ وجه ؟
- جواب:. معتزله او شیعه حق تعالی باندے حق لازم کنړی او هغوی د بحق فلان دغه معنی مراد اخلی نو ددے وجے نه دا معنی د شیعه ګانو مشابه راځی نو فقهاء او محدثین داوئیل منع کوی چی د روا فضو سره یو شان والی رانشی (فتاوی رشید یه 240)

نو معلومه شوه چی په حق دولی ، نبی ، پیر وغیره وئیل جائز نه دی.

اولیاء کی قبر سے کوئی بھی کچھ پاتا نہیں

کر یقین کوئی بھی جز خدا داتا نہیں۔

زندگی میں ہر ولی محتاج اک انسان تھا

جاہلوں: وہ جب مرا ہے اب خدا بنتا نہیں

- اشرف علی تهانوی دیوبندی ؒپه مسائل السلوک دبیان القرآن کښ ذکرکړی دی" چی ددې ایت د سورة المائدے دتوسل په ذوات فاضله سره هیڅ تعلق نشته
- دمولانا سید نورالحسن بخاری قول دے او ددے تنظیم اهل السنت صدر هم دے دِ په خپل کتاب "توحید اوشرک کي حقیقت صفحه نمبر 285-286 کښ لیکلی چی مسنون او ماثوره دعاګانو کښ براه راست د الله نه دعا غوښتل دی. او صحابه ؓ حتی چه اهل بیت رسولﷺ امهات المؤمنین او خاندان دَ رسولﷺذات په طور دَوسیلے نه وو پیش کړے. او دغه شان سلف صالحین او آئمه دین عمل اوقول نه هم

داولیاء اوصلحاء دذات د وسیلے څه ثبوت نه ملاویږی.

اکثر مخالفین په مونږ باندے دالزام لګوی چی د دوی وسیله نه منی. الحمد لله مونږه هغه ټول اقسام شرعی دوسیلے منو لیکن کومه وسیله چی مبتدعینود ځان نه جوړه کړے ده نو هغه نه منو دوسیلے څه اقسام دی چی جائز دی او قرآن اوسنت نه ثابت دی هغه لاندے ذکر کوو.

1. وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی فَادْعُوْهُ بِهَا (اعراف180)
وسیله نیول دا لله په نومونه باندے لکه یا الله ، یا رحمن یا کریم وغیره په دِ سره دعا کول.

2. وسیله په خپل عاجزے سره لکه په دعا د آدمؑ اوحواؑ سره سورة اعراف23کښ اوپه دعا د ذکریاؑ سره په سورت مریم ایت4کښ او په دعا د صدیقؓ بخاری ذکر کړے ده.

3. وسیله په ایمان او اعمال صالحوؤسره په دعا کښ واستعینو بالصبر والصلوة.

4. ژوندی انسان ته وئیل چی دعا راته کوه دا هم دقرآن او سنت نه ثابت دی.

5. وسیله نیول په صلوة یعنی درود وئیلو سره په رسولﷺباندے چی اول درود شرعی اوائي اوبیا دعا اوغواړی لکه ترمذی او ابو داؤد کښ حدیث دے.زمونږ ټولے هغه شرعی وسیلے منو کومے چی دشریعت نه ثابتِ دی.

باب ۱۱ د غیر شرعی وسیلے اقسام

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمْ۝بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اُدْعُوْنِیْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ۝

ترجمه :. زما نه دعا اوغواړے زه به ستاسو قبولتیا اوکړم"

مغزز سامعین! قرآن اوحدیث مونږ ته طریقه دَ الله نه د غوښتلو خودلے ده. عبدالرحمن بابا وائي.

څه حاجت دے چې د بل په درئے غواړم
په خپل کور کښ هم کنار دے رب زما

واه ناپوهه انسانه کوم کوم درگاهونه به گورے راشه دَ حق پرستو نه د قرآن او سنت په رنړه کښ ددعا غوښتلو طریقه ذده کړه.

❖ په غیر شرعیه اقسامو کښ اول قسم دوسیلے

1. په دعا کښ په حق دفلاني او جاه ، حرمت برکت ، وسیله یا طفیل دَ هغه وئیل ناجائزه دي. دحق ، جاه په باره کښ چه کوم احادیث دی موضوعی یا ضعیف دی.نو معلومه شوه چی په دِالفاظو سره دعا کول بدعت دے او ممنوع دی شرح عقیدة الطحاوی ص 261

2. دعا غوښتل دیوخاص قبر په خواه کښ په دےعقیدے سره چی دعا ددے قبر په خوا کښ خه قبلیږی. داهم بدعت دے او دۀ اسبابو دشرک نه دے ځکه چی د قبر په خواه کښ ددعا د قبلیدو دَپاره هیڅ دلیل شرعی نشته. په احادیثو کښ چی کوم مقامات ددعادقبلیدوراغلی دی نوهغه مسجدملتزم د کعبے ، حجر اسود ، طواف ، صفا ، مروه ، مزدلفه ،عرفات او مَنٰی دی چی هغے کښ قبر نه دے ذکر . الوسی ؒجلد 5ص125کښ وئیلے دی. هر کله چی څوک د مړو یا غائب نه دعا غواړی نو دادهغه بدعاتونه دی چی دسلف نه هیچا نه دی کړی او مجموعة الفتاوی مولانا

عبد الحئ جلد 338/1 جلاء العينين495 فتاوی رشيد په صفحه 59 کښ دوی هم دا وائي.

3. بل قسم غير شرعی وسيله داده چی د قبر په خواه کښ قبر والا ته خطاب کوی چی ځما فلانے حاجت پوره کړه يا فلانے غم لرے کړه نو دا ښکاره شرک دے . (صيانة الانسان 7جلد ص 128 الوسی ؒ)

جو خود ہے محتاج دوسروں کا

بھلا اس سے مدد مانگنا ہے کیا۔

اغاثة اللهفان د ابن قيم ؒ جلد ۱ ص 217 چی دِ ته علماء شر ک وائي.

4. د توسل غير مشروع دابل قسم دے چه آواز کوی يو غائب ته (بغير د اسبابونه) يا مړی ته چه اے فلانی ولی يا پيره ځما دپاره دالله تعالی نه دعا اوغواړه په دے عقيدے سره چی هغه په غيبوباندےعلم لری او د هر ځائے نه آورې او دعا هم غوښتلےشی نودا شرک صريحی دے ځکه چی عالم الغيب،او د هر ځائے نه اوريدو والا صرف يو الله تعالی دے او په ډيرو ايتونو کښ الله داعالم بکل شیءٍ هُوَاللهُ مسئله بيان کړے ده . سورة نمل ايت نمبر65

انعام ايت نمبر50 اعراف ايت نمبر188

وہی خالق وہی مالک وہی مشکل کشا سب کا

وہی ایک غوث اعظم ہے یہی للکار دیتا جا

جو جلتے ہیں تو جلنے دو جو ہے توحید کے دشمن

ندائے وحدت کی قرآن سے گلی کوچوں میں دیتا جا۔

باب ۱۲ د قبر ژوند ثنګه دے.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ اَمْوَاتٌ غَیْرُ اَحْیَآءٍ وَمَایَشْعُرُوْنَ اَیَّانَ یُبْعَثُوْنَ ۝

"مړه دی ،نه دی ژوندی او دوی ته پته هم نشته چی کله به دقبرونو نه راپورته کولے شی .

کله چی یوانسان ددے دنیا نه لاړ شی وفات شی نو بیا دهغهٔ ژوند ددنیا په شان نه وی بلکه هغه د عالم برزخ په ژوند باندے ژوندے وی او دا ژوند ددنیا د ژوند نه بلکل مختلف وی.

جائے گا جب جہاں سے کچھ بھی نہ پاس ہو گا۔

دو گز کفن کا ٹکڑا تیرا لباس ہو گا۔

كُلُّ نَفْس ذائقة الْموت (العمران185)

هر یو روح والا ثیز باندے به مرګ راځی.

بل الله فرمائی دا مرګ نه روستو کیدے شی او نه مخکښ کیدے شی یو ساعت.

اوسوة البقره کښ فرمائی چی دمرګ نه روستو ژوند داسے دے ولكن لا تشعرون چی تاسو پرې نه پوهیږی لیکن دا فریق مخالف وائې چه نا بلکه دا انسان قبر کښ بیا ژوندے کیږی او دِې کښ ددنیا پشان ناست وی رحمت کائنات ددی کتاب دےپه صفحه نمبر72لیکلی او دغه شان 130کښ هم دا وائې چی کفن چور قبر کهلاؤ کړو نو مړے خو دے قبر کښ ژوندے ناست وو نو هغه کورته راغے اوبیا هم یو کال ژوندے وو اوځوی ئے پیدا شو مالک نو م ئے ورله ایخے وو.

دغه شان په تسکین الصدورکښ په صفحه نمبر231کښ وائی چه ټولومؤمنانو اوکفارو ته روح واپس راځی.

نوټ:. ګورے دوی خلقوته صرف دانبیاءعلیه السلام د حیات خبره کوی لیکن دوی دټولو انسانانو دکفارو مؤمنانو په قبر کښ دداسے ژوند قائل دی

لکه څنګه چه دنیا کښ ژوندی وو او باقاعده دوی په خپلوکتابونو کښ دا لیکلی دی چی حیات الاموات ، د مړوژوند اوبیا وائي چه سماع الاموات د مړو اوریدل اوپه کښ ئے لیکلی دی ټول مړی اوری هم او وینی هم لیکن مونږه وایو.

وہی اولاد دیتا ہے وہی حاجت رواکافی

یہ قبریں کچھ نہیں کرتی وہی ناصر وہی شافی

نو لږ تپوس ترے اوکړه چی بیا موښخول څه له چی هر مړے ویني او آوري؟

د مرګ نه بعد یو قسم ژوند شته لیکن هغه برزخی دے او ددنیا په شان نه دے هغه الله ته پته ده چی څنګه ژوند دے.

دغه خلق دعامو مړو ددنیا په شان په قبرکښ هم دحیات قائل دی لیکن خلقو ته داخبره نۀ شی ښکاره کولے. ځکه چی بیا به پرې خلق پوهه شی نو د ضد دوجے نه خلق دهوکه کوی او داشاعت خلاف ئے راپاروی بهتان لګوی په مونږ چی دوی حیات الانبیاء نه منی.

لکین مونږه وایو چی داغلطه عقیده ستاسودِخلقو ته معلومه شوه چی تاسو خوشبووالا عقیده ، الذخائر، رحمت کائنات کښ څه لیکلی دی.

انہیں کی مجلس کو سنوارتاہوں

چراغ میری اور محفل ان کی۔

انہیں کی بات کو کہہ رہاہوں

زبان میری اور بات ان کی۔

تاسو خو مړو له طاقتونه بیانوی او مونږ درحمان ذات طاقتونه بیانوو.

بزرگوں کو مزاروں میں نہیں طاقت ذرابھر بھی

اور انہیں فریاد سننے کی نہیں لیاقت ذرا بھر بھی۔

اللّــــــــهم احـــــفظنا مـــــنہ

باب ۱۳ عقیده حیات الانبیاء

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ۝بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝ وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ یُّقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰہِ اَمْوَاتٌ١ؕ بَلْ اَحْیَآءٌ وَّ لٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ(البقره۱۵٤)

لَوْکَانَتِ الدُّنیا تدوم لواحد

لکان رسول اللہ فیہا مخلدًا

معزز سامعین! ددے ایت کریمه ترجمه داده "اومه وائے دهغه چا به باره کښ چی هغوې قتل کړے شی په لاره دالله کښ چی هغوې عبث مړهٔ دی بلکه هغوی ژوندی دی (خوشحاله ژوندی)لیکن تاسو پری نه پوهیږی" (بیان القرآن)

نن سبا کو اوګورو نو مخالفینودِ مسئلے له ډیر زور ورکړے دے او عوامورونړو له ئے شکوک وشبهات په ذهن کښ ایخے دی چی ټول انبیاء په قبرونو مبارکو کښ ددنیا په شان ژوندې دی او اشاعت والا ئے نه منی نو زمونږه په حق پرستو علماء باندے تهمت لګوې حالانکه اشاعت التوحید والا خو دمرګ نه روستو دکفارو ژوند هم منی نو بیا دا نبیاء علیه السلامو ژوند به ولی نه منی؟ خواصل خبره داده رونړو چی مبتدعین ورله په خپل ګمان یو قسم ژوندثابتوی او اشاعت والا د انبیاءعلیه السلام دغه ژوند په قبرونو مبارکو کښ د قرآن اوحدیث په رنړا کښ برزخي ژوند ثابتوی.

ابن قیم ؒوائی.

لو کان حیا فی الضریح حیاته

قبل الممات بغیر ما فرقان

که چرته نبی علیه السلام په قبر کښ داسے ژوندے وو څنګه

چی دمرګ نه مخکښ ژوندے وو بغیر دَفرق نه

ما کان تحت الارض بل من فوقها

واللہ هذا سنة الرحمن

نو بیا دزمکے دلاندے نه وودپاسه به وو.
قسم دے دادمهربان ذات عادت او طریقه ده.
دا بدعتیان چی کله تاسوسره بحث کوی نودوی به
هم (دا آیت البقر145) وائی په دِ مسئله کښ لیکن
تاسوبه ورته وائی چی په آخره کښ ورسره ولکن لا
تشعرون هم وائی. ځکه چی دوی به درته نیمګړے
ایت وائی او د ولکن لاتشعرون معنی ده چی په دِ
ژوند تاسو نه پوهیږی لیکن نن دا حضرات وائی
چی مونږه په دِ ښهٔ پوهیږو او دنیاوی حیات دے
ځکه ئے رحمت کائنات 323ص کښ لیکلی دی .

انبیاء نہیں مرتے او تسکین الصدور 231

کښ ئے لیکلي دی چی مؤمنانواوکافرانوتولو ته
روح قبرته واپس راشی او دنیا په شان ژوندی
شی" او د مفتی فرید صاحب ځوئی لیکلي دی .
اِلْاَنْبِیَاءُ لَایَمُوْتُوْنَ بَلْ یَنْتَقِلُوْنَ مِنْ دَارِالدُّنْیَااِلَی دَارِالْبَرْزَخِ
چه انبیاء بلکل وفات کیږی نه بلکه ددے دنیا
نه برزخ ته منتقل شی نو دوی اول په انبیاء
باندے د مرګ راتلل هم نه منی او دا عقیده
ددوی دقرآن خلاف ده الله فرمائی.
اِنک میت وانهم میتون
اے پیغمبرﷺته به هم مړ کیږی او دا نورخلق به
هم مړهٔ کیږی. اوددوی بل کتاب خوشبو والا عقیده
صفحه 71باندے دی چی حیات دنیوی دے اوپه صفحه
نمبر35کښ وائی حیات دنیوی حسی حقیقي دے او په
127کښ وائی که چرته مونږه د مشرق یا مغرب نه
درود وایو نو دا هم رسولﷺآوري داد عقل خلاف نه
دا لیکن دادهٔ ادابوخلاف ده (بریلیانه عقیده)
صفحه نمبر64کښ وائی چی برزخی نه دے بلکه
دنیاوی حیات دے.

آپ اپنے اداؤں پہ ذرا غور کریں
اگر ہم عرض کریں تو شکایت ہو گی۔

اوبیاتاسو تولو په 2015 مناظره ځائے کښ اوکتل چی دوی پخپله مونږ سره دا اولیکل چه څوک د رسول ﷺ وفات نه منی نو هغه کافردےاو بیا ئے اولیکل چی دا ژوند دنیوی نا بلکه برزخی ژونددے. نو تاسو اووائے چی دا فتوے ئے پخپلو مشرانو لګولی ده او کنه؟ اوس خبرے خوند اوکه او بیا لا دِ دوي پروپیګنډے کولے چی چه مناظره مونږه ګټلے ده لعنت الله علی الکذبین ورته وایه راشه لیکل دِې اوګوره اوخپل کتابونه دِې اوګوره چی مناظره ماګټلے ده اوکه تا ګټلے ده؟

الحمدلله فتح به هر میدان کښ دا شاعت والا ئی.

معزز طلباء!

دِمخالفینو علی الاعلان نعرے وهلے چی انبیاء کرام علیه السلام په حیات دنیوی سره په قبرونو کښ ژونددی دی نن ددے 2015مناظرے روستو هغه دنیوی لفظ چرته لاړو؟ اوس دِ اووائي کنه چی حیات دنیوی دے اوکه برزخی دے ؟لیکن بیا دا حضرت خپل ضد نه پریږدی.

حاسد حسد کی آگ میں خود ہی جلا گئے

وہ شمع کیا بجھے جسے روشن خدا کرے۔

الحمدلله دِمخالفین په دِ مناظره دترخه کښ د خپلو مشرانونه انکار کړے او اشاعت والوؤ دے فریق مخالف ته شکست ورکړے دے.

دستار کی ہر تار کی تحقیق ہے لازم

ہر صاحب دستار معزز نہیں ہوتا

زۀخپل بیان په دِې شعر ختموم

نہ خنجر اٹھے گا نہ تلوار اُنکی

یہ بازو میرے ازمائے ہوئے ہیں۔

باب ۱۴

همیشه ژوندے پاتے کیدل صفت صرف دالله دے۔

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّ لٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ(البقره۱۵٤)

خدااول سے ہے پیدا نہیں ہے

ہمیشہ زندہ ہے مرتا نہیں ہے۔

معزز طلباءکرام! په دِی ایت دسورة بقره کښ الله فرمائی چی د هغه چا په باره کښ مۀ وائے چه څوک قتل کړے شی په لاره دالله کښ چی دوی مړه دی(عبس مړۀ) بلکه دوی ژوندی دی لیکن تاسو ددوی په ژوند نه پوهیږی. (چی دا څنګه ژونددے) یو څو خبری دی چه په هغے باندے ایمان راوړل لازم دی.

1. شهداء مقتول دی. 2. اموات نه دی

3. احیاء دی 4. خو حیات بل شان دے.

زمونږ دَشعور نه بالا تر دے.

5. او پنځمه خبره داده چی هغه ژوند څنګه دے. نوسورة ال عمران کښ دادې چی عِنْدَ رَبِهِمْ هغه ژوند دالله په نزدے یعنی الله پری پوهه دے نو چه کله په دِ پوهه شوے او دادِی اوئیل نو خبره حل ده لیکن اهل زیغ نن لابل بل څه وائی خو دهغوی دپاره مخکښ هیڅ لاره نشته ګورے قرآن مجید هم دا وائی چه په قبر کښ ددنیا په شان ژوند نشته چی په بدن کښ قدرت هم وی.سَمع دِ هم وی، بصر، اراده، ناسته پاسته ولاړه او افعال اختیار یه دهم وی نو دا سےحیات نه دے.

احادیث صحیحه درسولﷺچه هغه حد دَ تواتر ته رسیدلی دی هغه هم دغه وائی چی داسے حیات نشته دے او علماءِ امت او صحابه ؓاجماع هم داسے وائی. نو راځی چی اوس اوګورو چی همیشه همیشه ژوند ے پاتے کیدل صفت دچا دے نبی ، ولی، پیر ، فقیر ، وغیره همیشه ژوندے نه شی پاتے کیدے دا صفت صرف دالله تعالی دے.

یقین دارم درین عالم که لا معبودالاهو

ولاموجود فی الکونین ولا مقصود الاهو

یقین لرم چی په دِ عالم کښ بل معبود نشته سیوا دالله نه

او نشته دِحقیقي موجود او مقصود په دواړو جهانو کښ سیوا دالله نه.

او چه څوک هم وائی چه انبیاء علیه السلام یا اولیاء وغیره باندے مرګ نه راځی نه دا سړے قطعی مشرک دے.

او ددۀ شرک کښ هیڅ شک نشته. لکه بعض خلق وائی اَوْلِيَآءَاللهِ لَا يَمُوْتُوْنَؕ چی اولیاء الله باندے مرګ نه راځی. بلکه صرف اخرت ته منتقل کیږی.

نو دا همیشه ژوند دالله صفت دے. ایت الکرسی نمبر ایت 255 البقره.

الله لااله الاهو الحي نشته دے لائق دعبادت مګر دغه الله دِ داسے ژوندےذات چی مرګ په نه راځی.

سورة الفرقان 58 وَتَوَكَّل عَلَى الْحَيِّ الَّذِىْ لَا يَمُوْتُ

بروسه اوکه په هغه ذات باندے چی همیشه ژوندے دےمرګ په نه راځی.

سورة المؤمن65 العمران2/1 کښ هم داسے فرمائی نو دا صفت مختص دالله تعالی دےچی صرف الله به همیشه ژوندی وی هیڅ یو فرد الله سره په دِصفت کښ نه دے شریک قرآن کریم د هر یو نفس دمرګ اتله فیصله کړے ده او چی څوک تری نه نبی ، ولی ، شهید وغیره مستثنی کوی نودغه سړے د قرآن مجید نه منکر دے الله سورة القصص ایت نمبر88كُلُّ شَىۡءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجۡهَهٗؕ هر څیز مر

کیدونکے،ختمیدونکے دے مگر ذات د الله به باقی وی دغه شان العمران185 کل نفس الخ؎ سورة الانبیاء آیت نمبر35 کښ هم داسے فرمائی. لیکن مبتدعین خپلو کتابونو کښ دقرآن مجید خلاف خبره لیکلې ده او په دوی کښ بعضے وائی چی مونږه خو مرگ منو نو چی کله منے نو بیا خو ئے خبره اسانه کړه. کتاب اَلَّیْلَۃُ الْاُوْلٰیؕ کښ علامه محمد ابراهیم سلیمؒ لیکلی دی چی ټول خلق په دِ خبره متفق دی چی مرگ ددنیوی حیات ختمیدو ته وائی. او دا خبره زده کړے چی انبیاء ته وفات یا مړه وئیل دَ بےادبی خبره نه ده لکه څنگه چی مبتدعین ئے بے ادبی گنړی نو دوی د قرآن نه خبرنه دی لکه الله سورة البقره 133کښ فرمائی. اِذْاحَضَرَ یَعْقُوْبَ الْمَوْتُؕ نو دلته الله یعقوب علیه السلام باندے دمرگ اطلاق کړے دے هغه شان سورة سبا ایت نمبر14قَضَیْنَا عَلَیْہِ الْمَوْتَؕ البقره259 فَاَمَاتَہٗ اللّٰہُ مِاَتَ عَامٍؕ او سورة مریم ایت نمبر 33 وَالسَّلَامُ عَلَیَّ یَوْمَ وُلِدْتُّ وَیَوْمَ اَمُوْتُ وَیَوْمَ اُبْعَثُ حَیًّا "په مابانده دِ سلام په هغه ورځ چی کله زه پیدا شوم او په کومه ورځ چی به مړکیږم او کله به چی دوباره پورته کولے شم. نو په دی ایت باندے امام قرطبیؒ دځلورمےصدی عالم وائی چه یاد ساتے د عیسی علیه السلام د پاره درے حالتونه دی.

فی الدنیا حیا وفی القبر میتا وفی الاخرة مبعوثاً

چی کله راشی نو دنیاکښ ژوندا وقبرکښ مړ او آخرت کښ به بیا ژوندے کولے شی. او دا اتفاقی مسلک دے د اهل السنت والجماعت،نو اصل خبره داده چی همیشه ژوند صرف خاصه دَالله صفت دے او دا صفت بل چا لره ورکول د قرآن خلاف او جرم دے.

زۀ خپل بیان په دِشعر ختموم

تم اپنے فیل معنی کو نکالو

باب ۱۵

په ذی روح څیز ونو بانـدے به مرګ راځی.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِنَّکَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ (الزمر ۳۰)

معزز طلباء کرام ! څنګه دمخکښ بیانونو نه معلومه شوه چی هرفرداوروح والا څیز باندے به مرګ راځی نودلته سورة الزمر کښ هم الله فرمائی" چه بے شک ته هم وفات کیدونکے ئے او دوی هم"

دمرګ نه بعدهرانسان ته یوقسم ژوندحاصل دے نوهغه ددنیادژوندنه ډیر اعلٰی اواکمل دے امام ذهبی ؒ په سیراعلام النُّبلاء ۹جلد ص61کښ وائی چی دَ رسول ﷺ ژوند برزخی حیات دے اګر چه درسولﷺجسم مبارک اطهر معطر محفوظ دے

آدم کیلئے فخر یہ عالی نبی ہے۔
مکی مدنی ہاشمی ومطلبی ہے۔

محمد کی محبت دین حق کی شرط اول ہے۔
اس میں ہو اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے۔

دَ انبیاء بدنونه مبارکه زمکه نه ضائع کوی.

او بیا امام ذهبی رحمة الله علیه فرمائی په رسول ﷺ باندےدرود شریف پیش کولے شی لیکن مونږه دهغے حقیقت نه پیژنواوزمونږدرود وسلام پخپله نه آوری اګر چه دقبر په خواه کښ وی اوکوم حدیث چی ذکر دے چی رسول ﷺ فرمائی چی چا په مابانـدے زما د قبر خواه کښ درود اولوستلو نوزهٔ ئے آورم نو دا حدیث موضوع (من ګهړت) دے لویو لویو علماء په دباندے جرحه کړے ده لکه موضوعات ابن جوزی ؒ1/303 مجموعے فتاوٰی دشیخ الاسلام ابن تیمیه ؒ27/241

الصارم المنکی 179 – اوداحدیث ځکه موضوعی دے چی ددے په سندکښ ابن مروان السدی دے او هغه کذاب (دروغجن)وو او ده به (من ګهړت) حدیثونه جوړولو دے متروک الحدیث دے لکه دَ ده باره کښ دی علماء لیکلی دی الضعفاء الصغیر للامام البخاری ؒ218

الضعفاء والمتروکین للنسائی 303- الضعفاء والمتروکین للدارقطنی 152 کتاب المجروحین لابن حبان 2/286 دیوان الضعفاء الذهبی 288 میزان الاعتدال للذهبی 4/32 الکامل الابن عدی 66-12/22

تهذیب التهذیب لحافظ العسقلانی 9/436

اللا لی المصنوعه للامام الیسوطی ؒ2/283

سامعین حضرات! مخالفین چه د کوم حدیث نه په قبر کښ د دنیا د حیات په باره د نبیﷺکښ دلیل نیسی نو دے بره ذکر شوو علماء په دے حدیث جرحے کړی دی چی دا د ځانه جوړ کړے شوی دے او دا ضعیف حدیث دے.

فریق مخالف وائی چه د رسولﷺژوند په قبر شریف کښ دنیوی دے نو راځی چی قرآن مجیدلړغوندےاوګورو چی قرآن ددنیا ژوند ته خه وئیلےدے اوکه دنیا دژوند ئے سپکاوے بیان کړے دے.

سورة الحدید20الله فرمائی اِنَّمَاالْحَیٰوةُ الدُّنْیَالَعِبٌ وَّلَهْوٌ" بے شکه ددنیا دا ژوند لوبے او توقے دی. نوبدعتیان به رسولﷺدپاره دادنیادا ژوند په قبر مبارک کښ ثابتوی چی الله ئے سپکاوی بیان کړیدےاو علماء حقه چی په حقه لار روان دی نو هغوی وائی چی دا خو مخالفین درسولﷺپه شان او درجه کښ کمی کوی ځکه چی الله فرمائی.

وَ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى چی د پرهیز ګارانو دپاره خو آخرت غوره دے.
او په سورة الضحی کښ فرمائی وَ لَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى (٤)
داخرت ژوندستادپاره ددنیا نه غوره دے .

ہے فخر کی یہ بات کہ دنیا میں آج تک
ہر ذات سے بلند ہے عظمت رسول ﷺ کی

دغه نا پوهه فرقه صرف په دې خبره کښ لګیا دی چه حیات دنیوی دے او نور په قرآن نه پوهیږی چی دالله کلام کوم قسم حیات ته غوره بهتره وئیلے دے لیکن مونږ وایو

بگوش ہوش سنو ہم سنائے دیتے ہیں
جو کچھ بھی حجاب ہے تو وہ اٹھائے دیتے ہیں۔

مونږه به حق ښکاره کوو ټولے پردے به درنه لرے کوو حق به خلقو ته ښکاره کوم
وَاٰخر دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

باب ۱۶

د رسول ﷺ او شهداء ژوند برزخی دے.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمْ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللهِ وَ كُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (۲۸)البقره

امام قیم رحمۃ اللہ علیہ

لو کان فی الضریح حیاته
قبل الممات بغیر مافرقان

کچرته نبی علیه السلام په قبر کښ داسے ژوندے وو لکه څنګه
چی د مرګ نه مخکښ ژوندے وو بغیر د فرق نه

ما کان تحت الارض بل من فوقها
والله هذا سنۃ الرحمن

نو بیا به دَ ذمکی لاندےنه وو بلکه د زمکی د پاسه به وو.
قسم په الله دا د مهربان ذات عادت او طریقه ده.

معزز طلباء کرام ! ما چه کوم ایت الو ستلو نو دهغے ترجمه داده " تاسو څنګه انکار کوی د الله تعالی نه او حال دادے چی تاسو مړه (نیشت) وے نو ژوندے کړي بیا به الله ته واپس کولے شی تاسو" چی کله انسان پیدا نه وو نو مثال ئے د مړی وو لکه سورة الدهر اول ایت کښ الله فرمائی " یقیناً په انسان باندے یو وخت داسے د زما نے راغلے وو چی دِ هیڅ څیز نه وو ذکر کړے شوی یعنی هډو چائے نوم هم نه اغسته"

نو انسا ن نه وو او الله ورله و جود ورکو دغه شان سورة مومنون نمبر21 کښ هم دا بیان دے چی د نیشت نه می شته کړے نو بیا به مومړه کړم. ثم يُمِيْتُكُمْ بیا به تاسو مړه کړی. نو اوس د مبتد عینونه تپوس اوکه چی تاسو په قبر کښ هم ددنیا ژوند منی او ثابتو ے ئے نو دا مرګ به کله راځی.

الله تعالی پیغبرﷺسورة زمر کښ ایت نمبر 30 کښ وائی اِنَّک مَیِّتٌ الخ‌ته هم مړ کیدونکے ئے او دوی هم مړه کیدونکے دی

الموت قدح کل نفس شاربوها
والقبر باب کل نفس داخلوها

مرگ خو پیا لئ ده هر یو نفس څکونکے د هغے دے او قبر یو دروازه ده هر یو نفس دننه کیدونکےد هغے دے

د مرگ د پاره درے(تین) الفاظ استمالیږی تُوَفّیِ ، مَاتَ ، قُبِضَ - او درسول ﷺ د پاره دا درے(تین) واړه الفاظ استمعال شوی دی. دا امام بخاری ؒ کتاب دے تاریخ کبیر 53 صفحه کښ هغه باب کیښودے دے. وُفَاتُ رسول الله او بیا روایت ذکر کوی چی عائشه ؓ فرمائی . تُوفِّیَ رسول الله . وَهُوَ اِبْنُ ثَلاَثٍ وَّ سِتِّیْنَ سَنَۃً - رسول الله وفات شو او دهغه عمر63 کاله وو نو د فریق مخالف نه لږ تپوس اوکه چی د رسول ﷺ څومره عمر وو نو دوی به وائی چه 63کاله نو وایه چی بیاته څنگه درسولﷺ ژوند حیات دنیوی وائې اوکه دنیاوی حیات ورله ثابتوی نو بیا د 1400سال نه آوړی.

امام بخاری بل روایت ذکر کوی عن ابن عباس رضی الله قبض النبی وَهوابن ثلاث وستین سنۃ روح واغستے شو د نبي علیه السلام نه او دهغه عمر 63 کاله وو بل روایت ابن معاویه فرمائي مَاتَ رسول اللهﷺ او دوی وائی چی نا په رسول ﷺباندے مرگ نه دے راغلے ددے دار فناء نه دار بقا ته صرف لاړو. اوکله وائی چی داشهداءُاواولیاء په قبرونوکښ ددنیاپه شان ژوندد‌ےاوځان ته احناف وائی اول خو درجه د قرآن او سنت ده، خیر دے راشه داحنافو کتابونه هم اوگوره چی دوی څه وائی .

البدائع الصنائع اول جلد اخره صفحه"په احکامو ددنیا کښ شهید مړ دے ځکه چی ښځه ئے بل ته په

نکاځ کولے شی، مال ئے تقسیمیږی، جنازه پرې کولے شی .

دا حنافو بهترین کتاب مبسوط دَ علامه سرخسی ؒ 2جلد ص50د انبیاء درجه دَ شهداء نه اوچته ده او په احکامو ددنیاکښ وفات دی او برزخی ژوند شته.دهغے نه مونږه انکارنه کوو.

عمر دراز مانگ کے لائے تھے چار دن

دو آرزو میں کٹ گئے دو انتظار میں

خو هغه ژوند ددنیا ژوند نه دے.

دا ژوند په څو قسمه باندے دے شرح عقیده الطحاویه صفحه نمبر451کښ وائی دروح د بدن سره پینځه قسمه تعلق دے او د هر احکام جدا جدا دی. 1. په ګیډه د مور کښ 2. In ground د زمکے ژوند3. د خوب ژوند 4. د برزخ ژوند 5 . د قیامت په ورځ ژوند (نو دا پینځه قسمه ژوند دے او دا ټول د یو بل نه مختلف دے نو فریق مخالف په دے نه پوهیږی نودبَلْ اَحْیَاءٌ نه مراد ددنیا ژوند اخلی خو ورته وایه عِنْدَ ربهم ژوندی دی خو د الله په نزد تاته ئے څه پته نشته یُرْزَقُوْنَ رزق ورله ورکولے شی. خو دا خوراک ددنیا نه دے ځکه چی ژوند ددنیا نه دے.

امام ذهبی ؒ په تاریخ اسلام 2/269کښ وائی دَ انبیاء ، شهداء ژوند نه ددنیا په شان دے او نه دآخرت په شان بلکه دا یو بل قسم ژوند دے **فی ارواح القبلاء**کښ هم امام ذهبی ؒ9جلد صفحہ 161کښ وائی هغه ددنیا ژوند نه دے.ددیوبند مفتی عزیز الرحمن فتاوی دارلعلوم دیوبند5/397 چی دے حیات نه مراد د حیات دنیوی ظاهری نه دے مفتی کفایت المفتی1/68چی انبیاء په خپلو قبرونو کښ ژوندی

دی خو دا دنیاوی ژوند نه دے او بیا وائی چی
په اعتبار ددنیا ټول په مړو کښ داخل دی او
ددے صریح دلیل اِنَّکَ مَیِّتٌ وَّاِنَّہُمْ مَیِّتُوْنَ دے او بیا 74، 75،
77صفحه کښ وائی چی دوی ددنیا په شان ژوندی
بلکل نه دی چی څوک داوائی چی دا ددنیا په شان
ژوندی دي نو دائے ښکاره غلطه خبره ده.
مونږه وایو چی دا ولے نه منی؟

خود بدلتے نہیں قرآن کو بدل دیتے ہیں

ہوئے کس درجہ فقیہان حرم بے توفیق

علامه ظفر احمد عثمانی ؒ اعلا ء السنن17/272معارف
القرآن 10/397 دا برزخی ژوند دے.
آب حیات قاسم نانوتوی ؒص 29 ، جمال قاسمی
نمبر14 چی دا برزخی ژوند دے.
بانی تبلیغ شیخ الحدیث ذکر یا ؒمکاتیب شیخ
الحدیث 485 صفحه کښ هغه ذکر کوی دالمهند باره
کښ ترینه تپوس شوے دے نو هغه وائی حیات النبی
ﷺ په باره خو زما خیال دادے چی تاسو د مولانا
حسین علی ؒاو هغه ذخادمانو نه څه نقل کړے دی
نو هغه صحیح دی او د هغه خادمان الْحَمْدُلله
زمونږه شیوخ دی نن مخالفین راغلل نو وائی چه
اشاعت والا دیوبندیان نه دی وائی راشه چی ته
دیوبندی ته ئے اوکه زه یم.

ہے خرابی دین کی ان تین سے

شاہ ظالم پیر جاہل مولوی بے دین سے

باب ۱۷ هر دور کښ حق پرستو باندے الزامونه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْ اتَّقُو اللهَ وَكُوْنُوْ مَعَ الصّٰدِقِيْنَ۝

ہے خرابی دین کی ان تین سے

شاہ ظالم پیر جاہل مولوی بے دین سے

معزز طلباءکرام! کله چی انسان دالله دتوحید پر چارکوی نو په دۀ باندے قسما قسم امتحانات راځی کله مشرکانود طرفنه او کله د بدعتیانو د طرفنه ، نو کله دخپلوانو دطرف نه وی او کله دمشرانواوکله پردو(پرایه)دطرفنه وی داټول تکالیف او امتحانونه به ضرور راځی. لیکن قرآن مجید مونږه له دا تعلیم راکوی چی گوره د انبیاء واقعات ځان ته یادوه . د نوح ؑ، لو ط ؑ، صالح ؑ، شعیب ؑ، موسی ؑ ، عیسی ؑ او محمد الرسول الله ﷺعرض دا چی څومره انبیاء الله رالیږلے وو نو هغوی څومره سختے برداشت کړے وے خودالله ددین هغه بنیادی مسئلے ئے نه وه پریخودے نو ته به هم د حالاتو مقابله کوی اودالله دین به بیانوی. حدیث پاک مبارک کښ راځی ذادالطالبین44 صفحه بَدَأَ الْاِسْلَامُ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ ۔الخ، چی اسلام اول اول کښ هم خلقو ته نااشنا لگیدو او اخر کښ به بیا داسے خلقو ته نااشنا لگی رونړو اوس که مونږ اوگورونو چی څوک هم د الله کلام بیانوی او مسئله توحید بیانوی نوخلقوته نااشنا لگی او خلق ورته پنچپیرے وائی. او اول اول هغه باطل پرسته راپاسی او دحق پرستوخلاف آوازاوچتوی.

تمہیں خوف کیوں آتا ہے پنج پیروں کے نام سے

نیا مذہب نہیں لیکن حقیقت کھل کے کہتے ہیں۔

او څنگه چی په انبیاء کرامو الزامونه لگیدل نو هغه الزامونه نن هم په مؤحدینو لگی، کله وائی اولیاء نه منی کله وائی حیات النبی ﷺ نه منی

لیکن دا صرف د توحید ددشمنے دَ وجے نه الزامونه لګوی.

رقیبوں نے رپٹ لکھوائی ہے جاجاکے تھانے میں

کہ اکبر یاد کرتا ہے خدا کو اس زمانے میں

او نن صباخو دِی خلقودِ مسئلے له ډیرزور ورکړےدے الْحَمْدُلله مونږه د انبیاء حیات خولالویه خبره ده مونږه خو د کافر حیات هم منو لیکن مونږه وایو دغه ژوند ددنیا په شان ژوند نه دے بلکه برزخی ژوند دے.

ګورے طلباء کرام! چی کله دا مخالفین په بحث کولو کښ راګیر شی نو بیا وائی چی اشاعت والا تعلق دروح د بدن سره نه منی دوفات نه روستو. نو اول خو ترے تپوس اوکه چی دا تعلق کوم قسم تعلق دے آیا انسان چی څنګه په دنیا کښ ژوندے دے نو داسے تعلق ئے دروح دبدن سره دے او که نا؟ وایه تاسو خو ئے داسے تعلق ثابتوی لکه څنګه چی په دنیا کښ وو لکه مخکښ بیانونوکښ ما حوالے ددوی دکتابونو ذکر کړے دی دوی وائی د قبرونونه هم اولیاء کورونوته راځی لکه رحمت کائنات وغیره کښ ئے لیکلی دی.

اشاعت التوحید والا چی د کوم تعلق نفی کوی نو هغوی د تصرف والا تعلق نفی کوی اوکوم چی بقدر مایتلذذ والا تعلق دے نو هغه زمونږه ټولو شیوخو ثابت کړے دے د هغے یو څو حوالے لاندے اوګورے

1.قاضی شمس الدینؒ ددیوبند فاضل اومدرس دیوبند په مسالک العلماء 247-248 صفحه کښ لیکئ چه د انبیاء د اجسامو سره داروا حو یو تعلق مونږه منو.

2.تسکین القلوب 246

3.سجاد بخاریؒ اقامت البرهان ص 155

4. نیلوی صاحبؒ په ندائے حق کښې 15ځایونو کښې ثابت کړے دے.

5.او په شفاء الصدور اول جلد 568.

6.الصراط المستقیم حصه دوم اول او سوم کښې ئے ثابت کړے دے.

7.دنیلوی صاحبؒ عقیده عذاب قبر کښې ئے ثابت کړے دے.

8.البصائر د شیخ محمد طاهرؒ 2017،216،209

9.البرهان الجلی 133 ، 135 ، 140 ، 156 ، 157 لیکئ چی مونږه یو خاص قسم تعلق دروح دابدانو مبارکوو سره منو.
اودا خو د بدعتیانو یو چال او مکر دے چی خلق د حق پرستو نه په دے طریقه سره بندوی.
معزز سامعین اصل کښې خبره داده چی دافریق مخالف دخپل ضداو عناد د وجے نه زمونږه د علماء مخالفت کوی کنی نو ددوی هر طالب او عالم په دے خبره پوهه دے چی دا شاعت والا مسئله حق او سچ ده خو ددوی دا ضد به دوی کښې ځکه دے چی الله فرمائی ټول خلق یو شان نه شی کیدلے.
وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوالْكِتٰبَ اِلَّا مِنْ بَعْدِمَاجَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ۔
اختلاف نه دےکړے هغه کسانو چی کتاب ورته ورکړے شوےدے مگر روستودهغه نه چی هغوی ته پوهه او علم راغلو نو د ضد دوجے ئے اختلاف اوکړو.اَللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ - اوددےاختلافاتو فیصله به الله کوی په ورځ دقیامت کښې.

حاسد حسد کی آگ میں خود ہی جلا گئے
وہ شمع کیا بجھے جسے روشن خدا کرے۔

دا اختلافات دلته نه حل کیږی دے دنیا کښ که یو سړے هر څومره حق پټ کړی خو یو ورځ د فیصلے شته فیصله به اوشی.زۀ خپل بیان په دشعر ختموم

کتنی ہی مشکلات ہو پرواہ نہ چاہیئے

اقدام راہ حق میں دلیرانہ چاہیے

باب ۱۸
د حیات په مسئله کښ زمونږ په فریق مخالف باندے تنقیحات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝ اِنَّکَ مَیِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَیِّتُوْنَ۝

معزز طلباءکرام! زمونږ په اهل البدعت باندے په مسئله حیات کښ څه ضروری تنقیحات دی چې هغه مونږ اوس ذکر کوو.چی کله د فریق مخالف سره په دِ مسئله کښ بحث کوی نو داتنقیحات په کوی.

1. تعین د معنی دموت اوکښې:. خروج روح د یا حبسِ روح دے دهر یو د قائل او د منکر شرعی حکم څه دے؟
2. دروح دوتلونه روستو په احبسادومبارکو دانبیاء ؑ باندےدلفظ میت اطلاق درست دے یا نه دے ددے د قائل او منکر حکم څه دے؟
3. د مرګ دوجے نه د حضرات انبیا ء ؑ دنیوی ژوند ختم شوے دے اوکه نه دے؟ د منکر اوقائل حکم څه دے؟
4. دوفات نه پس دانبیا ء ؑ ژوند علی الاستمرار ودوام حیات دُنیویه دے یا حیات ثانیه برزخیه یا دنیو یه برزخیه دے؟ قائل او منکر څه حکم دے؟
5. د انبیا ء ؑ دۀ روحونو اعاده یا تعلق د مخکښ ددفن نه قائمیږی یا روستو ددفن نه که چرته مخکښ ددفن نه وی نو څومره مدت روستو د وفات اوکه چرته روستو ددفن نه وی نو څومره وخت روستو (وضاخت مع الحکم اوکښی)
6. حضرات انبیاء علیهم السلام دوفات روستواوددفن نه مخکښ په اموات کښ داخل دی اوکه نا؟ (وضاحت مع الحکم اوکښی)

7. انبياء عليه السلام ددفن كولوپه وخت كښ وفات ګنړے شو اوكه ژوندى (وضاحت مع الحكم اوكښى)
8. دانبياء كرام عليه السلام روحونه مباركه چې كله په اجسامو كښ وى نو دا به د رفيق اعلى نه جدا ګنړلے شى اوكه متصل؟ (وضاحت مع الحكم اوكښ)
9. په صورت دانكار داعادے دارواحو اجسامومباركو سره تعلق دنيوى،تعلق اتصال،تعلق حيات،يعنى حيات دنيوى تعين اوكړے او دقائل او منكر حكم بيان كئى.
10. چې كوم سړے د حيات دنيوى اثبات او حيات برزخى نه انكار اوكښ يا د حيات برزخى اثبات اودحيات دنيوى انكار اوكړي نو دهر يو شرعى حكم څه دے؟
11. داحيات مذكوره صرف دانبياء دپاره دے يا د غير انبياء عليه السلام دپاره هم دے (قائل اومنكرحكم څه دے؟)
12. غيرانبياء ؑ كښ صرف دشهداء دپاره دي يا دهر انسان دپاره كافر،مؤمن منافق، دهر يه،سکھ ،هندو وغيره ټولودپاره هم دے د قائل او منكر حكم څه دے؟
13. دارواحو واپس راتلل بالجمله دى يا مِن جمله دى دهر يو مړى دپاره دى يا د بعضو دپاره دى دقائل او منكر څه حكم دے؟

*****عقيده اهل السنت (اشاعت التوحيدوالسنة) *****

دهر فرد بشرپشان حضرات انبياء ؑ باندے هم وفات راتلل برحق دى او دَ مرګ نه پس دويو انسان (نبى،عير نبى)بدن ته روح واپس راتلل ياد بدن سره دروح تعلق د تصرف عادةً د قيامت نه مخكښ

ثـابـت نـه دی اونـه مـيـت انـسـان دۀ اهل دنـيـا والـو خبـرے اوريـدلـے شي.
حكم : ددے عقيـدے نـه مطلقًـا انـكـار كـونـكـے كـافـر دے.

*****عقـيـده فـريـق مـخـالـف*****

مـآخذ: اوكـاړوی صاحب وائـی چه مـاپـه حيـات الـنـبـیﷺ بـانـدے ډيـر ے مـنـاظـرے اوكـړے لـيـكـن مـاتـه داپـتـه اونـه لـگـيـده چي زمـونـږ اوفـريـق مخالـف پـه مـيـنـځ كښ مـحل نـزاع څـه ده (يـعـنـی دوی تـه خپـلـه عقـيـده هـډو مـعـلـومـه نـه ده) مـاهـنـامـه الـخيـراشاعت خاص اوكـاړوی نـمـبـر238.

دمـوت كـيـفـيـت اوفـريـق مـخـالـف

مـولانـاعبـدالـشكـور تـرمـذی صـاحب وائـی پـه هـدايـة الـحيـران ص 329 كښ چه عـلـمـاءِ ديـوبـنـد وائـی چي درسول ﷺ نـه روح نـه وووتـلـے بـلـكـه دا حبـس روح وو.
او مـولانـا صفـدر صاحب وائـی چي جمـهـوروعلـمـاء اسلام د مـوت مـعـنـی انـقطـاع الـروح عن الـبـدن كـړے ده (روح دبـدن نـه جدا كـيـدل) تـسـكـين الـصدور صفحه نـمـبـر216.
نـوټ:. د تـرمـذی صاحب پـه نـزدصفـدرصاحب دعـلـمـاء ديـوبـنـدو داجمـاع مـنـكـرشـو.

- مـاسټـر اوكـاړوی صاحب وائـی مـرگ دبـدن نـه دروح وتـلـونـوم دے.نـودِوائـی چه كـلـه دانـبـيـاء ؑ روح دبـدن نـه اووتـلـو نـو بـيـا دسوال اوجـواب پـه وخت كښ واپـس راغـے نـو بـيـا دوبـاره واپـس نـه شـو اوبـاسلـے كـه چرتـه اوبـاسلـے شو نـو دا بـه بـيـادويـم مـرگ وو نـو درسولﷺ روح مـبـارک دوبـاره نـه دِ اوبـاسلـے شوے.تـسـكـين الاذكـيـا ص224-

اهم نـوټ:. دانـبـيـاء ؑ نـه خو بـالـكـل سوال اوجـواب كـولـو نـشـتـه امـداد الـفـتـاوی، فـتـح الـبـاری او شهـداء

نه به هم سوال اوجواب نه کیږی(نو دا څنګه خبره کوی).

اعاده دروح او فریق مخالف

- مفتی عبدالشکور ترمذی صاحب په هدایة الحیران صفحه 354کښ وائی مړي ته دسوال او جواب په وخت کښ روح دوباره راځی دمړمؤمن روح دده بدن ته واپس کولے شی او دوه فرشتے ورته مخامخ راشی . هدایه الحیران ص 355.
- انبیاءؑ او غیر انبیاء دټولو بدنونو ته روح واپس راتلل داحادیث صحیحه نه ثابت دی هدایه الحیران368.
- مولانا زاهدالحسینی صاحب په رحمت کائنات 130کښ وائی ټولو مړوته دروح واپس راتلل (صحیح احادیثونه ثابت دی.
- دمړی قبر ته غل کوزشو مړے کورته راغے یوکال ژوندے وو څوئے ئے پیدا شونوم ئے ورله مالک ایخے وو رحمت کائنات صفحه72.
- مولانا سید نورالحسن شاه بخاری اصل مسئله دحیات موتي ده. د
حیات النبی مسئله نه ده (حیات الاموات صفحه نمبر8)
- د حیات النبیﷺ مسئله هسے مشهوره شوے ده اصلی مسئله خو د عامو مړو ده اوریدو او دنیا وی ژوند په قبر کښ ده حیات الاموات صفحه نمبر81.

الله دِ عقاید باطله نه مونږ محفوظ اوساتی. (آمین)

باب ۱۹

مسئله دسماع موتی کښ دفریق مخالف عقیده

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمْ۝ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْااتَّقُوْاللهَ وَكُوْنُوْ مَعَ الصّٰدِقِيْن۝

دستار کی ہر تار کی تحقیق ہے لازم

ہر صاحب دستار معزز نہیں ہوتا

معزز سامعین کرام! نن چه ماله کوم بیان راکړے شوے دے هغه دے د سماع په مسئله کښ د فریق مخالف عقیده ښکاره کؤل.

معزز طلباء کرام!مخالفینو چی په 2015مناظره دَحیات النبی ﷺ کښ چی کوم کتاب باربار ټپوو اوئیل به ئے چی زمونږ عقیده صرف تسکین الصدور کښ ده او دا کتاب مولانا سرفراز صفدر صاحب لیکلے دے نو ددے عالم یو بل کتاب دے" سماع موتی" په دے کښ په صفحه 221بانددے لیکلے دی چی په ادراک شعور ، فهم ، سماع کښ ژوندی او مړی ټول برابر دی.او هم په دَ 221 صفحه باندے لیکلی دی چی ټول مړی کافران ، مؤمنان ، حصول علم ادراک ، سماع ، عرض داچی اعمال پیش کیدو او داسلام جواب ورکولو کښ یوشان برابر دی په دے کښ دانبیاء او نیکانو خاص والے نشته (سماع موتی 221لیکن مونږه وایو!

نیند میں سنتا نہیں تھا سب کو یہ معلوم ہے

جو بھی تم چاہو تمہاری بات وہ سنتا نہیں

زندگی میں ہر ولی محتاج ایک انسان تھا

جاہلو!وہ جب مرا ہے اب خدا بنتا نہیں

مولانا نذیر احمدصاحب فیصل آبادی لیکلی دی- فاسقان او کفار،بدان،نیکان ټول په سماع کښ قبرکښ یو شان برابردی اشرف التوضیح . جلد 1صفحه 270.

مولوی الیاس گهمن داشاعت په رد کښ یو کتاب لیکلے دے دې په هغے کښ وائی چی مونږه دهر مړی دآوریدلو قائل یو.

اوداد دِي حضراتو اصل عقیده ده چی هر مړے آوری لیکن مسئله صرف د انبیاء بیانوی ځکه چی په دي باندے په ځان پرده اچوی.لیکن

بگوش ہوش سنو ہم سنائے دیتے ہیں۔

جو کچھ بھی حجاب ہیں اٹھائے دیتے ہیں

دعقیدے د اثبات قطعی اصول-

شیخ الحدیث مولانا سرفراز صفدر صاحب وائی...

اهل السنت والجماعت او علماء عقائد چه څه ته عقیده وائی نو هغه ټول قطعی دی او ددے دلا ئل قطعی دی او هغه ټول ضروریات ددین دی او دضروریات ددین نه انکار کول کفر دے اوعقیده کښ داسے څه هم نشته چی هغه غیر قطعی وی یا دِ دهغے د انکار یا تاویل په وجه کفر نه وی (یعنی دهغے نه انکار کول کفروی) او دهغے ثبوت په ظنی دلیل هم نه وی.(ازالة الریب)

نوټ: کوم چی عقائد دی نو معلومه شوه چی هغه به ظنی نه وی بلکه هغه به قطعی وی.

او اوس خبره داده چی دوی سماع الموتی ته عقیده وائی نو په دے باندے به قطعی دلا ئل پیش کوی.

- صاحب المهند خلیل احمد صاحب وائی:.

د عقائدپه مسئله کښ قیاس نه چلیږی بلکه هغه قطعی دی او قطعیات نصوصو سره ثابت کیدےشی او بیا وائی خبر واحد دلته فائده نه ورکوی براهین قاطعه صفحه نمبر55.

- په اعتقاداتو کښ د قطعیاتو اعتبار کیږی دظنیاتو اعتبار پکښ نه کیږی براهین قاطعه صفحه نمبر93.

- الهام اوکشف داولیاء مقید حکم علی الغیر نه وی براهین قاطعه ص 206

د عقائد وثبوت په نص قطعی سره کیږی براهین قاطعه 207.

حکیم الامت اشرف علی التهانوی دیوبندی:... بعض مسائل قطعی وی او بعض ظنی وی په دِې کښ د اختلاف گنجائش نه وی. او بعض اجتهادی او ظنی وی په دی کښ په سلفو کښ بعضے شاگردانو د استاذانو خلاف کړیدے او لږ جماعت دډیرو خلاف کړے دے لیکن علماء امت دوی ته ضال او مضل نه دی وئیلے او نه ورته چاعاصی وئیلی دی او نه ئے څان سره دمتفق کولو بانده مجبوره کړیدی (تخفه العلمآء صفحه نمبر75)

بیا وائی خوب یابے خودی حجت شرعی نه دے او نه ددے نه دین ثابت کیږی احکام پخپل حال باندے دي (بوادرالنوادر صفحه 751)

خوب باندے اعتماد کول جائز نه دی. اضافات 9 جلد صفحه 208 ، جلد 9 صفحه نمبر 210 ، تخفه العلماء صفحه نمبر68.

قرآن کریم او احادیث متواتردادوه بنیادونه دی چی دعقیدے بنا په دِ دوو باندے کیدے شی اواخباراحاداگرچه هرخومره صحیح ولےنه وی لیکن دقطعی عقیدے اثبات پری نه شی کیدے (شرح فقهه اکبرصفحه نمبر122)

نوټ:. لیکن نن دے فریق مخالف دا اصول هیر کړے دي. او د ضد اوعناد دوجه نه ئے عقیده په اخبار احادو سره بناکړے ده چی بلکل دقرآن او حدیث اوعلماء عقائدو ئے خلاف کړے دے.

توحید کو سمجھا نہیں مفتی بنا تو کیا ہوا

بدعت سے بے زاری نہیں صوفی بنا تو کیا ہوا

ددے مخالفینو خو داحال دے چی دکتابونو نه هم نه دی خبر چی کوم کتاب دوی په دلیل کښ پیش کوی نو په هغے هم نه پوهیږی یو عالم ئے یو څه وئیلے دی نو بل عالم ئے بل څه وئیلے دی.ددوی دهر یو ځانله ځانله کتاب نه جدا جدا عقیده ثابتیږی او دا مونږه په چیلنج سره وایو گنے نو ددوی کتابونه اوگورے.

باب ۲۰

د علماء حقه اشاعت التوحید والسنةقرآنی دلا ئل.

اَلْحَمْدُاللهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلَوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ✦✏👓✂

♦×✓🙵❍ “▪→🪟☼☞🏵👓✂ ❼✸×◆❑⧫☝⧫③
⬄🏳⬧🙰🕾 🙴⬃☹⅄🙰🕾👓✂◆❒ 👓⍓♑🙵✍⬀❑⧫👌
☎ 👓⍓♑🙵👌👓❑✡⧫👌 ❼🙸× ⇳💣←☺⬧✍
🗐🙴✿🙴⬧🕭 🙴⬃☹⅄🙰🕾👓✂ ⮈①⮰❍⇳☺🡸⑩⬧▭
✿☠⬀❑⍓☺⬂🙰🕾👓✂ 👓◘&⬀❸■🖫⧫⬊
✂❼■🖫🙸✆ ✂❽⧫❷⬃⌘⌖🏵👓✂ ⬉✍⮰ᴓ⬀❷⬉③◆❒
(الزمر نمبر۴۲) 🗐 ❻⑦😐✿❍❿👌🙰🕾✍⍓♉❒🕮

ترجمه:. الله تعالی ساګانے (روحونه) اخلی دهغے دمرګ په وخت کښ دهغے نفسونونه ، او هغه چی هغه نه مړ کیږی په خوب خپل کښ نوحصاروي هغه ساه لره چی فیصله ئے په هغے د مرګ کړیوی او رالیږی هغه بله تر نیتے مقررے پورے.

ماخذ:. قال ابن عباسؓ یمسک النفس الاموات ویرسل الاحیاء وَلا یغلط . ابن کثیر 4جلد 55 درمنثور5جلد ص32.

معزز طلباء زمونږ ده علماء کرامو په دِ مسئله دحیات او ممات کښ تقریبًا 50نه زیات قرآنی دلائل دی .

نہ خنجر اٹھے گا نہ تلوار انکی

یہ بازو ہمارے آزمائے ہوئے ہیں۔

د هغے دلا ئلوقرآنیو و نه یو څو ایتونه ذکر کوو. او د مفسرینو تفسیر په هغے باندے بیانوو.

1 .دلته دِ ایت کښ د مړی دپاره امساک دے.یعنی دروح دوباره دِ نفس
ته نه راتلل. او د نائم (خوب والا)دپاره دِ ایت کښ ارسال دے یعنی روح واپس کیدل دی

نو ددواړو تقابل دے نو که چرته د مړی دپاره ارسال شی (لکه څنګه چی مبتدعين وائی) نو دا دقرآن د نظم نه خلاف دے.

2.دميت دپاره امساک مطلق دے او ارسال مقيددے ترالی اَجَلٍ مُّسَمًّی پورے تر کوم وخته چی موت نه دے راغلے نو روح به دِې نفس ته راځی اوکه چرته دا دمړی دپاره دا مقيد اومنی چی ددفن کولو نه بعد روح واپس کولے شی نو دا مطلق مقيد کول دے نو که داسے کولے شی نو دا د مرګ زمانه خو تر قيامته پورے ده نو امساک هم ترقيامته پورے دے.

فائده:. تر قيامته پورے روح دِې بدن ته نشی راتللے. اودااټت عام دے اوکه څوک تخصيص دنبی عليه السلام کوی نوهغے دپاره قطعی دليل پکاردے.

1. دفريق مخالف اول اعتراض:. فريق مخالف وائی چی په دِې ايت کښ دروح وتلوحکم دے اوبل کښ داعادے حکم دے.

جواب:. هغه ايت لږ اوښايه؟

پکڑ کر لایاہوں میں شیر تحقیق

تم اپنے فیل معنی کو نکالو

بل اعتراض:. روح خو دنياته واپس نه راځی خو قبر ته خو راځی کنه؟

جواب:. ددے بدن نه نوامساک هم ددے بدن نه لا يدركها الى البدن.

بل اعتراض:. خوب په وخت کښ تعلق باقی دے نو دمرګ په وخت کښ هم تعلق دروح بدن سره شته نو ديتوفی الانفس فرددے (ترمذی وغيره وئيلے دی)

جواب:. چه کومه معنی دوی کوی نوځوارلسمه صدے کښ دَ يو مفسر هم داسے حواله نشته چی هغه وئيلے وی چی ده مرګ په وخت کښ هم تعلق

دروح دبدن سره باقی دے موت سره **من كل الوجوه.**
او خوب سره من **بعض الوجوه.**
ټولو مفسرينو داليکلي دی چی دمرګ په وخت
کښ تعلق ختم دے.
نو که چرته داسے شی چه په خوب کښ تعلق باقی
شی او موت کښ هم باقی پاتے شی .
که خوب کښ تعلق شی او موت کښ هم تعلق شی نو
بیادمرګ څه معنی ده؟ نومطلب داچی دمرګ معنی
نه موت دے او نه حیات دے نه ادراک دے نه
خوب کونکی زنده دے؟ نو دنائم تعلق هم باقی
دے او دمیت تعلق هم باقی دےنوبیابه دو**مَايِسْتَوِى**
الْاَحْيَاءُوَلَا الْاَمْوَات څه مطلب وی" الله فرمائی مړی اوژوندی
نه دی برابر.

سوال:. چه دنائم اومیت دواړو حقیقت یودے
نوبیا خوموت سره نکاح ماتیږی نو ولی خوب سره
هم نکاح ماتیږی څه؟ (ددے جواب راکئي)

دلیل نمبر2. ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
تُبْعَثُوْنَ

یعنی تاسو به قیامت کښ ژوندی کولے شی.عباسی
ص212 تفسير مدارک المؤمنون16.

ماخذ2. یوم المعاد قیام الاَرْوَاح الی الاجساد
ابن کثیر جلد 2ص 242

ماخذ3. پھر تم قیامت کے روز دوبارہ زندہ کئے جاؤ گے۔(بیان القران جلد2صفحہ 535)

نوټ:. زمونږه په فريق مخالف باندے سوال دے چی
تھانوی دیوبندؒ ترجمه صحیح کړے ده اوکنه؟
تاسوئے ولے نه منے.

یہ جو تفریق بین المسلمین ہے
یہ ہے تخریب یا تعمیر دین ہے

ماخذ 4. یعنی مرنے کے بعد پھر قیامت کے روز تم سب زندہ اٹھائے جاؤ گے (معارف القرآن جلد6 ص
304)

ماخذ نمبر5۔یعنی تمہیں دوبارہ زندگی دے جائے گی تفسیر وحیدی صفحہ نمبر410، عثمانی ص444
علامه ادریس کاندهلوی فرمائی چې ذَپیدائش نه روستو ستاسو انجام مرګ دے بیا به تاسو د قیامت په ورځ دحساب اوکتاب دپاره دَ دِ خاورے نه ژوندی کولے شی او راپاسؤلے به شی. (معارف ادریسی صفحه نمبر306).
نوټ :. دفریق مخالف نه دا سوال دے چې دے اکابرینوترجمه صحیح کړے ده اوکه غلطه؟که غلطه ئے کړے وی نوپه دوی باندے فتوی اولګوی اوکه صحیح ئے کړے وی نو تاسو ئے ولے نه منئے؟ دا په فریق مخالف باندے قرض دے؟

مصیبت آج امت پر پڑا ہے
تباہی کے کنارے پر کھڑی ہے

ضرر نہیں اگر باز آئی تفرقے سے
مصیبت اور اس سے بھی بڑی ہے

نمبر دلیل 3۔وَالَّذِیْ یُمِیْتُنِیْ ثُمَّ یُحْیِیْنِ ۝ (پ 19 الشعرآء)
ترجمہ 1:۔وہ ایسا ذات ہے جو اپنے وقت پر مجھ کو موت دے گا پھر قیامت میں زندہ کریگا۔(کشف الرحمن 1949 صفحہ جلد 3)
2۔وہ موت وفناطاری کرنے والا بھی اور وہی جزا اور سزا کیلئے دوبارہ جلانے والا بھی۔تفسیر ماجد ص750
3۔وہی موت دے گا پھر قیامت کو دوبارہ وہی زندہ کرے گا حقانی تفسیر ص435۔
نوټ :. خالد محمودصاحب پي ايچ ډي لندن او مفتي عبدالشکور ترمذی صاحب وائی دقیامت په ورځ به انبیاء ته حیات نه ملاویږی چې کوم حیات ورته ملاویدو نو هغه ورته په قبر کښ ملاؤ شو ېدے .دوی وائی دانبیاء باره کښ په قرآن کښ دقیامت په ورځ بعث والا لفظ نشته (نعوذ بالله)
4. جو مجھ کو موت دے گا پھر قیامت کے دن مجھ کو زندہ کریگا۔بیان القرآن ص36 جلد5
دلیل نمبر4۔وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ (پ 30 سورۃ تکویر)

ماخذ1 :- عن ابن عباس ثم ترسل الاروح فتتزوج الاجساد (ابن کثير جلد 4 صفحه477 - درمنثور جلد 6 صفحه نمبر319) (مدارک جلد 5/ 329

مظهری جلد 10/ 206 ص قرطبی جلد 19/ 232 ص

طبری جلد 30 / ص 40 ابو سعود جلد 5 ص 241

تفسير کبير جلد 30 /ص 69 صاوی جلد 5 ص 248

روح البيان جلد 30 ص 52 معالم التنزيل جلد 7 صفحه 178

4۔روحوں کو جسموں کے ساتھ جوڑ دیا جائے گا۔ تفسیر عثمانی ص763

رُ دت الارواح الی الاجساد قرطبی 201 ص جلد 19

دا مذکوره بالا تفاسير دا معنی کوی ددے ايت چی روح به په قيامت کښ بدنونو کښ اچولے شی اودوي وائی چی ناپه دِ قبر کښ ژوندے کولے شی ددنيا په شان.

زۀ خپل بيان په دِ شعر ختموم

اووايه مولوی صاحب چي کوم کار د ديوبند اوکه

اوس خبرے خوند اوکه

باب ۲۱

دوسیلے با الذوات باره کښ دفریق مخالف دلائل

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ☐◆☐♦♑◉☐⬀
🕮☐☼❋♑←☠⬀ ❶✎☽ ←⊙■☐☺←☐☑✂☎
🕮☐☼▦→○✿♑←☠⬀ ♉⍓✍✎↗↓☐🖰☒ (الخ نساء نمبر64)

ترجمه :. که چرے یقینًا دوی کله ظلم اوکه په ځانونو او تاته راغلے وے .

معزز طلباء کرام ! نن که غالیان دازور لګوی چه

1.دا ایت عام دے خاص نه دے نوورته وایو چی مرادعام نه څه دے؟ ټولوافرادو ته شامل دے یا غیر و افراد ته هم شامل دے.

2.وَاَنَّهُمْ ضمیر مرجع او ذظلموا مرتکب صرف درسول ﷺدزمانے منافقین دی یا داغالیان صاحبان دی.

3. د جَآءُوکَ لفظ دے یا دَ جَآءُوْ قَبْرَکَ لفظ دے ټول علماء متفق دی چي **اِذا حلف الا یدخل علی فلان تقید بالحیاة فلودَخل علیه میتاً لا یحنث** . کچرته یو سړی قسم اوکه چی فلانکی سره به څه ملاویږم نه که چرته هغه مړ شو او دِ ورله راغے نو قسم والا حانث نه دے.

- دا صاحبان وائی چی درسول اللهﷺقبر له تلل دا نبی علیه السلام له پخپله تلل دی ځکه چی رسول ﷺپه قبر کښ د دنیا په شان ژوندے دے او آوری او دعا کوی نو عرض دا چی رسول ﷺ **ته چه** کوم حیات پس دَ وفات نه ملاؤ دے هغه برزخیه دے دنیا والا حیات بلکل نه دے بلکه هغه جنت والا حیات دے نو دقبر خواه ته خو پخپله درسولﷺخواه ته دَ تلولو نه دَ دی وسیله (عقیده) ځکه نه ثابیتږی ځکه چی د رسولﷺژوند بعدالممات جنت والا دے.

حواله نمبر 1.د صحاح سته په کتابونو کښ داوقعه موجوده ده چی دعمر بن خطاب رضی الله عنه په زمانه کښ قحط راغے نو په دمدینه کښ عمر رضی الله عنه ټول صحابه یومیدان ته راجمع کړل او حضرت عباس رضی الله عنه ئے دلاس نه اونیسو چی یا الله کله رسول ﷺژوندے وو نو مونږه به په هغه دعا کوله لیکن او س هغوی وفات شوی دي نو ځکه اوس مونږه دهغه په ترۀ باندے دعا کوؤ.

طرز استدلال:. که چرته د حضور ﷺدوفات نه روستو دحضورﷺنه دعا کول جائز وونو نبی علیه السلام خو اعلی وو د حضرت عباس رضی الله عنه په مقابله کښ اوعباس رضی الله عنه ادنی وود نبی علیه السلام نه نو حضرت عمر رضی الله عنه به قطعًا اعلی نه پریخوده اوبیا په دغے موقع باندے خو ډیر لوئے لوئے صحابه کرام هم موجود وو او یو صحابی هم دااعتراض نه دکړے چی رسول ﷺ**خو** په قبر کښ ژوندے او اعلی دے نو رسول ﷺ**ولے** پریږدے؟

نو معلومه شوه چی دصحابه رضی الله عنه اجماع په دې خبره باندے وه چی رسول ﷺ**په** حیات دنیوی نه دے ژوندے بلکه حیات برزخیه سره ژوندےدے .او د **رسول**ﷺ**په** قبر مبارک باندے ددعا غوښتلو دپاره چی نبی علیه السلام وسیله کړے شی نوهم نه دی جائز اوکه چرته دزیر بحث ایت نه استشفاع عندا القبر ثابتے دے نو ولے عمر رضی الله عنه په دےایت مبارک نه پوهیده څه؟ داسوال په مبتدعینو باندے قرض دے اونن دځوارلسمے صدے مسلمان په دے پوهیږی؟ کچرته د **جَآءُوْکَ** مطلب دقبر خوا له تلل وی نو ټول صحابه رضی الله عنه به ددعا دپاره د نبی علیه السلام قبر له تلی وو. او دا خبره ځان سره یاده کړے څوک هم چی ددے ایت نسآ ء نمبر64 نه دا مطلب اخلی نو هغوی په صحابوؤ باندے تهمت لګوی چی نعوذبالله ولے صحابه په دې ایت نه پوهیدل؟او داخبره واورے چی په

صحابه کرام رضی الله عنه کښ خو ابن مسعود رضی الله عنه کښ هم موجودوو چی دهغه دعوی دا وه...چی ماته دقرآن دهر ایت دشانِ نزول او مقام نزول معلوم دے لیکن ابن مسعود رضی الله عنه هم ددے ایت نه د استشفاع عندالقبر مطلب نه دے اغستے لهذا ددے ایت نه استشفاع عندالقبر اخستل باطل دی.

حواله ثانی:. مسائل اربعین ص40 شاه محمد اسحاق رحمة الله علیه فرمائی چه دغه حیات په قبر کښ حیات برزخی دے دنیاوی نه دے.

فتح الباری ص 280 جلد 7 دغه حیات په آخرت کښ دے نه په دنیا کښ.

نو ددے نه معلومه شوه چی استشفاع عند القبر جائز نه ده ځکه چی رسولﷺ په دِې قبر کښ په حیات دنیوی سره ژوندی نه دے بلکه دَ نبی ؑحیات برزخی جنتی دے.

دهغے دوه حکایتونو حال چی مبتدعین دهغے نه استدلال کوی د استشفاع عند القبر

حکایت اعرابی :. حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چی د نبی علیه السلام ددفن نه درے ورځے بعد یو اعرابی زمونږه خواه ته راغے او هغه د نبی علیه السلام دقبر مبارک دپاسه راپریوته او وئیل ئے چی یا رسول ﷺان الله انزل علیک ولوانهم اذظلمو ... الخ تستغفرلی فنودی من القبرانه قدغفرلک

الصارم المنکی فی الرد علی السبکی ص 321 طبع بیروت چاپ

جواب:. ددے روایت په سند کښ هیثم بن عدی الطائی دے چی هغه پ باره کښ یحی ابن معین فرمائی.

لَیْسَ بَثَقہ کَانَ یَکذب

چی هغه ثقه نه وو دروغ به ئے وئیل جعلی وو. ابو داؤد ؒ فرمائی کذابٌ ډیر دروغژن وو او ابو حاتم رازی ؒ ، امام نسائی ؒ ، دولابی ؒ او

ازدی ؒ فرمائی چی دي متروک الحدیث دے امام بخاری رحمة الله علیه فرمائی چۀ محدثینو دِ (ترک) پریخے دے.

کتنی ہو مشکلات ہو پرواہ نہ چاہئے

اقدام راہ حق میں دلیرانہ چاہئے

حکایت اعرابی نبمر2ابو منصور صباغ لیکلی دی چی عتبی وائی چی یو ورځ زۀ د نبی علیه السلام دقبر په خواه کښ ناست ووم نو یو بانډچی راغے او وئیل ئے چی یا رسول الله ﷺ زه ستا سو خواه له خپلے گناه بخښلو لا راغلے یم اوودے نه بعد ئے څه اشعار اولوستل................. الخ.

نو دا روایت دعتبی دے اوودہ نوم محمد ابن عبدالله دے (وفیات الاعیان جلدص263) باندے دی کان العتبی شاعراًوکان مشتهرًا با الشراب ص 228 چی عتبی شاعر او مشهور شرابی وو.

نو دادین په شرابیانو او شاعرانو نه ثابیتیږی نو معلومه شوه چی داستشفاع عندالقبر هیڅ حقیقت نشته.

باب ۲۲
د مسئله سماع اموات د پاره څو ضروری تنقیحات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ يٰايهَا الذين اٰمنو اتقو الله وكونو مع الصادقين۔

معزز سامعين په مسئله دسماع زمونږپه فريق مخالف څو ضروری تنقيحات درجه ذيل دی.

تنقيح نمبر1.صرف نبی كريمﷺعندالقبرآورې يانورانبيآءكرام عليه السلام هم.

تنقيح نمبر2. تمام انبيآ ء ؑ عندالقبور آوری يا غير انبيآء هم آورې.

نمبر 3.غير انبيآء ؑ كښ صرف شهداء عندالقبور آورې يا نور مؤمنان هم آورې.

نمبر 4.اهل اسلام عندالقبور آوری يا كفار هم آورې.

نمبر 5. ټول اموات عندالقبور آورې يا كو م خلق چی په ژوند كښ ګانړه وو دهغوی نه علاوه خلق آورې.

نوټ:. معزز سامعين ذَ موجوده دور

نوټ:. قائلين د سماع اموات، ټول اموات ، كه هغه نبی وی يا امتی ، شهيد ، غير شهيد ، مؤمن ، كافر ، كونړ ، صحيح ذَ ټولو د آوريدو قائل دی لكه ددوی كتاب تسكين الصدور 209صفحه طبع سوم كښ هم دا خبره كوی.

- ميت ته دزيارت كونكې دسلام وغيره ادراك كيږی او په دِ صفت كښې مؤمن او كافر برابر دے. په دِ كښ دچا تخصيص نشته . تسكين الصدور ص 210)
- چی كوم خلق دسماع موتی قائل دی دهغوی دامسلك دے چه نيک او بد په ثبوت د سماع كښ برابر دي (اشرف التوضيح جلد1 ص 269، 270 كښ وائی

- په دوی باندے زمونږه شپږمه تنقیح داده چی آیا که دازیارت کونکی هر څوک وی نو دهر یو خبره مړی آوری.
- تنقیح نمبر7: دزیارت کونکی آواز دا مړے هر ټائم آوري اوکنه په یو مخصوص وخت باندے آوري؟
- تنقیح نمبر8: عندالقبر هر یو ه خبره آوري یا د صلاة وسلام وغیره څه خاص خبرے آوري
- تنقیح نمبر9: ایاتاسو دروحانی سماع قائل ئے یا دجسمانی سماع یعنی جسم عنصری دغوږونو اوریدوقائل ئے.
- تنقیح نمبر: سماع موتی دعادةً ده یا کراهتهً خرقا للعادة .

معزز حضرات دموجوده دور قائلین سماع عادةً دسماع موتی قائل دی دخرق عادت نه دی قائل.

- دأکابرودبعض ځایونو دعباراتونونه دا معلومیږی چی کوم ځائے سماع ثابتیږی نو هغه بطور خرق عادت ده . لیکن تحقیق دادے چی سماع موتی خرق عادت ده ځکه په مرده کښ حیات بظاهر سره دعدم دے دویم داچی قبر کښ بقاء حیات غیر معقول دے اور دریم داچی دَمشاهدے نه خلاف دے.څلورم داچی دپردے یعنی قبر ته آواز رسیدل مشکل دی . (خیر الفتاوی جلد1 ص 178)
- 1. اکابرین چی کوم سماع موتی قائل دی نو هغه خرق عادت دے عادت نه دے.
- 2.د موجوده دور قائلین دسماع موتی . د اکابرو دعقیدے نه یو جدا عقیده ساتی.
- تنقیح نمبر11.عند قبر النبی صلی الله علیه وسلم د آورید قائل ئے یا عند الروضه چی کله د قبرنه زیارت کونکے لرے وی.

نوټ: قارئین / سامعین داخبره یاد ساتے چی دجَالَۂ سره زیارت کونکی دقبر نه 18گزه لرے وی.

نوټ: دا بله خبره یاد ساتے چی دلرے ذَ آواز اوریدونکے په قبر کښ دفریق مخالف په نیز هم مرده عالم الغیب ګنړلو والا جوړیږی دادعقیده شرکیه ده.
او دا خبره ددوی کتاب هم غلطه ګنړی وسماع موتی صفحه 105.
تنقیح نمبر12.تاسوصرف عندالروضه دآوریدلو قائل ئے یا ذَ مسجد نبوی نه هم درسول ﷺدآوریدلو قائل ئے۔
نوټ: مولانا سرفراز صاحب دمسجد نبوی دحد نه په روآواز سره د سلام آوریدل قول کړیدی او تردید ئے نه دے کړے (تسکین الصدور ص 346) کښ ئے لیکلے دی.
تنقیح نمبر13. دمسجد نبوی نه رسول ﷺ پخپله آوری او ذَ لرے لرے علاقو نه صلوة وسلام رارسولے شی؟ یاد جُمع په ورځ د لرے لرے نه هم پخپله آوري؟

مآخذ: محسن عالم رسول ﷺ ہیں تو درود شریف کی کثرت بتائی گئی اور آپ نے ارشاد فرمایا، اور دنوں میں درود پڑھتے ہو تو بالواسطہ مجھ تک درود پہنچتا ہے۔ ملائکہ کے واسطہ اور بالواسطہ ہی جواب دیتا ہوں جمعہ کے دن کا درود مجھ تک بلاواسطہ پہنچتا ہے۔ بلاواسطہ جواب دیتا ہوں تو گویا حضور ﷺ سے ایک رابطہ قائم ہو جاتا ہے مومن کا جمعہ کی برکت ہے (اقراڈائجسٹ ماہنامہ ستمبر 1986 ص 146 میں لکھا ہوا ہے۔)
نومولوی انور کلیم صاحب براه راست دآوریدو قائل دے.
مآخذ: ذَجمعرات او جمعے په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم براه راست یعنی بغیر د څه واسطے پخپله آوری (تکوئن کائنات ص 85)
سامعین + قارئین داددوی په سماع کښ عقیده ده.
نیند میں سنتا نہیں تھا سب کو یہ معلوم ہے

جاہلو! وہ جب مرا ہے اب خدا بنتا نہیں

ددوی دعبارتونو نچوړ او عقیده.
هر میت (نبی ، امتی ، شهید ، مؤمن وی یا کافر وی کونږ وی یا نه وی) دهر زیارت کونکی که هغه فاجر وی اوکه صالح دهر یو صلوة وسلام اذان ، دعا ، پکار ، هر وخت (ورځ وی یا شپه وی سحر یا ماښام) دقبر سره عادة آوری د جسم عنصری په غوږ ونو باندے.

باب ۲۳ دمونځ فضیلت

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ۝بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝ اِنَّ الصَّلٰو ۃَ تَنْھٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْکَرِ۔

معزز سامعینو حضراتو ! چی یو انسان دائره اسلام ته په لااله الا الله وئیلو سره داخل شو نو بیا په د بانده د الله بل حکم مونځ فرض دے چه مونځ به کوی.حدیث کښ راځی رسول ﷺفرمائی . بُنِیَ الْاِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ شَہَادَۃِ اَنْ لَّا اِلٰہَ اَلَّااللّٰہُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ وَاِقَامِ الصَّلٰوۃِ وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوۃِ وَالْحَجِ وَصَوْمِ رَمْضان (متفق علیہ)

رسول ﷺفرمائیلے دی چی د اسلام بنیاد په پنځو ستنو بانده دے. دټولو نه اول د لا اله الا الله محمد الرسول الله ګواهی ورکول یعنی ددے خبرے اقرار کول چی د الله نه سوا هیڅوک معبود نشته او محمدﷺ دالله بنده او رسول دے. دے نه پس د مونځ قائمول ، زکوة اداکول ، حج کول درمضان المبارک ورژے نیول.
دا پینځه واړه څیزونه د اسلام لوئے اصول او اهم ارکان دی.


بل حدیث کښ رسولﷺ الله فرمائیلی دی ابوهریره رضی الله عنه درسولﷺ نه روایت نقل کړیدے چی یو ځل ئےاوفرمائیل چه اوښائی چه دچا دروازے سره یو نهر وی چه په هغے کښ دا سړے روزانه پینځه ځله غسل کوی نو ایا دهغه په بدن به څه خیرے باقی پاتے شی ، صحابوؤ رضی الله عنهم عرض اوکړوچه هیڅ به باقی پاتے نه شی نبی علیه السلام اوفرمائیل هم دا حال د پینځو مونځو نو دے چه الله تعالی ددے په وجه ګناهونه ختموی یعنی لرے کوی.

معزز حضراتو هر مانځه کښ الله تعالی داکمال کیښودلے دے چه د مونځ د پاره اودس کولو سره الله واړه ګناهونه معاف کوی دغه شان مونځ کولو سره هم الله ګناهونه معاف کوی.

حدیث کښ راځی کان رسولﷺ الله اِذا حَزَبَہٗ اَمْرٌ فَزَعَ اِلَی الصَّلٰوۃِ (ابوداود)

کله به چی رسول اللهﷺ ته څه سخت کار پیښ شو نو مانځه طرف ته فوراً متوجه شو.
دمصیبت په وخت ، آفت په وخت مانځه طرفته متوجه کیدل گویا دالله رحمت طرفته متوجه کیدل دی لیکن نن افسوس دے هر مسلمان باندے چه کله څه تکلیف ، مصیبت راشی نو ټول غیر الله طرفته متوجه شی څوک ډاکټر او څوک هسپتال طرفته متوجه شی څوک دوائے طرفته څوک په چغو او فریادونوکښ مبتلا شی او الله تعالی طرفته متوجه کیدل دټولو نه هیر وی مگر داسے به ډیر کم خلق وی چی هغی به الله طرفته متوجه کیږی مونږ ټولوله پکار دی چی په هر حالت کښ الله طرفته متوجه شو.
قرآن کریم کښ الله تعالی پخپله هم فرمائی چهٔ وَاستَعِینو بالصبر والصلوة . زمانه په صبر او مونځ سره امدادغواړے.
په تکلیفونو باندے صبر او الله طرفته متوجه کیدل دټولو انبیاءؑ شیوه وه. حضرت صهیب رضی الله عنه دنبی علیه السلام نه ارشاد نقل کړیدے چه دړومبنو انبیاءؑ به هم دا معمول وو چه د هر ے پریشانی په وخت به الله طرفته متوجه کیدل.ځکه چی دا اهم عبادت دے.

دنبی علیه السلام ارشاد مبارک دے چه الله جل جلاله ارشاد فرمائیلے دے چه ما ستا په امت باندے پنځه مونځونه فرض کړیدي او ددے می عهد(وعده) کړی ده چه څوک دا پنځه مونځونه په خپل وخت د ادا کولو اهتمام کوی هغه به په خپله ذمدارے جنت کښ داخله ووم اوڅوک چه ددے مونځونو اهتمام نه کوی نو په ما باندے ئے هیڅ ذمه داری نشته.
عزتمندو ترواسه پورے زمونږ نه څومره کمے کوتاهی شوے دی دهغے به توبه اوباسو او دنن نه به دا عهد او لوظ وکو چی ائنده دپاره به بلکل مونځ نه قضا کوو به هیڅ یو حالت کښ.



باب ۲۴ د مانځه پریخودو نقصانات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمْ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتا وَقَالَ النَّبِى ﷺ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ الصَّلٰوةِ (رواه مسلم ، احمد)
وَقَالَ النَّبِى ﷺ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَ الْكُفْرِتَرْكُ الصَّلٰوةِ (رواه مسلم ، والنسائی)
معزز سامعین کرام السلام علیکم !
د الله تعالی فضل وکرم په مونږ باندے دے چی الله د مسلمان په ملک کښ مسلمان په کور کښ مسلمان پیدا کړے یو.داد الله ډیر لوئے رحم دے الله تعالی انسان مکلف پیدا کړے دے په ده باندے د الله حکمونه فرض دی چی هغه به ادا کوی په هغے کښ د مسلمان جوړیدونه روستو دویم حکم د مانځه دے مونځ په هر نارینه زنانه چه بالغ او عاقل وی فرض دے.
ما چه کوم ایت لوستلے وو په هغے کښ الله تعالی فرمائی چی بے شکه مونځ په مؤمنانوباندے په خپلو وختونو کښ فرض دے یعنی د هر مانځه دپاره ځانله ځانله وخت مقرردے مونځ بغیر دعذر نه دوخت نه روستو کول هم ګناه کبیره ده او مونځ نه کول هم ګناه کبیره ده. ما دوه حدیثونه وئیلے وو دهغے ترجمه داده .
حدیث : نبی علیه السلام فرمائی چه مونځ پریخودل سړے کفر ته رسوی.
بل حدیث کښ رسولﷺ فرمائی چه بنده اوکفر له یو ضائے کونکے څیز صرف مونځ پریخودل دی او یو حدیث کښ داسے هم راغلے دی چی د یمان او کفر په مینځ کښ د مونځ پریخودلو فرق دے.
ددے احادیثونه امام شافعی رحمة الله استدلال کوی چه چا قصداً مونځ قضا کړو نو هغه ددین نه اووتلو ابو امام او حنیفه رحمة الله علیه فرمائی چی نا کافر نه شو لیکن عظیمه ګناه ئے اوکړه چی قصداً ئے مونځ پریخوده مونځ قصداً پریخودل

دومرا عظيمه لويه گناه ده چی رسول ﷺدبيلمازه باره کښ دومره زياته زورنه ورکړے ده
بل حديث کښ رسولﷺ فرمائی مَنْ فَاتَتْہٗ صَلٰوةُ فَكَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلُہٗ وَمَا لُہٗ۔
"رسول فرمائيلے دی چه دَ چا يو مونځ هم مونځ هم فوت شو. هغه (په اعتبار او نتيجے داسے دے چه) گويا دهغه نه دکور خلق او مال دولت ټول لوټ کړے شول ددے حديث مطلب دادے عزتمندو که چرته ديو کس مال دولت او کور والا خلق لوټ کړے شی نو هغه به څومره خفه وی؟ نو چه څومره خفگان په دِ کوی نو دومره خفگان دِ په مونځ پريخوده اوکښی.
بل حديث کښ رسولﷺ فرمائی مَنْ جَمَعَ بَيْنَ صَلٰوتَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَقَدْ اَتٰی بَابًا مِّنْ اَبْوَابِ الْكَبَائِرِ " څوک چه دوه مونځونه بغير دڅه عذر نه په يو وخت کښ اوکړی هغه د کبيره (لويو) گناهونو دۀ دروازونه يوے دروازے ته اورسيده يعنی ډير لويه گناه ئے اوکړه چی يو مونځ ئے قضا کړے وو اوبل مونځ سره ئے يوځائے اوکړو.
يو ځل رسولﷺ دَ مونځ ذکر اوکړو اودائے ارشاد اوفرمائيل چه څوک د مونځ اهتمام (اوحفاظت) کوی نومونځ به هغه دپاره دقيامت په ورځ نور(رنړا) وی اوحساب پيش کيدو په وخت کښ حجت (دليل) وی او د نجات(خلاصی) سبب به وی اوڅوک چه دمونځ اهتمام نه کوی دهغه دپاره به دقيامت په ورځ نه نور وی اونه به دهغه سره څه حجت وی او نه دنجات څه ذريعه دهغه حشر به فرعون ، هامان او ابی بن خلف سره کيږی.

گورے عزتمندو! په دی حديث کښ دهغه چا ذکر رسولﷺ کړيدے چی هغه دمونځ اهتمام نه کوی نو اوس د مونږه خپل ځان ته سوچ اوکړو چه مونږ

دځومره دمونځ اهتمام کوو اوځومره مونځونه پریږدو.
نن که مونږه معمولی غوندی بیمار شونو هم مونځ پریږدو اووایو چی بیابه ئے قضا اوکړو او چی کله غم ښادی وی نوهم زمونږنه مونځ هیر وی او چه کله میلمانه راشی نوهم دمونځ پرواه نه ساتوبلکه په هر حالت دمونځ پریخودل نشته مونځ په بیمارے کښ هم معاف نه دے . په قیامت کښ به اول تپوس دمانځ باره کښ کیږی که مونځ درست اوصحیح په عمل نامه کښ راووتلو نو باقی اعمال به هم درست ثابت شی اوکه مانځه کښ کمی وو.او صحیح نه وو نو نور اعمال به بے کارثابت شی . الله تعالی دِ مونږ ه صحیح مونځگذار جوړ کړی. آمین.

باب ۲۵ په مانځه کښ د خشوع خضوع بیان

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ فَوَیْلٌ لِّلْمُصَلِّیْنَ (٤)اَلَّذِیْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ (٥)اَلَّذِیْنَ هُمْ یُرَآءُوْنَ (٦)

زما عزتمندوالله تعالٰی چه مونځ فرض کړی دے نو دمونځ دادا کولو طریقه ئے هم ښودلے ده او انسان ته ئے ظاهری او باطنی عاجزی کول هم ښودلی که چرته مونږ مونځ هم کوو لیکن ددے الفاظ صحیح نه وایو یا ارکان په غلطه طریقه اداکو نو بیا هم هغه کمال دمونځ ته نه شو رسیدلے په کوم کمال والا مونځ باندے چی الله وعدے فرمائیلی دی.

ما چی کوم ایت اولوستلو دهغے ترجمه داده.

" هلاکت دهغه خلقو دپاره کوم چه دخپل مانځه نه هم ناخبره دی . دا داسے کسان دی چه ښودنه کوی خلقو ته" د ناخبره کیدو مختلف تفسیرونه کړے شوی دی . یو داچه د مانځه دوخت ورته پته نه وی مونځ قضا کړی ، دویم داچه متوجه ورته نه وی چی څورکعتونه اوشو ډیر خلق داسی هم دی چه دجمع هم اهتمام کوی خو ددے سره دا په بده طریقه ئے کوی چه هغه مونځ په ځائے ددے چه د ثواب او اجر سبب جوړشی.لیکن هغه دنقصان په وجه په مخ وراویشتلے شی ، اګر چه د نه کولو نه دغه هم غوره دے. ولے چه دنه کولوپه صورت کښ چه کوم عذاب دے هغه ډیرزیات سخت دے او دَ مخ په غورزولو مطلب دادے چی څه ثواب ئے او نه شو.خو په نه کولو کښ چه کوم غرور اوتکبر وو او نافرمانی وه دهغے نه بچ شو. خو عزتمندو مناسبه خبره داده چه هر کله سړے وخت لګوی ، کاروبار پریږدی مشقت برداشت کوی اوبیا زنانه دومره کارونه پریږدی نو پکارده کنه چی دا مونځ په صحیح طریقه سره اوکړی . چی د الله حق هم ادا شی او ثواب هم ملاؤ شی.

معزز سامعینو اولوستونکو ، الله تعالی اخلاص ته
گوری . لَنْ يَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَ لَا دِمَآؤُهَا وَ لٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ " نه الله
تعالی ته دهغے غوښے رسی او نه دهغے (قربانی)
وینه بلکه الله ته خو ستاسو تقوی او اخلاص رسی"
نو دکومے درجے چه اخلاص وی دهغے درجے به دالله
دطرفنه مقبولت وی او هغه اومره به ثواب وی
حضرت معاذ رضی الله عنه درسول الله ارشاد نقل کوی
چی زه ئے یمن ته لیږم نو ما د آخری وصیت
درخواست اوکړه نو نبی علیه السلام ارشاد
اوفرمائیل چه ددین په هر یو کارکښ د اخلاص
اهتمام کوه. چه په اخلاص سره لږ عمل هم ډیر څه
دے.
حضرت ثوبان رضی الله عنه وائی چه ماد نبی علیه
السلام نه واؤریدل چه دا دئے فرمائیل چه داخلاص
والو دپاره دِ خوشحالی وی چه دوی دهدایت ډیوے
دی ددوی په وجه دسختو نه سختے فتنے لرے کیږی.
سورة البقره کښ الله تعالی فرمائی. وَ اِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى
الْخٰشِعِيْنَ (٤٥)الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَ اَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ (٤٦) "بے شکه
مونځ گران دے خو چه دچا په زوړونوکښ خشوع وی
په هغوی هیڅ گران نه دے . دا هغه خلق دی چه
ددے خیال ساتی چه بے شکه دوی به خپل رب سره
قیامت کښ یو ځائے کیدونکی دی او د مرگ نه پس
هم دِ الله طرف ته تلونکے دی.
حضرت عائشه رضی الله عنها موربی بی ام رومان رضی
الله عنها فرمائی ما مونځ کولو یوواړے په مانځه
کښ اخوا دیخوا اخوزیدم . حضرت ابو بکر صدیق
رضی الله عنه اولیدم نو څه ئے داسے په زوره
اوټوکلم چه څه دویرے دوجه نه مونځ ماتولوتو
ته نزدے شوم . بیا ئے ارشاد اوفرمایه چه ما
دنبی علیه السلام نه اوریدلی دی بدن دِ په سکون
، آرام سره ساتی د یهودیانو په شان دِ نه
خوزیږی دبدن دټولو اندامونو په مانځه کښ بیخی
په قلاره سره ساتل د مونځ پوره کولو حصه ده .الله
دی مونږه ټولو له داخلاص اوصحیح مونځ کولو توفیق راکړی.

باب ۲۶ قرآن د تدبر د پاره نازل شوے دے.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَ مَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ (۱۲۱)البقرة

معزز سامعین کرام! د قرآن کریم په مونږ باندے ډیر زیات حقونه دی دقرآن یو حق دادے چی ددی الفاظ په صحیح طریقه باندے اولوستلے شي ځکه چی که یوحرف صرف د خپل مخرج نه صحیح ادا نه کړے شی نو معنی ئی بدلیږي مثلاً چا تلاوت کولو او د اسم په ځائے ئی اثم اوئیل معنی بلکل غلطه شوه د اسم معنی ده نوم او د اثم معنی گناه ده.

ددے وجه نه فقهاء کرام فرمائی چه تجویدکول زده کول فرض دی ملاعلی قاری رحمة الله علیه فرمائی چی تجوید زده کول فرض کفائی دے. اوعمل په کول فرض عین دے . کوم کس چه تجوید سره قرآن نه لولی هغه گنهگاردے.

بل حق د قرآن دادے چه سوچ او تدبر سره اولوستلے شی حالانکه نن ډیرو خلقو سوچ او تد بر په قرآن کښ پریخے دے او صرف تلاوت ئی مقصد گرځولے دے سفیان ثوری رحمة الله علیه داسے خلقو نه گیله اوفرمائی. انزل القرآن للتدبر وجعلو لتلاوة . قرآن نازل شوے دے د پاره د سوچ او فکر او خلقو صرف د تلاوت د پاره گرځولے دی.

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه لا خیر فی تلاوة لا تدبر فیها (قرطبی)

او دسوچ او تدبر دپاره د قرآن ترجمه د حق پرستوعلماء نه زده کول لازمی دی. ما چه کوم ایت لوستلے وو په هغے کښ الله تعالی فرمائی.

" هغه کسان چه ورکړے مونږ هغوی ته کتاب لولوی ئے څنگه چه حق د هغے د لوستلو دے دغه کسان ایمان راوړي دی په دے کتاب او څوک چه ددے نه انکار اوکړی دغه کسان هم دوی تاوانیان دی.

سورة محمد 24 ايت کښ الله فرمائی آيا دوی ولے سوچ نه کوی په قرآن کښ بلکه زړونو ته ئے تالے لګيدلے دی.
ابن مسعود رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه فرمائی.
" لږ لوستل چه ترتيل او سوچ سره وی دا غوره دی د هغه ډير لوستو نه چه زرزر لوستے شی ځکه چه مقصد د قرآن د لوستلو نه پوهه حاصلول او سوچ کول او عمل کول په هغے باندی وی تلاوت او حفظ کول مقصد ته درسيد و دپاره اسباب دی او چا چه قرآن ياد کړو او عمل ئی پری اونه کړو اوځان ئی پری پوهه نه کړو نو هغه داهل قرآن نه نۀ دے".

يہی ہے آرزوں کہ تعليم قرآن عام ہو جائے
ہر اک پرچم سے بلند پرچم اسلام ہو جائے۔

آج ذلت لازمی ہے ہر مسلمان کيلئے
تو بتا مجھ کو يہ کيا کرتا ہے قرآن کيلئے

شاه ولی الله رحمة الله عليه يه تفهيمات الهيه کښ فرمائی " څه طلباء کرامو ته وايم چه اے کم عقلو ! ځان ته علماء وائے او تاسو دبنديانو په علمونو کښ مشغوله ئے او دے ته حقيقی علم وائے علامه سيوطی رحمة الله عليه اَلا تقان کښ ليکلی دی او نووی رحمة الله عليه هم ليکلی دی هوا لمقصود الاعظم **من كتاب الله** دغه مقصود اعظم د الله کتاب دے چه قرآن به ډير تدبر او سوچ سره اولوستلے شی تفسير قرطبی جلد 19 ص 38 کښ په تفسير د سورة مزمل کښ ليکي کله چی قرآن وائے نو ددے په احکاماتو باندے سوچ کوئ او مطالبه اوکړئ د ځان نه په کولو دَ عمل د حکمونو د قرآن باندے.
او دقرآن يو حق دادے چه قرآن زمونږ نه څنګه ژوند غواړی چه هغه شان ژوند اختيار کړو

حقوق الله او حقوق العباد اوپیژنو د الله پاک اوامر اونواهی اوپیژونو او یو حق داهم دقرآن دے چی نورو خلقو ته ئے بیان کړو دقرآن زده کول اوبیانول نورو ته خودل دایو عظیم عمل دے او کارنبوت دے.

د نبی علیه السلام په زمه دارو کښ یوه ذمه داری داهم وه چه خلقو ته قرآن بیان کړی .

وَاَنْ اَتْلُوَالْقُرْآنُ

دقرآن درس او تدریس سره په معاشره کښ انقلاب راځی د خلقو د عقائدو اصلاح ورسره کیږی او اعمال کښ ئے سنت طریقے راځی.

څکه یو شاعر وائی.

آیا تھا میں جہاں کی ہدایت کے واسطے

تعویذ بن کر رہ گیا برکت کے واسطے

باب۲۷ د قرآن فضیلت اوحکمت

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمِ۝بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝ یٰٓاَیُّھَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْکُمْ مَّوْعِظَۃٌ مِّنْ رَّبِّکُمْ وَ شِفَآءٌ لِّمَا فِیْ الصُّدُوْرِ ۙ۱ وَ ھُدًی وَّ رَحْمَۃٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ (۵۷)

عزتمندو!په دایت کښ الله تعالی دقرآن عزت ذکرکوی چه اے خلقو یقیناً تاسو ته د خپل رب د طرف نه وغظ راغلے دے او شفا ده.

د هغه مرضونو چی هغه په سینو کښ دی او هدایت او رحمت دے دمؤمنانو دپاره

الله تعالٰی په دې عالم باندے ډیر نعمتونه دی لیکن په هغه ټولو نعمتونو کښ قرآن یو داسے لوئے نعمت دے چی ددے هر څومره شکریه ادا کړے شی نو هغه کمه ده.

الله تعالٰی دانسانانو دهدایت دپاره یو قانون راولیږو او داسے قانون چی سراسر هدایت او رنړه ده الله فرمائی . قَدجَآءَکُمْ مِّن اللہ نُوّر تاسوته دالله د طرف نه رنړا راغلے ده. رنړا څکه ده چی د قرآن دراتلو د وجه نه هغه طلمات ختم شو هغه ظلمونه ختم شو چی هغه جهالت ظلمونه چی هغی به خپلے ماشومانے لونړه ژوندے ښخولے.

چی کله به ئے لور پیدا شو نو په هغے به شرمیدل ځان به ورته بد ښکاریدو. قرآن راغے ماشوم له ئے خپل حق ورکه ماشومے له ئے خپل حق ورکړو. ځوان او ځوانے له خپل او بوډا ګانو له ئے خپل حقونه ورکړل . قرآن داسے د حکمتونه والا کتاب دے چی په کوم کور کښ د قرآن تلاوت کیږی هغه کورد خیروبرکت والا کوردے. چی کوم ځائے کښ د قرآن درس او کیږې هغه خلق الله ته خوښ خلق دے . قرآن چه په کوم پیغمبر نازل دے هغه پیغمبر غوره پیغمبردے چی قرآن نازل په دِ امت نو دا امت غوره شو الله فرمائی کُنتُم خَیْرَاُمة تاسو غوره امت ئے .

بشارت اہل ایمان کیلئے ہے

کہ جنت اہل قرآن کیلئے ہے۔

کرو سب مل کے تم قرآن کی خدمت

یہ رب کا تحفہ انسان کیلئے ہے۔

که قرآن سره د یوے کپړے نسبت راشی نو هغه کپړه غوره او معززه شی که د قرآن سره کوم لرگے نسبت راشی هغه لرگے یعنی راحل غوره شی چی د قرآن سره د کوم ماشوم نسبت راغے نو هغه ماشوم عزتمند شی خلق ورته د عزت په نظر گوری. او عزتمندو که دقرآن کریم سره دوړے ماشومے نسبت راغے نه هغه عزتمنده شی که څوان دِې اوکه بوډا دےخوچی کله ئی دقرآن مجید سره نسبت راغےنوهغه الله تعالٰی عزتمند جوړ کړی او عزتمندو چه کله دِې قرآن له ځی نو الله ملائیک رالیږی او د خوشحالے نه دۀ ته خپلے وزرے غوړوی دا قدرد څه د وجه نه ملاؤ شو دا قدر د دنیا دمال دولت دوجه نه نه دی ملاؤ بلکه دا د قرآن د وجه نه ملاؤ دے د ټولے دنیا ډگرے که یو انسان راجمع کړی لیکن هغه دِ قرآن ته نه رسی.

یہ راز کسی کو نہیں معلوم کہ مؤمن

قاری نظر آتا ہے حقیقت میں ہے قرآن

د هر چانه غوره انسان په دِې عالم کښ صاحب قرآن دے ځکه رسول الله فرمائی **خَيْرُكُم من تعلم الْقُرْآن وَعَلَّمه** په تاسو کښ غوره سړے،غوره زنانه هغه ده چی قرآن زده کړې او نوروته ئےاوښائی. بل حدیث کښ راځی چی دقرآن په یو حرف باندے الله تعالٰی یوه نیکئ او دیوےنیکئ په آخرت کښ لس بدلے ورکولے شی نو صرف الم 30 نیکئ شوے نو قرآن حکیم د نیکو حاصلولو خزانه ده. اوبل حدیث کښ راځی الله تعالٰی ډیر خلق دَ دِ قرآن په وجه اوچت کړی. یعنی عزتمند کړی او ډیر خلق د دِ قرآن په وجه ذلیله کوی.

څوک چې قرآن باندې عقيده ساتی او د قرآن حق ادا کوی نو هغه الله ددې کتاب په وجه عزتمند کړی او څوک چې داسې نه وی نو هغه لره ذليله کړی الله تعالی.
رونړوکه ځان عزتمند جوړول غواړې نو قران کريم سره ځانله نسبت جوړکړی.

ہر حرف کو سینے مین بسالے تو بنے بات
طاقوں میں سجانے کو یہ قرآن نہیں ہے۔

وہ معزز تھے زمانے میں عامل قرآن ہو کر
ہم ذلیل وخوار ہوئے تارک قرآن ہو کر

د قرآن سره مينه داده چې په دې ځان پوهه کړې شې او عمل پرې اوکړې شې.

باب ۲۸ د قرآن نه اعراض سبب د تاوان دے.

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ وَ مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّ نَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى (١٢٤)قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِىْٓ اَعْمٰى وَ قَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا(١٢٥)قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَ كَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى (١٢٦)طٰهٰ

ترجمه:" او هغه چا چه زما دایاد (یعنی قرآن) نه مخ واړولونو بے شکه دده دپاره به ژوند لنډاوتنګ کړم اودې به دقبرنه په ورځ دقیامت ړوند پاسوم نودِ به وائی چی اے ربه ولے دِ زهٔ دَقبر نه ړوند پاځولم او یقیناً زه لیدونکی ووم نو الله به فرمائې چه دا می ځکه دقبر نه ړوند پاځولے چه تاته زما ایتونه راغلے ووا و تاهغه هیرکړے وو نودغه شان می نن ته هم هیر کړے ئی. یعنی دخپل رحمت نه می لرے کړے ئی.

عزتمندو ځنګه چه دقرآن زده کول اوعمل کولو کښ خیر اوکامیابې او ثوابونه دی نو دغه شان دقرآن نه غفلت اختیارولو کښ اودقران حق نه اداکولو کښ ناکامی او هلاکت دی. ځوک چی قرآ ن نه یادوی نه په عمل کوی نو الله تعالٰی ئے په دې دنیا کښ هم ذلیله او رسوا کړی. او الله ئی د آخرت حال هم ذکر کړے دے چی هغه به دقبر نه ړوند پاځولے شی اوددے نه علاوه به پرے نورغذابونه هم وی لیکن دائے الله ددنیا په اعتبار حال ذکر کړو. چی دلته دقرآن ړوند شوے وو نو دقبر نه به هم ړوند پاځولے شی.

آج ذلت لازمی ہے ہر مسلمان کیلئے
توبتا مجھ کو یہ کیا کرت ہے قرآن کیلئے

عزتمندو! دا یوښکاره خبره ده چې کله چا دقرآن نه اعراض کړے دے نو هغه خلق بیا الله د غیرو غلامان جوړ کړیدے. لکه نن صباکه اوګورو ډیر خلق چی دا سے شته ...

دسپو،چرگانواودغوایانوغلامان دی اوددے چوکیداری کوی . سپی لامبوی چرگان جنگوی وغیره کارونوکښ اخته دی داځکه چی هغوی دقرآن نه نۀ دي خبر .دقرآن قدر ورسره نشته که چرته د قرآن ختم وی نوهغه دعمل په نیت نه آوری درس ته نۀ کینی نو داسے خلق الله دځناورو تابعدار جوړکړی دی چی د قرآن نه لرےوی نو ژوندئے پریشانه دے سکون ورته نشته مال دولت بے سیاره دے لیکن کوم اطمینان چه الله قرآن کښ ایخودلے دے .اَلاَ بِذِكْرِاللهِ تُطْمَئِنُّ الْقُلُوْب په کتاب د الله زړونو ته اطمینان حاصلیږی لیکن دقرآن نه لرے خلق اطمینان په مال دولت کښ گنړی . لهو لعب کښ جلسو،کرکټو کښ ،گانو بجانو کښ، اطمینان دزړه گنړی.اکثر زنانه هم ټی وی ، گانی بجانی آوری او په ډیکښ دزړه اطمینان گنړی اکثر زنانه فیشنونه کوی هرورځ دنوے کپړو په ارمان گرځی لیکن قرآن ئے پریخودلے دے. لیکن داخبره یاد ساتل پکاردی چه چا دقرآن نه اعراض کړی دی نو رسول الله به په قیامت په داسے خلقو شکایت کوی.

قَالَ الرَّسُوْلُ يَا رَبِّ اَنَّ قَوْمِ اتَّخَذُوْ هٰذَو الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرً ا (الفرقان ٣٠)

چی یاالله زماډ قوم خو قرآن پریخودے وو. عزتمندو لږ ځان سره سوچ پکار دے که چرته مونږه داقرآن نه زده کوؤاوعمل په هم نه کوواورسول الله په ورځ محشر کښ دا شکایت اوکړي نو بیا به د خلاصی لاره کوم ځائے وی نو خلقو صرف قرآن د تعویذ او ساخت د پاره گرځولے دے لیکن د ا قرآن په پخپله هم الله ته شکایت کوی.

آیا تھا میں جہان کی ہدایت کے واسطے

تعویذ بن کے رہ گیا برکت کے واسطے

عزتمندو بل طرف ته کۀ اوگورونوکالج Students (طلباء) ته او دَ نورو سکولو نه هلکانو او جینکو ته پینځۀ شپږ گنټی وخت د انگلش تعلیم د پاره شته دے لیکن د قرآن دپاره په

ځلورويشت ګهنټو کښ صرف يوه ګهنټه وخت نشته نن مونږ په انګريزی تعليم باندے فخر کوو ليکن قرآن مو هير کړي دے دنيا وی ډګرے حاصلوؤليکن دقرآن داسے ډګری چی هغه دنيااوآخرت دواړو کښ پکار راځی هغه مو هير کړے دی.

دَ اقبال غوندے هستی خو هم په دِ مکتب کښ ناست وو
هم هغه الف ، ب وی ليکن وئيل اوپيژنی.

عاشق وائی آواز دقرآن هر طرف ته خور کړے
پتنګ په شان په شمع سوزيدل اوپيژنے

عزتمندو دنن نه ځان سره دا عهد کول پکار دی چی اوس راته موقع ده .

آج سانس ہے تو چانس ہے
سانس نہیں تو چانس نہیں

بيا پته نه لګی راځی ځان قرآن په طلباء کښ شريک کوو او قرآن د عمل په نيت شروع کړو.

باب ۲۹ د ختم القرآن په موقع رسمونه رواجونه

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰہِ وَ بِرَحْمَتِہٖ فَبِذٰلِکَ فَلْیَفْرَحُوْا۱ ھُوَ خَیْرٌ مِّمَّا یَجْمَعُوْنَ (۵۸)یونس
قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمْ تَرَکْتُ فِیْکُمْ اَمْرَیْنِ لَنْ تَضِلُّوْمَا تَمَسَّکْتُمْ بِھِمَا کِتٰبُ اللّٰہِ وَسُنَّۃُ رَسُوْلِہٖ اَوْ کَمَا قَالَ النَّبِیُّ ﷺ۔

معزز سامعين / كتونكو/طلباء كرام/ طالبات / ماچه كوم ايت دسورة يونس تلاوت كړو په هغے كښ الله تعالٰی فرمائی اے پيغمبرﷺدې خلقو ته اوويه چه د الله په فضل او رحمت دالله تعالٰی باندے دې دوی خوشحالی اوكړی داقرآن كريم غوره دے د هغه څه نه چی دوی ئے راجمع كوی.

دِ ايت كښ الله تعالی فرمائی چی په دِې كتاب خوشحالی اوكړے مطلب دا چه څوک په كوم څيز باندے خوشحاله وی نو بيا د خوشحالے والا څيز حاصلول غواړی نو تاسو هم په دے كتاب خوشحالې اوكړئ دا ياد كړے عمل پرې اوكړے اود خوشحالے نه مراد داهم دے چی د علماء قدر او د كتاب الله قدر ددے كتاب د خوشحالے دا وجه كيدلے شې چی كتاب باندے څوک خوشحاله وی نو بيا د قرآن د ختم په موقع باندے هم خلق خوشحالی كوی ليكن د ختم القرآن په موقع چی كومه حوشحالې ده هغه د شريعت د حدودو د لاندے وی.

ماشوم،ماشومه چی كه قرآن يا يوسورت اختتام ته اورسوی نو په دے موقع خوشحالې كول پكار دی. كه د چا وَس كيږی او خپلوانو دوستانو ته دعوت وركړی نو څه بدكار نه دے خو د ختم تقريب ددے دپاره جوړول چه مونږ فلانكوله په غم ښادئی كښ داداكړے دی يا په نورو موقعو كښ موكړې دی چه هغی راله بدل خلاص كړی په دے نيت ختم جوړول خه كار نه دے بلكه د ختم دعوت په دِ نيت وركول پكار دی چی نورو خلقو ته د ... قسم ترغيب ملاؤ شی

چی خپل بچی قرآن ته کینوی . اوکه وس ئے نه وی او د ماشوم یا د ماشومے د ختم په وجه پروګرام ددے وجے کوی چی بیا به راپسے خلق خبرې کوی نو بیا داسے پروګرام نه کول پکار دی. د نوم نشان او ریا د (خلقو د ښودنے) د پاره جوړول ښه کار نه دے بعض خلق د ختم القرآن په موقعه باندے تصاویر اوباسی ، ویډیو فلم ، ګډا ګانے، سندرے دنارینو او زنانوؤ یوځائے والے وی . د ختم والا ماشوم ته سهرے اچوی دا ټول کارونه دقرآن بے عزتی کول دی بعض هلکان کور کښ د زنانوؤ سره قرآن وائی د ختم القرآن په موقع هلک نه سورتونه آوروی دا ښه کار نه دے ځکه چی د پردو زنانوؤ مینځ کښ ناسته صحیح نه ده . کله چی ختم القرآن جومات کښ وی نو چه کله ماشوم آخری سورتونه واوروی نو که څوک د خپل ښۀ والی نه بطور انعام هلک ته څه ورکړی نو خیر دی اوکه لازم ئے ګرځولے وی چه دا قرآن حق دے او پیسے پری راجمع کوی نو بیا دا کار ښۀ نه دی . بعض خلق دختم القرآن په موقع یوبل له سرونو کښ پړک والا کنارے اچوی دا خه کار نه دی اوبعض خلق دقسماقسم رنړا والا لائټونه د شپے لګوی دختم په موقع باندے دا صحیح نه دی . بلکه قرآن باندے دشریعت د اصولو موافق خوشحالی اوکړه او په قرآن باندے عمل کول او دهغے حرام ، حرام کنړل او حلال ، حلال ګنړل دا لویه خوشحالی ده.

ما چه کوم حدیث وئیلےوو رسول الله فرمائی مفهوم داسے دے چه زه په تاسو کښ دوه حکمونه ، کارونه پریږدم چی کله تاسو په هغے منګلے لګولے وی نو تاسو به چرے هم ګمراه نه شي یو دالله کتاب قرآن دے اوبل سنت د الله درسول دی.

(الله دِ په دِ د عمل کولو توفیق راکړی.آمین)

باب ۳۰ ایصال ثواب د پاره ختم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (٥٨)

معزز سامعين ، قارئين خپلو مړو پسے كه څوک د ثواب په نيت تلاوت يا ختم كوی يا خيرات كوی نو دهغے ثواب مړوته رسيږی خو چه كله دقرآن لوستل په صحيح طريقے باندے وی په قرآن څه اخستل ، وركول پكښ نه وی ځكه چی علامه شامی رحمة الله عليه ليكلی دی. اَلاَ خِذُوَالْمُعطیٰ هُمااٰثِمَانِ ، اغستونكے وركونكے دواړه گهنگاردی.

علامه عينی الحنفی رحمةالله عليه ليكی . ان شاعَ فَی زَمَانِنَا من قرآۃ الا جزاء بِالأُجْرَۃِ لَا يَجوْز (بنايۃ شرح هدايۃ جلد 3 ص 655)

زمونږ په زمانه كښ چه كوم رواج دے سپارے خلق په اجرت لولی نو دا جائز نه دی. د اشان خبره فتاوی عزيزي جلد 1 ص 8كښ هم ليكلی ده.

مولانا عبدالحی لكهنوی رحمة الله عليه په مجموعة الفتاوی جلد 2ص87 كښ لكيلی دی په اجرت سره قرآن لوستل باطل دی.

حافظ ابن قيم رحمة الله عليه ليكلی دی په كتاب الروح ص 175 ليكی . قرآن بغير د اجرت نه لوستل د ثواب دپاره مړی ته هديه كول صحيح وی ثواب ئی مړو ته رسيږی څنگه چی د روژے ، حج ثوابونه رسيږی.

شرح فقهه اكبرص 160 شرح عقيدة الطحاوية ص 386 فتاوی رشيديه كښ رشيد احمد گنگوهی رحمة الله عليه هم ددے بحث كړے دی.

مولانا عبد الحی صاحب ليكی واضح ہو اجرت پر ایصال ثواب کیلئے قرآن کریم کا پڑھنا اور پڑھوانا حرام ہے (احكام ميت ص218) دغه شان احسن الفتاوی جلد 1 ص 375 كښ هم شته دی.

معارف القرآن كښ مفتی صاحب رحمة الله عليه هم ليكلی دی د ايصال ثواب دپاره د خلقو راغونډول يا د زنانوؤ د راغونډؤلو تخصيص اوپه هغے د هغے اكرام كول يو رسم جوړ شوے دے چه د اخلاص

نه هم خالی دی او دسنت طریقے نه هم خالی دی او د قرآن بے ادبی پکښ هم کیږی.
مفتی محمود الحسن گنگوهی رحمة الله علیه لیکلی دی چه قرآن کریم وئیل او ثواب ئی مړو ته بخښل د فائدے کاردے . دے دپاره خلق راجمع کول او دسبق وئیلو نه روستو هغوی ته څه ورکول شرعاً منع دی فتاوی بزازیه ،درمختارورته بدعت اومکروه وئیلی دی (فتاوی محمودیه) چه کله څوک دا غواړی چه زمونږ مړو ته دَ ثواب اورسی نو خپله یا کور کښ چاچه قرآن وئیلی وی هغوی ته چه کله هم موقع ملاویږی نو دقرآن څه حصه دِ تلاوت کوی دهغے ثواب دی خپلو مړو ته بحښی.
ختم لازم گنړل او په هغے باندے اجرت ورکولے کیږی
بعض علاقوکښ چه مړی اوشی نو زنانه سحر وختی ځان سره سپارے واخلی او دقبر ته گیر چاپیره کینی او هلته قرآن وائی داصحیح نه ده . په احادیثو کښ په هغه زنانوؤ لعنت راغلے دی چه قبرونو زیارتونو ته ځی.
فتاوی برازیه لیکلی دی چه مکروه دے دعوت جوړول دپاره دقرآن لوستلو .
بعض خلق چه غم ورکره اوشی نو دچم گاؤندزنانه راجمع کوی او سپارے پرے تقسیموی او بیاورته خوراک ورکولے شی دداسے ختمونو په شریعت کښ څه ثبوت نشته. بلکه هغه کارکول پکاردی چی شریعت په امر کړی دی.

ولے گډوے بدعت سنت د مصطفی سره
مخ به لگوی سبا قیامت کښ مجتبی سره

ختم کول څه د گناه کار نه دے خو چی کوم کار د شریعت نه ثابت دے نو هغه کول پکار دے او چی کم د شریعت نه نۀ دے ثابت نو هغه کول نۀ دے کو ل پکار.
علماء لیکلی دي کوم ختم چی مړی پسے کولے شي نو په هغے باندے خوراک کول حرام دی او چی څوک

په خوراک کوی نـو نـه د ختم کـولـو والا ثـواب اوشو او نـه مړی پـسے ثـواب رسی.

باب ۳۱

د وخت قدر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلَوٰةُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اَوَ لَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا یَتَذَكَّرُ فِیْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَ جَآءَكُمُ النَّذِیْرُ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِیْنَ مِنْ نَّصِیْرٍ (۳۷)

معزز طلباء /عوام/ طالبات

کومو خلقو چی د وخت قدر کړے دے او وخت ئے د الله پاک د نعمتونو نه یو لوئے نعمت گنړلےدےقیمتی اووخت ئےپه سنیما،گانوبجانو ،گډاګانو، غلط مجلسونویادسپو،بانګیانو او مرزانو په جګنولو وغیره کښ نه دے ضائع کړے دهغوی نه الله تعالی ډیر زیات خیر خور کړے دے او دهغوی دنیا ته ډیر څه پریخودی دی.او خلقو ترے ډیراستفاده کړی ده او نوم ئی هم زنده باد دے .

شیخ ابوالحسن ندوی رحمة الله علیه فرمائی مَنْ لَمْ یَتأ دَبْ بِالوَقْتِ فوقته المقت

ابوالوفاءبن عقیل رحمةالله علیه دوخت قدراوکړو نو ډیر زیات کتابونه ئے لیکلی دی یو کتاب ئے آتۀ سوه جلدنو کښ لیکلې دی.

مشهور محدث ابن شاهین دومره لیکل کړے وو چی صرف سیاهی ئے د اووه سوه درهمونو استعمال کړی وه. علامه ابن جریر رحمةالله علیه په خپل ژوند کښ درے لاکهه آتۀ پنځوس زره اوراق لیکلی وو.

علامه باقلانی رحمةالله علیه صرف د معتزلو په ردکښ اویازره اوراق لیکلی وو. علامه امام غزالی رحمة الله علیه آتۀ اویاکتابونه لیکلی وو. یو کتاب یاقوت التاویل ئے 40 جلده وو علامه ابن جوزی رحمة الله علیه چه وفات شو دَ غسل او به ئے ورته په هغه بُوره گرمی کړے وی چی د قلم جوړولو په وخت ئے جمع کړے موجوده وه. شیخ الا سلام ابن تیمه رحمة الله علیه ذَده په باره کښ فرمائی چه مادتصانیف اوکتل چی د هزار نه زیات وو. دهغے خلقو سره دوخت قدر وو ددے حضراتو نوم په تولے دنیا خوردے او نن مونږ دهغوی د

کتابونو حوالے ورکوؤ. د وخت قدراواندازه ددے خبرے نه لګول پکار دی که چرته یو تن وی او ټول عمر ئی په شرک او کفر کښ تیر کړے وی د مرګ په وخت ئی توبه اویستله نو په کلمه طیببه وئیلو خوئی درے سیکنډه لګی نو دے انسان دپاره دادرے سیکنډه څومره قیمتی شو . لهذا د ژوند دیو یو لمحے او یو یو لحظے قدر کول پکار دی . حدیث پاک کښ راځی درے ځله سورة اخلاص وئیلو سره دټول قرآن لوستو لو ثواب ملاویږی حالانکه په دِ باندے 20سیکنډ هم نه لګی.

بخاری شریف کښ حدیث دے چه چا د شپے د سملاستو نه مخکښ د سورة البقره آخری دوه آیتونه اولوستل نو دابه دهغه دپاره دتمام پریشانو مشکلاتو او ټولو غمونو نه دنجات دپاره کافی شی او دا دوه ایتونه صرف یو منټ کښ لوستلے شی . سورة الفاتحه په یو کرت لوستلو سره 1400نیکی ملاویږی.

دایت الکرسی یوکرت لوستوسره 5550نیکئ ملاویږی او ایت الکرسی په 1منت کښ لوستلے شی.

بخاری او مسلم کښ روایت دے چه چا سل ځله **سبحان اللهِ وبِحَمده** اولوستل نو الله پاک به ورته ټول ګناهونه معاف کړی . او دا عمل صرف 20منټ کښ کیدلے شی.

بل حدیث پاک کښ راځی چه څوک لس کرته **لا اِلَهَ الا الله وحده لاشریک له له لملک وَله الحمدوهو علی کل شیءٍ قدیر** اولولی دےتن ته به دځلوروغلامانوآزادولوثواب ملاویږی دا فضیلت په یو منټ کښ حاصیلدےشیپه یو منټ کښ داهم کیدلے شی چه یوانسان د ګناهونو دَ کفر شرک نه توبه اوباسی په دے وجه دوخت د اهمیت خیال ساتل پکاری دی چه کله دا قیمتی وخت تیرشی نو بیادِ تیر شوےوخت پسی دافسوس کولو هیڅ فائده نشته.

چمن کے تخت پر جس دم شہ گل کا تجمل تھا

ہزاروں بلبلو کی فوج تھی اک شور غل تھا۔

جب آئے دن خزاں کے کچھ نہ تھا جز خار گلشن میں

بتاتا تھا باغ بان رورو کہ یہاں غنچہ یہاں گل تھا۔

رسول الله فرمائی اِغتنم خمسا قبل خمس حیا تک قبل موتک وصحتک قبل سقمک وفراغک قبل شغلک وشبابک قبل هر مک وغنا ک قبل فقرک (مستدرک جلد 4ص 314)

پنځه دپنځو نه مخکښ غنیمت اوګنړه زندګی مخکښ د مرګ نه او صحت اومخکښ د بیماری نه اوفراغت مخکښ دمشغولتیانه ځوانی مخکښ دبوډاوالی نه اومالدری مخکښ دغریبی نه.

دسیکنډی ستنے دا ټک ټک هسے ټک مه ګنړه

دژوند په اونه دِ د تبر ګزارونه کیږی.

د وخت مثال دَ واورے په شان دے که کولر کښ دِ محفوظ کړه په کار به دِ راشی اوکه واوره هسے پراته وی نو ویلی به شی ضائع به شی .

بهار عمر جب اخر ہوئی واپس نہیں ہو گی۔

درخت اچھے کے پھلتے ہیں سرے سے جوان ہو کر

د قران او سنت دتعلیماتو نه دوخت قدر معلوم او ظاهر دے.

ماچه کوم ایت لوستلے دسورة فاطر نمبر37په هغے کښ الله تعالی فرمائی.

"آیا مونږ عمر نه وو درکړے تاسو ته چه نصیحت مو حاصل کړے وے. په هغے کښ چه څوک نصیحت حاصلول غواړی . او نه وو راغلے تاسو ته ویره درکونکی ؟ پس او څکئ عذاب او نشته دے ظالمانو لره څوک مددګار"

نو داعمر الله رب العزت د نصیحت حاصلولو دپاره مونږ او تاسو ته راکړے دے. روزانه نور(SUN) اعلان کوی که نن څه دخیر کارکولے شی نو اوکړے داورځ به دے بیا په عمر کښ واپس نه راځی .

رونړو آوریدونکو/ کتونکو خپل وخت دضائع کیدو نه بچ کړے .

نه خپل بیان په دِ شعر ختموم

عافل تجھے گھڑیال یہ دیتا ہے منادی
تو کچھ نہ کر سکا عمر فضول گھٹادی

باب ۳۲ گـانـی بـجـانـی وئـیـل اواوریـدل حـرام دی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِإشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (لقمن۶)
وَقَا النَّبِىُ اَلْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِى الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَآءُ الزَّرْعَ-(ابو داؤد 4927)

معزز سامعین دډیرو خلقو ښادئی په ګانو بجانو سره وی داسے نارینه هم په کور کښ وی چی هغوی ته نارینه وئیل مناسب نه دی ځکه چه لوریانے او خویندے ئے ګډاګانے کوی او دا دغیرت نه خالی ئی تماشه کوی راځے چی اوګورو ددے سندرو وئیلو اوګډاګانو څومره نقصانات دی.

ګانو،سندرو سره یا لوبو وئیلو سره عقل معطل کیږی انسانی تهذیب ورسره ختمیږی تاریخ په دے ګواه دے چه کوم قوم کښ ګانے بجانے ،موسیقی راغلےده دهغوی اخلاق تباه اوبرباد شوی دی لکه چی روم او فارس والا. نن مونږ مغربی دنیا خطرناک مرضونو کښ مبتلا وینو دهغوی وجه موسیقی اوریدل دَ اخرت هیرول دی.

ما چی کوم ایت لوستلے وه دهغے ترجمه داده .
" اوبعض دخلقو نه داسے دی چه هغوی بے فائدے ، عبثے خبری اخلی دِ دپاره چه خلق دالله دکتاب نه واړوی "

صحابه کرامو نه د لهوالحدیث تفسیرګانے او سندرے نقل کړے شوے دے.

دعبدالله ابن مسعودرضی الله عنه نه ددے ایت په باره کښ تپوس اوکړے شو نو هغوی اوفرمائیل مراد ددے نه ګانه بجانه ده.

حدیث کښ راځی نبی علیه السلام فرمائیلی دی ځما رب په مابانده شراب ،جواری ،باجے ګانے دا ټول حرام کړی دی.

په کنزل العمال او ذم الملاهی کښ روایت دے نبی ﷺ فرمائیلی دی په آخری زمانه کښ به ددے امت

یو جماعت شادوگان او خنزیران جوړ کړے شی. صحابه کرامو رضی الله عنه تپوس اوکړو اے دالله رسولﷺ آیا دوی به کلمه طیبه نه وائی. نبیﷺ اوفرمائیل چه ولی نه،مونځونه به هم کوی روژی به هم نیسی. حجونه به هم کوی، صحابه رضی الله عنه تپوس او کو نو بیا ؟ نبیﷺ اوفرمائیل دوی به موسیقی ،تمبلونه او ګانو بجانو والاعمل اختیار کړی وې.په خپله مستئ او شرابونو کښ به شپه تیروې بیا به په دے حال صبا کوی چه دوی به شادوګان او خنزیران جوړ شوې وي.

یو حدیث کښ داسے راځی چه ګانے منافقت په زړه کښ داسے رازرغونوی لکه اوبه چه فصل زرغونوی.

عزتمندودډیرسوچ نه کاراغستل پکاردی چه مونږدخوشحالےاو دالله دشکریه اداکولوپه حائے (موقع) ګانےبجانے،ګډا،قسماقسم ډانسونه،ډرامےاوفلمونه اختیارول شروع کړي دی .ځکه خو بیا دوادۀ نه څو ورځے پس ښه دمزے سره جهګړے شروع شی.

د ګانو بجانودمیوزک داکارونه خو به مشرکانو دقرآن خلاف کښ کول ډمے به ئی راوستے لکه مفسرینود نصر بن حارث باره کښ لیکلې دی. نن زمونږ معاشره کښ Uptodateخلق موسیقی ګناه نه ګنړی.بلکه دا یو فن ثقافت ګنړی په دے وجه چه څوک ګناه ګناه نه ګنړی هغوی ته د توبے توفیق هم نه نصیب کیږی په ګناهونو کښ لوئے شی او په ګناهونو کښ مړ شی دنیا کښ هم پریشانه وی او آخرت کښ هم پریشانه وی.

کنزل العمال کښ درسول الله روایت دے په دوؤ آوازونو په دنیا او آخرت کښ لعنت کړے شوی دی دخوشحالئ په وخت کښ دګانے آوازو باندے او دمصیبت په وخت کښ دچغو په آواز باندے نبیﷺ**فرمائی**څه دموسیقی دآلا تو دماتو داپاره رالیږلے شوی یم.

حدیث پاک مفهوم دے چه سندرے اوریدل گناه ده چه خواه کښ ئے ناسته فسق دے اولذت ترے حاصلول کفر دے.
تفسیر قرطبی ذکر کړی دی چه کوم سړے مړشو او سندرووالا وینځه ئے ساتله نو جنازه وربانددے مه کوی.
خلق سکول اوکالج ته خپل اولاد دتعلیم او تربیت دپاره لیږی خو نن ورته دغه ادارو کښ اکثر گډا گانے امریکن ډانسونه ښائی.

اٹھا کر پھینک دو باہر گلی میں

نئی تہذیب کے انڈے ہیں گندے

د حضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه د سندرووالا ښځے اجرت هم حرام دے.
الله تعالی دی مونږ دداسے قسما گناهونو نه په امن کښ اوساتی .

آمین ثم آمین

باب ۳۳ د ګانو بجانو نقصانات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمْ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وَ تَعَاوَنُوْا عَلَی الْبِرِّ وَ التَّقْوٰی وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَی الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ

معزز سامعینو په دی ایت کښ الله تعالی فرمائی چه''یوبل سره امداد کوی په نیکی باندی او په پرهیز ګارےباندی او یوبل سره په ګناه او په زیاتی باندی امدادمه‌کوی.

معزز سامعین /طلباء کرام ! نن په حجرو کښ هلکان یامشران وغیره یوبل سره په غیبت کښ لګیاوی موبائیل ئي روان کړی وډیوګانی غږه وی او نورئی په شریکه آوری نوداهم یوبل سره په ګناه باندی امدادکول دی اوددے نه الله منع فرمائیلی ده.

د ګانو بجانو ډیر زیات نقصانات دي څه نقصانات مونږه دلته بیانوؤ پکار ده چه خپل کورونه ، ځانونه ددې نقصاناتو او خرافاتو نه بچ اوساتو.

1. د ګډا ګانو اوګانو بجانو یو نقصان خو دادی چه دا الله او دا الله د رسول د خفګان ذریعه ده.
2. زړه کښي ورسره د الله د عظمت نه لوئی او غفلت پیدا کیږی.
3. د ګانو اوریدو سره زړه تك تور شی.
4. د ګانو اورید و سره د نیکی او دګناه تمیز ختم شی .
5. د ګانو اوریدو سره ګناه ته میلان سواکیږی.
6. د ګانو اوریدو سره انسان کښ منافقت پیدا کیږی.
7. د ګانو اوریدو سره په زړه د هدایت خبرې اثر نه کوی.

8. د گانواوریدوسره عبادت کښ زړه نه لګی.
9. د گانو اوریدو سره زړه کښ سخت والی پیدا شی.
10. د گانو اوریدو سره او فلمونو کتولو سره انسان جنسی جذبات زیات شی اوگناه طرفته مائیله شی .
11. د گانو اوریدو سره اوفلمونو کتو سره انسان کښ بې غیرتی پیدا کیږی.
12. د گانو اوریدو په وجه انسان ددین د کارونو نه په غفلت کښ پریوځی.
13. د گانو اوریدو سره مال او دولت ضائع کیږی.
14. د گانو اوریدو سره قیمتی وخت ضائع کیږی .
15. د گانو اوریدو سره دانسان حافظه کمزوری کیږی.
16. د گانو اورید سره نسلونه تباه کیږی.
17. مال کښ برکت ختمیږی.
18. عمر کمیږی اوبرکت ترې نه ځی.
19. د الله د عذاب مستحق جوړیږی.
20. گانو وئیلو اوریدووالا د شیطان محبوب جوړیږی.
21. گانی بجانی په څلورمذهبه حرا م دی.
22. گانے بجانے گمراهے له دعوت ورکوی.
زما عبدالرحمن وینا به هله درپه یادشی
چه د یو دِیوال ته مخ بل ته دِ شا شی.

باب ۳۴ دزنا کولو نقصانات

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَجِیْمِ۝بِسْمِ اللہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۝ وَ لَا تَقْرَبُوا الزِّنٰی اِنَّہٗ کَانَ فَاحِشَۃً۱ وَ سَآءَ سَبِیْلًا (۳۲)

معزز سامعین ماچه کوم ایت اولوستلو په دی ایت کښ الله تعالی فرمائی او زنا له خواته هم مه ورځی بے شکه دا بی حیائی ده او ډیر بد ه لاره ده.

د زناکولو ډیر نقصانات دي بعض د هغی نه اوس ذکر کوو اول خو دا چه زنا کولو سره د مخ نورکمیږی.عمر کښ ورسره بے برکتی راځی. سړی فقیری ته کینوی . الله پری خفه کیږی . زنا کار سره به په سختی حساب کولی شی. زنا کارته په قبر کښ سخت عذاب وی. د زنا کولو سره د انسان په شرافت لوئی داغ ولګی.زنا په دنیا کښ هم سبب د شرم دی. زنا سره زړه ناجوړه شی او هر وخت زړه پریشانه وی دکور نظام ورسره خرابیږی دښځی او خاوندتعلق پری خراب شی که چرته زنا کار واده کړی وو . دزنا کولوسره نسب ضائع کیږی. حدیث کښ راځی چه کومه ښځه په خپل قوم کښ داسی اولاد داخل کړي چه دهغوی نه نۀ وی نو هغوی دپاره الله سره هیڅ ثواب څه حق نشته او نه به ئی جنت ته داخله کړی.

زنا یو وقتی تعلق وی او شریف انسان تری لری وی یو عالم وائی ګوره زنا کولو سره څه کیږی.

لذت عارضی ملی عزت دائمی گئی

یہ ہے گناہ کا اثر کہ راحت زندگی گئی

د زنا کولوسره په بدن کښ ډیر مرضونه پیدا کیږی.زنا د الله غصه راکاږی. زنا د الله د عذاب باران ته دعوت ورکوی. زنا عام کیدل د قیامت دعلاماتو نه یو علامه ده.

امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی چه بی شکه زنا کول یو فرض دی چه ئی د چادا فرض اخلی نو

پوهه شه چه ستاد کوروالو نه به داقرض واخستلی شی.
مطلب ده که څوك دِې اوشرمول نو ته به هم شرمولی کیږی او ستا کور والا هم . دزنا یو بل قسم دادی چه هغه ډیر خطرناك دی چه یو تن خپلی ښځی ته طلاق ورکړی او بائنه یعنی طلاقه شی نو د شرم دوجی نه ئی ساتی چه خلق به راته طلاقی وائی خو دا خرت دلوئے ورځی غم ورسره نه وی.
په حدیث کښ د زنا شپږ نقصانات ذکر شوی دی.
نبی ﷺ فرمائیلی اے ډلیدمسلمانانو زِنانه نهٔ ځان اوساتی ځکه دی کښ شپږ نقصانات دی درې په دنیا کښ ړومبی د مخ رونق به ئی ختم شی دویم عمر به ئی کم شی دریم همیشه به غریب وی او دری (3) په اخرت کښ دادې ړومبی دالله غصه ده دویم بد حساب دریم دا چه د اُور عذاب به ورکولی شی.
بل روایت کښ راځی چا چه زنا اوکړه اویا ئی شراب اوڅکل نو الله تعالی به تری ایمان اوباسی لکه څنګه چی سړی قمیص د سرنه اوباسی.
زنا کار به په اور کښ څوړند وی.

باب 35 قوم لوط والا عمل

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۝ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ(١٦٧)وَ تَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ (١٦٨)

معزز سامعين! بعض مسلمانان هډو داسوچ نه کوی چه مونږ ته خوالله دکُنتُم خَيرَ اُمّةٍ خطاب راکړی اشرف المخلوقات ئې پيدا کړی يُو. او بياډِ هم په هغی خلقوکښ دامرض راشی چه نارينه دِې دَ نارينوؤ سره بد فعلی کوی ډيره دافسوس خبره ده . دا بد فعلی دَ حضرت لوط عليه السلام په قوم کښ وه. داکار هغه څوك کولی شی. چه حياپکښي بالکل نه وي.دادومره قبيح (بد) عمل دې چه ځناور ترې هم ځان ساتی. غوئی هم داعمل نه کوی سپی هم داعمل نه کوی.نونن ولی دامت محمديه ښکلی صلاحيتونو والا ښکلی ذهنونو والا دادومره قبيح کارکوی. قرآن کښ الله فرمائی ما چه کوم دوه ايتونه لوستلی وو دهغې ترجمه داده، ايا تاسو نارينوؤ ته راتله کوی دخلقو نه اوپريگدئے هغه چه پيدا کړيدی الله ستاسو دپاره ستاسو بيبيانی بلکه تاسو يوقوم ئی چی زياتی کونکی ئی دَ حدنه.

ګوری معزز سامعينو دلوط عليه السلام قوم دا بدعمل کولوسږودَسږو سره او چه کله لوط عليه السلام منع کول اوهغې نه منع کيدل نو الله په زمکه اُلټه کړه.اود کانړو باران پری اُوشو. دا عمل د لوط عليه السلام دَقوم نه مخکښ بل چا نه وو کړی خو چی هغوی شروع کړو و الله تباه کړل. حديث کښ راځی چی دالله لعنت د په هغه چا باندی چی د لوط عليه السلام د قوم والا عمل کوی. دری ځله ئی دغه شان لعنت اووی بل روايت کښ راځی تاسو کښ چاڅوك لاندی کړل چی د لوط عليه السلام دقوم والاعمل ئی کوو نو فاعل اومفعول دواړه قتل کړئی.

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دې چی نبی عليه السلام فرمائيلی دی څلورکسان داسی دی

چی صبا کوی دالله په غصه او بیگا کوی دالله په غصه او الله پری ناراضه وی تپوس اوشو چی اے د الله رسوله دا څوك دی؟
نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چی هغه نارینه چه د ښځو سره مشابهت کوی. او هغه ښځی چی د سړو سره مشابهت کوی اونو هغه تن چه ځناور سره بدفعلی کوی . او هغه تن چی نارینوو سره بد فعلی کوی.
بعض روایاتوکښ راځی چه څوك قوم لوط والا عمل کوی او داسی گنهگار مړ شو نو ددنه په قبر کښ خنزیر جوړ شی.
رسول الله فرمائیلی دی الله پاك هغه تن ته درحمت په نظر نه گوری چه څوك نارینوؤ سره بدفعلی کوی او څوك خپلی ښځی سره د شا نه بد فعلی کوی.
علامه جمال بن عبدالرحمن اسماعیل په لا تقربوالفواحش نومی کتاب کښ لیکلی دی چه مفعول چه چاسره بدفعلی کیږی نودی دَولدالزنانه هم بدتراو خبیث دې او چه څوك داکارکوی که هغه د آسمان په ټولو اوبو غسل اوکړی خو چه کله الله ته مخامخ کیږی نو د ناپا کی او پلیتی په حالت کښ به وی.

د قوم لوط خراب عادات:

ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه لس عادات دقوم لوط دا وو. وښته په غلطه طریقه اړول. لنگ کهولاوهل، بی ځایه ډزې کول ، پټه گیټی کول ، کمترې الوزول، شپیلی وهل ، گیټی په پینسو کښ پټول ، شراب څکل ، عورت نه پټول ، هلکانوسره بدفعلی کول.
بل روایت کښ راغلی دی چی د قوم لوط په عمل کښ لوبې کول په لډو، کرم بورډ، شطرنج، زمرې کول، سپي جنگول، چرگان جنگول، مرزان جنگول، او ناپ تول کښ کمی کول. ابن عباس رضی الله عنه فرماءی چی څوك په دې گناهونو کښ مړ شو چی د هلکانو سره ئې بدفعلی کوله نو ددنه په قبر کښ خنزیر جوړیږی (الکبائر ص ۶۳)

دداسی خلقو سره ناسته هم گناه ده.

صحبت صالح ترا صالح کند
صحبت طالح ترا طالح کند

کوم تن چی د قوم لوط والا عمل کوی نو هغه دالله نه هم حیاء نه کوی.

آن خدا وندی که هنگام سحر
که کرد قوم لوط رازیروزبر

بچوں گندے عمل والے مردوں سے دور ہو جاؤ اگر یہ کام اچھا تھا خدا پتھر نہ برساتا۔

بعضی هلکان یوبل سره په موبائیلو رابطے ساتی او دی خبائثو پسې گرځی . کله کله جینکی او هلکان په موبائیلو، انټرنیټ باندی رابطے کوی چی ځان له آخرت او دنیا دواړه خراب کړی او خپل ځان او قام قبیله هم اوشرموی. دداسی پلیتوکارونو نه ځان لری ساتل پکار دی.

کچھ کرلو نوجوانو کہ کشتی بھنور سے نکلے
ایسا نہ ہو کہ بلبل روتی چمن سے نکلے

باب ۳۶ فیشن پرستی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ وَمَا اٰتٰكُمْ الرسول فَخُذُوْه وَمَا نَهكم عنه فَانْتَهوا (الحشر۷)

معزز سامعين /قارئين: اکثردنارينوؤاوزنانوؤ په ښادو کښ او د خوشحالئ په موقعو باندی د فيشن اظهار کوی يعنی ځان خلقو ته ښائی خپل شکل وصورت لباس او دخبرو اندازد شريعت خلاف کوی .حال دادې چی دفيشن ډير زيات نقصانات دی.

د فيشن معنی نن صبا دا صورت مروجه ، ورواج دے،درسول الله ارشادمفهوم دی چه کوم تن خلقو نه دخودنی دپاره يوکارکوی نودقيامت په ورځ به ئی الله تول غيبونه خلقو ته ښکاره کړی.

د فيشن کولو مطلب داوی چه زه نورو خلقو کښ اوچت يم او خلق می لوئی مرتبی ولا اوګڼړی.

یہی تجھ کو دُھن ہے رہوں سب سے بالا
ہو زینت نرالی ہو فیشن نرالا

تجھے حسن ظاہر نے دھوکے میں ڈالا
ارے جیا کرتا ہے یوں ہی مرنے والا

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے۔

په خلقو کښ فيشن په دې وجه راغلی دی چه داخرت په ژوند ئي يقين نشته اودنبی عليه السلام د مبارکو او ښکلو طريقو ئی په زړه کښ عظمت نشته.

که زمونږپه زړونو کښ په اخرت صحيح يقين راغی او د نبی عليه السلام د ښکلو طريقو(سنتو) سره مو محبت پيدا شو نو ځمونږ ژوند به دغيرو طريقو او فيشنونو نه پاك پاتې شی.

نن صبا چی کوم فيشنونه خلق کوی نو دا اکثر درسول الله د سنتو خلاف دی.

ږیره خریل د سنتو خلاف کار دی خلق ئی د فیشن دوجه خروی.
یا ږیره د موټی نه کمول حرام دی خو خلق ئی د فیشن په وجه پټی پریږدی.
او نن صبا ډیر خلق په ږیره کښ هم فیشن کوی چی څوك ئي د زنې لاندې پریږدی او څوك ئی غوږونو پوری پریږدی.

آج کل لڑکے لڑکیاں بننے لگیں

داڑھی تو سرے سے غائب اور مونچیں کٹوانے لگیں۔

د نارینو دپاره ګیټی ښکاره پریخودل په احادیثو کښ راغلی دی او نبی علیه السلام بار بار ترغیب ورکړی دې. ابوهریره رضی الله عنه راوی دحدیث دې چی نبی علیه السلام اوفرمائیل چه الله ته به د قیامت په ورځ درحمت په نظر هغه تن ته اونه ګوری چه خپل ازار(پائنسه) د ګیټو نه ښکته ساتی.
بل حدیث کښ رسول الله فرئیلي دی چه د مؤمن ازار یعنی پائنسی د نیمی پنډۍ پوری وی او دنیمی پنډیی نه تر د ګیټو ترمینځ کښ چه وی نو هیڅ خرج (خبره) نشته او چه د ګیټو د لاندی وی هغه به دوزخ کښ وی ددی نه دامعلومه شوه چی د نارینه د پاره په لنګ یا پرتوګ باندی ګیټې پټول جائز نه دی.

افسوس دې چه نن مسلمانانو کښ دا فیشن رانوتے دی چه نارینه ګیټی پټوی او پرتوګ خپو کی راګاړي او زنانه ګیټی ښکاره کوی.

وضع میں تم ہو نصاریٰ تو تمدن میں ہنود

یہ مسلماں ہیں جنہیں دیکھ کر شرمائے یہود

عزتمندو د زنانوؤ د پاره پرده کول فرض دی خپل مخ او سترګی پردو سړو ته نه ښودل خو فیشن دادی چه نن ښکاره مخ ګرځی او نری او نیمګړی

لستونړی استمالوی چه دا بلکل حرام دی او داسی لباس والا زنانه به جنت ته هم نه داخلیږی بلکه د جنت خوشبو پری هم حرامه وی.
په دین اسلام کښ به سړی دښځونه پرده کوی خو نن فیشن دادی چه د هلکانو د جینکو سره تعلق وی تر دی پوری چه ډیر دمور پلار مخکښ د خپل اشناتعارف کوی چه ډیډي دا زما بوائے فرینډ دې. حالانکښ دا څومره لویه بی غیرتی ده د یو بل سره گپونه لگوی یوځائے تصویران اوباسی ، یو ځائے ملازمت کوی. د فیشن والا پیزار،لباس اچوی او مونږ نن خاموش یو چه زه د هر چا ځان له ځان له قبر دی.
عزتمندودځوانانو کاردانه وو دانن چه څه کیږی ځکه علامه اقبال رحمة الله علیه وائي.

نہیں ہے تیرا نشیمن قصر سلطانی کے گنبد پر
تو شاہین ہے بسیرا کر پہاڑوں کے چٹانوں پر

تو شاہین ہے پرواز ہے کام تیرا
تیرے سامنے آسماں اور بھی ہے۔

عقابی روح جب بیدار ہوتی ہے جوانوں میں
نظر آتی ہے ان کو اپنی منزل آسمانوں میں

الله تعالی به دهر انسان نه دهغه دژوندتیرولو باره کښ تپوس کوی حدیث کښ راځی د قیامت په ورځ به میدان محشر کښ هیڅ یو انسان د خپل ځائې نه قدم نه شی پورته کولی ترڅو پوری چی دهغه نه څلور سوالونه اونه شی او دهغی صحیح جوابونه ملاؤ نه شی په هغی کښ به یوداوی چي ځوانی دپه څه کار کښ زړه کړه نو د سوچ موقع ده کچرته مونږ ځوانی په داسی فیشنونو کښ تیره کړی وه نو بیا به زمونږ جواب څه وی؟ بیابه څومره دذلت وخت وي چی عذاب سره

مخامخ کیږو الله دِې مونږ ته د صحیح ژوند تیرولو توفیق راکړی (آمین)

باب ۳۷ دنظرغلط استعمال

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَ يَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ (نور30)

معزز طلباء کرام او مشرانو نظردشیطان د غشو نه یو غشی دی د غلط استعمال ډیر نقصان دی . بد نظری دقرآن په حوالے سره حرامه ده.

ماچی کوم ایت لوستلی وو هغی کښ الله تعالی فرمائی '' اووایه، مؤمنانو سړو ته چه ښکته ساتی نظرونه خپل او حفاظت دې کوی دخپلو شرمگاهونو دا خبره ددوی دپاره ډیر پاکیزه ده. هر کله چی الله تعالٰی سړی دبد نظرۍ نه منع کړل نو اوس په بل ایت کښ بیا حکم کوی ښځوته چی تاسو به هم خپل نظرونه ښکته ساتی. او دخپلو شرمگاهونو به حفاظت کوی او ښائیست خپل به چاته نه ښکاره کوۍ.

چه کوم خلق بد نظری کوې نو دالله د حکم خلاف ورزي کوی ، بد نظری کونکی د الله پاک په امانت کښ خیانت کوی . زمونږ دا بدن مونږ سره د الله امانت دی. او امانت د مالک درضا خلاف استعمالول جائز نه دی.

یو روایت کښ راځی لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُور الیہ (کنز العمال مشکوۃ) چی کوم خلق بد نظری کوی نو په هغوی هم لعنت او چه څوك ځان د بد نظرئی دپاره پیش کوی نو په هغوی هم لعنت دې د د الله د رحمت نه لری دی.

حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه فرمائی چه هره گناه دلیل د حماقت (بیوقوفتیا)ده اودبے عقلیوجه ده. د بد نظرۍ کولو سره خیالات گنده شی د نظرد غلط استعمال سره مثانی ته نقصان رسی اودالله نا شکره جوړ شی څکه ورته بیا خپله بی بی نظر پری نه راځی د نظر غلط استعمال سره نظرهم خرابیږی د نظر غلط استعمال سره په سر باندی چکر راځی په سړی باندی سرگرځی . په عباداتونو کښ وسوسے

راځی.سبق نه یا دیدل په هیڅ یو کار کښ زړه نه لګیدل وغیره.دا دنظر دغلط استعمال نقصانونه دی.

امام شافعی رحمة الله علیه خپل استاد وکیع ته د خپلی حافظے د کمزوری شکایت اوکړو نو هغه ورته اوفرمائیل د ګناهونونه پرهیز کوه ځکه چی علم دالله پاك فضل دی او دا نورالله نافرمان ته نه ورکوی.

شکوت الی وکیع سوء حفظی
فاوصانی الی ترك المعاصی
فان العلم نور من اله
وَنور الله لا یعطی لعاصی

خاک گر خاک ہوئی خاک پہ تو کیا حاصل
کاش یہ خاک فدائے شہ عالم ہوتی

کس خاکی پہ مت کر خاک اپنا زندگانی کو
جوانی کر فدا اس پر جس نے دی جوانی کو

د غلط نظر د استعمال دوجه نه انسان قسما قسم ګناهونو کښ اخته شی او بیا د الله د قهر مستحق جوړ شی. حدیث پاك کښ راځی چی غوږونه ، سترګی هم زنا کوی مطلب داچی په سترګو باندی داسی غیر محرمه ته کتل دا زنا کول دی او دا د سترګو زناده دغه د لاسونو،غوږونو هم زناده چی غلط اوریدل په غوږونو کوی نیول په لاسونو کوی غلط.

نو دالله په دربار کښ به د هر یو اندام نه تپوس کیږی چی دا ګناه دی ولی کړی ده. نوبیا به څه حال وی په هغه ورځ باندی چی کله هر یو نفس به د نفسی نفسی نعره وهی.عزتمندو نن د ګناه نه بچ کیدل په خپل ځان باندی رحم کول دی . الله دِ په د ی باندی د عمل کولو توفیق راکړی.

باب ۳۸ دوالدينو حقونه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَى مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمِ بِسْمِ اللهِ لرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا (۲۳)وَ اخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَ قُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِي صَغِيْرًا (۲٤)(بنی اسرائيل)

مور او پلار د الله تعالی د طرفنه ډير لوی نعمت دی خو ددی نعمت احساس هله انسان ته اوشی چه والدين ترې نه واخستلی شی. په قرآن کريم کښ اکثر ځايونو کښ الله تبارك وتعالی خپل حق ذکر کوی او ورسره متصل حقونه د مور اوپلار ذکر کوی.

ماچی کوم ايتونه تلاوت کړے وو په هغی کښ هم الله تعالی فرمائی ''او حکم کړی دے ستارب چی دالله نه سوادبل چاعبادت مه کوے مور اوپلار سره احسان کوی که په دوی کښ يو يا دواړو ستا په وړاندی بوډاوالی ته ورسيږی نو تاسو دوی ته اف قدر له هم مه کوی او مه ئی رټئ. او ښکته کړه دوی دپاره وزری د عاجزی دوجے د مهربانی نه او داسے وايه چی اے زماربه په دی ددواړو باندی رحم اوکړه لکه چی دوی ځه پاللے يم په ورکوټوالی کښ''.

دغه د مور پلار قدر الله په سورة القمن ١٤ ، احقاف ١٥ ، انعام ١٥١ ، عنکبوت ٨ ، البقره ٨٣ -٢١٥ کښ هم ذکر کړی دی.

دومره زياتو آياتونوکښ الله رب العزت حکم کړی دی چی مور اوپلار سره احسان کوے ښيګړه ورسره کوی . امدادورسره کوی په دی وجه اولاد باندی لازم ده چه د مور اوپلار خدمت کوی د مور اوپلار هره خبره چه د شريعت برابروی هغه به منی . مور او پلار دِ نه خفه کوی اولاد به ورسره ښه کوی. د مورپلار خيری او دعاګانی داولاد په حق کښ ډيری زر قبليږی . د مور پلار محبت اولاد سره بغير د شه طمع او لالچه وی ځکه چی مور اوپلارداولاد

پاره ځومره سختی برداشت کړی دی او د اولاد خدمتونه ئی کړی دی د ژمی به یخنی کښ ئي د اولاد د ګرم ساتلو کوشش کړی دي. دغه شان د ماشوم د صفائي ځومره خیال ساتی د ګندونو ډك لباس تری لری کړی او صفا جامی ورته اچوی . مور او پلار د بچو پیدائش ته خوشحالیږی د قدم اغستلو ته ئی انتظار کوی . لوبوکولو ته ئی خوشحالیږی.که ماشوم بیمار شي نو مور اوپلار ناقلاره وی که داولاد د سکول ، کالج دکتابونو داخلی وغیره خرچه وی نو داټول والدین برداشت کوی،کپړی ورته اخلی مورورله کپړی اخلی په دی وجه د مور او پلار ډیر زیات خیال ساتل پکار دي اوخاص کر چی بوډا والی پری راشی او طبیعت ئی د ماشومانو شی په وړه خبره خفا کیږی په وړه خبره خوشحالیږی.

حدیث د رسول الله کښ راځی '' **رضی الرب فی رضی الوالد وسخط الرب فی سخط الوالد (ترمذی)** د الله رضا د پلار په رضا کښ ده دَا و الله خفګان د پلار په خفګان کښ دی دابن عمر رضی الله عنه نه رویت دی مسلم ذکر کړی دی چه د نبی علیه السلام نه یو کس د جهاد دتلو اجازت اوغښتو نو نبی علیه السلام ورته وفرمائیل آیا موراوپلاردِې ژوندی دی وی فرمائیل آو جی نو رسول الله ورته اوفرمائیل ددې په خدمت تالره جهاد دی.

دمسلم او کنز العمال په روایاتو کښ دی رسول الله اوفرمائیل **الا انبئکم باکبرالکبائر؟ (ثلاثة) الاشراك بالله وعقوق الوالدین و شهادة الزور**

آیاخبرنه درکوم په لویو ګناهونو باندی؟ دالله سره شریك جوړول او دمورپلار نافرمانی کول او د دروغو ګواهی کول . دادری لوئے ګناهونه دی.

بل حدیث کښ راځی **لَعَن الله من سب والدیه.** دالله لعنت دی وی په هغه چا چه مور او پلار ته کنزل کوی .

په مسند احمد کښ حدیث دی مفهوم داسی دی چی الله اغواړی نو د اکثروګناهونو سزا ګانی دقیامت نه

روستو ورکوی لیکن چا چی د مورپلار نافرمانی اوکړه نو هغه له دنیا کښ سزا ورکړی.
بل حدیث کښ داسی دی چی دری دعاګانی (خیری) دی چی قبلیدو کښ ددی هیڅ شك نشته دمظلوم او مسافر او پلار دعا بچی په حق کښ زرقبلیږی.
د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی دا حدیث مشکوة ذکرکړی دی چی رسول الله فرمائیلی دی چه کوم خدمت ګزار ځوئی خپل مور پلارته د رحمت او شفقت په نظر اوګوری نودهرنظرپه بدله کښ به ورته دیوقبول شوی حج ثواب ورکولی کیږی صحابوؤ عرض اوکړو که یو تن دورځی سل ځله مور پلار ته ګوری نو نبی علیه السلام اوفرمائیل آو سل پیروکتلو ثواب به ورته ملاؤ شی دالله د طرف نه.

عاشق د مورمینه په تول کړه
د ترازو مزی ئی اوشلولو عالمه

باب ۳۹ دماشوم دپیدائش متعلق اهمی خبری.

اَلْحَمْدُاللهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَجِيْمْ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ (۴۹)اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّ اِنَاثًا ۚ وَ يَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ (۵۰)سورةزخرف

ترجمه (الله رب العزت) چه چاته اغواړی نو لونړه ورته ورکوی او چاته چه غواړی نو ځامن ورکوی یا ورته ځامن او لونړه جوړی جوړی ورکوی او د چا دپاره چه وغواړي نو شنډه ئے کړي هغه په هر څه پوهه دے د قدرتونووالا دی.

عزتمندو څنګه چی تاسو ته معلومه ده چی ماشوم دالله د طرفنه یو لوئی نعمت دی ددی نعمت هغه چاته احساس کیږی چه داولاد نه محروم وی لهذا ددی نعمت شکریه ادا کول پکار دی او شکر یه ئی داده چه د ماشوم د ابتداء نه صحیح تربیت اوشی ځکه چي دماشوم دپاره ابتدائی مدرسه د مور غیږه ده نو پکار ده چی دے ابتدائی مدرسه کښ ماشوم صحیح تربیت اوشی.او صحیح فطرت ته راواړولے شی ځکه چه په حدیث پاك کښ راځی "**كل مولد يولد على فطرة الاسلام فَاَبَوَاهُ يهودانه او ينصرانه او يمجسانه**"هر ماشوم په فطرت دَ اسلام پیدا کیږي خو مور پلار ئی یهودی کړ ی یا ئی نصرانی کړي. او یا ئی مجوسی جوړ کړی ځکه چی د ابتداء نه پرې تعلیم د یهودو نصاروو او مجوسو ورکوی او دالله تعالی دین پرې نه زده کوي نو دا لویه بی دینی ده.د ماشوم په مور اوپلار د ابتداءنه درې حقوق دی اول دا چه صحیح معنی والا نوم به ورته کیږدی. دویم دا چی دینی تربیت به ورته ورکوی او دریم دا چی کله بلوغ ته اورسیږی نود وادهٔ بندوبست به ورته کوی چه کله دَدی حقونو خیال نه ساتلی کیږی نو اولا د ئی نافرمانه وی لکه عمر رضی الله عنه ته یو

تن راغی د خپل ځوئی شکایت ئی ورته اوکړو چه زما ځوئی زما نافرمانی کوی نو عمر رضی الله عنه ئی ځوئی راوغښتلو او ورته ئی اوئیل چه د پلار نافرمانی ولی کوی د پلار ډیر حقونه دی هغه ځوئی ئی عمررضی الله عنه ته اوئیل چه ټیك ده د پلار حقونه خو زیات دی خو د بچی هم څه حق شته او کنه؟

نو عمر رضی الله عنه ورته دغه دری حقوق بیان کړه نو هغه هلك اوئیل چه دۀ زما یو حق هم نه دی پوره کړے نو عمر رضی الله عنه ئی پلارته غصه شو چه اول تا غلطی کړی ده او بیا دی ځوئی غلطی کړی ده ځکه چی اول تا صحیح تر بیت نه دی ورکړی.

نو ګوری رونړو مونږ او تاسو هم د بچو د ابتداء نه صحیح تربیت نه کوؤ او خپلی خوښی ته ئی پریږدو نو بیا د بچو نه سر ټکوؤ که کله اولا د خپلو والدینو د حقونو خیال نه ساتی نو په دِ کښ اصل غلطی د والدینو وی چی د اولاد د صحیح تربیت خیال ئی نه وی ساتلی.

دماشوم د پیدائش په وخت کښ خوشحالی کول د شریعت نه ثابته ده ځکه چی اولادالله رب العزت ډیر لوئی نعمت دی خو د نارینه اولاد په پیدائش خوشحالی کول او دجینئ په پیدائش خفګان کول د مشرکانو طریقه ده . ځکه به مشرکانو د لور په پیدائش ډیر خفه وو او ژوندی به ئی خښولی.نو مسلمانان به په دواړو خوشحالی کوی.

ما چی کوم ایت لوستلی وو هم په هغی کښ الله دا فرمائی چی نارینه یا زنانه اولا د،یا ګډوډ اولا د ورکول صرف او صرف د الله کار دی. د بعض خلقو چی لور اوشی نو خپلی بی بی ته غصه کوی څوك چی داسی کوی نود دے په الله رب العزت باندی اعتراض دی داانتهائی جاهل انسان وی حالانکه احادیثو کښ راځی چی نیك بخته زنانه هغه ده چی اول ئی

لور پیدا شی او دی باره کښ ډیر احادیث راغلی دی (بخاری ، مسلم ، ابن ماجه ، ابو داود) امام احمد ذکر کړی دي.

چی کله ماشوم پیداشی نو دهغه په ښي غوږ کښ آذان او گس غوږ کښ قامت د احادیثو نه ثابته ده کنزالعمال ، شعب الا یمان وغیره ذکر کړی دی.

د ماشوم د پیدائش نه روستو د یو الله والا انسان د خُلی جوته څیزونه ورکول که کهجوره وی که شهد یا بل خوږ څیز وی ورکول هم ثابت دی د رسول الله نه او داحدیث بخاری ، مسلم کښ شته دی چی رسول الله د صحابی څوئی له داسی کړی وو او دی ته تحنیك سنت وائی امام نووی رحمة الله علیه وائی د تحنیك سنت کیدلو باندی اجماع ده.

دغه شان بل روایت کښ دی چی کله د ابو طلحه کره دریم بچی پیدا شو نو د نبی علیه السلام خدمت کښ ئی حاضر کړو او اوچه کهجوره ئی هم د ځان سره راؤړه . نبی علیه السلام ماشوم په غیږ کښ واغستو او کهجوره ئی په خله کښ نرمه کړه او بیا ئی ماشوم ته په خله مبارکه کښ واچوله او ماشوم ته ئی نوم هم کیخوده.

باب ۴۰ د ماشوم عقیقه ، نوم کیښودل

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا. (الحشر۷)

مغزز سامعین کرام! د ماشوم د پیدائش په اوومه ورځ باندی عقیقه کول د ثواب کار دی د هلك د طرف نه دوه چیلی یا ګډان او د جینی د طرف نه یو ګډ یا چیلی ذبح کول دی.

حدیث کښ راځی ابن ماجه نمبر۳۱٦۵ مسند احمد جلد ۵ /ص ۱۷ باندی ذکر دی.

چی هر ماشوم په خپله عقیقه کښ ګانړه وی په اوومه ورځ دی عقیقه اوکړی شی سر دی ورله اخرئیلی شی او نوم دی ورله کیښودلی شی.بل حدیث کښ راځی د هر تن سره عقیقه ده نو د هغه د طرف نه وینه توئی کړی (څاروی حلال کړی) او دهغه نه تکلیف لری کړی. دغسې په نوروډیرو حدیثونو کښ هم داسی راغلی دی.ملاعلی قاری رحمة الله علیه ذکر کړی دی چه د چا خواهش وی چه اولادئی دلوئیدو نه بعد هم نافرمانه نه وی نو دخپل اولاد عقیقه دی کوی ځکه چی د عقیقی کولو سره په اولاد کښ د منلو جذبه پیدا کیږی.

د عقیقی طریقه داده چه د ماشوم سر دی اوخرئیلی شي او د ویښتو برابر سپین زر یا دهغی قیمت خیراتی ورکول او دی ماشوم نوم دِ هم کیښودلی شی بعض خلقو دا دستور دی چی د ماشومانو ویخته بالکل نه کټ کوی حا لانکه د عقیقی په ورځ د ماشوم ویښته کټ کول په ډیر و روایاتو کښ ثابت دی.

په عقیقه کښ نر او ماده ذبح کول سره فرق نه راځی که د هلك د طرف ئی ددوو وس نه وی نو په یوګډ یا یو چیلی باندی هم عقیقه کولی شی د کوم څاروی چی قربانی جائز ده په هغی باندی عقیقه هم کولی شی د عقیقی د څاروی غوښه که چا

تقسیم کړی یا که خپلو خپلوانو ته په کښ دعوت
ورکوی دواړه قسمه جائز ده.

د عقیقی غوښه خپل پلار نیکه هم خوړی شی دعقیقی
بهتره ورځ اومه ده که په اومه ورځ پاتی شی نو
بیا په څوارلسمه او په یویشتمه ورځ باندی هم
خیر دی. که څوك عقیقه اونکړی نو هیڅ قسم ګناه
پری نشته اوکه څوك ئی اوکړی نو ډیر ثواب دی.
ماشوم ورسره د ډیرو مصیبتونو نه محفوظ وی. په
شریعت کښ خود ماشوم د پیدائش نه پس تحنیك
اذان ، عقیقه ، نوم کیښودل ، ختنه کول ثابت
دی خو نن ځمونږ معاشره کښ د ا ثابت شوی طریقو
نه غفلت دی او ددی په ځائی نورو رواجونه ،
رسمونه ، ټوټکی رادننه شوی دی لکه د آذان د
پاره مُلا خاص کول اوبیا پیسی ورکول او دا
عقیده ساتل که دا اُنکړو نو بیا ماشوم
نافرمانه لوئیږي دا غلطه ده.

د ماشوم په پیدائش ګانی بجانی وئیل ډزی
کول ډمامی وهل ګناه ده او د ﷲ تعالی د نعمت
ناشکری ده.

باب ۴۱ د بچی نوم کیښودل

د ماشوم د پاره ښکلی نوم کیښودل پکاردی. که څوك دا عقیده اوساتی چی ماله فلانی پیر یا زیارت وغیره دابچی راکړی دنو داشرك دی . ترمذی شریف کښ رویت نمبر۱۸۳۹ کښ دا بیان دی. عائشه رضی الله عنها فرمائی چی رسول الله به غلط نوم بدلولو.

عزتمندو رسول الله دخلقو ۱۲۰ غلط نومونه بدل کړی وو داسی نوم کیښودل پکار دی چه په هغی کښ د الله نومونو ته د بندگی اضافت وی لکه عبد الرحمن ، غلام الله یا د انبیاءُ نومونه په شان نوم کیښودل یادصحابوؤ نومونه کیخودل پکاردی. د ډرامو ، فلمونو والو نومونه بالکل کیښودل نه دی پکار . حدیث د رسول الله کښ راځی ابوداؤد ، نسائی ذکر کړی دی چی الله ته خوښ نومونه عبدالله او عبدالرحمن دی . دغه شان حدیث کښ راځی چی تاسو به په قیامت کښ د پلار انو په نومونو سره رابللی‌شی لهذا ښکلی نومونه کیږدی.(ابو داؤد نمبر٤٩٤٨)

نوټ:. شیخ القران محمد طاهر رحمة الله علیه لیکلی دی چه کومو روایاتو کښ راځی چی تاسو به دمیندو په نومونو سره د قیامت په ورځ رابللی شی هغه باطل دی امام بخاری رح باب قائم کړی چی د پلارانو په نوم به رابللی شی.

د ماشوم ختنه (یعنی سنت کؤل)

دعقیقی په ورځ د ماشوم ختنه کول هم ښه کار د د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی (معمع الزوائد) .

د ماشوم په سلسله د پیدائش کښ اوؤه څیزونو ختنه کول د سر ویښته خرئیل.

دماشوم صحت ته کتل پکاردی که کمزوری وی نو د اوؤ ورځو نه پس اودولسو کالو نه مخکښ هر وخت دختنی کولو اجازت شته.

د ختنی نه پس چه ماشوم ښه شی نو بیا خیرات کولی شی اوکه نه کوی نو لازم وربانـدی نه دی. د ختنی په وخت دا لا زم گنړل چه ترور به ئي لامبه وی او ماما به ئی ختنه کونکی ته بوځی دا په شریعت کښ نشته. بعض علاقو کښ د ختنی په ورځ کښ د ماشوم نیکه مړوی نو دهغه قبر ته ئی بوځی او گیر چاپیره ئی تری‌تاووی‌دانشته شریعت کښ اوماشوم ته شال سهره اچول وغیره رسومات کول فضول کاردی د ختنی په موقع د سرو خپو پالنگونه لازم گرځول فضول کاردی . د ختنی په موقع خلق راجمع کول او دعوت نامی لیږل او خلقو ته روټی د نوم ناموس او ریا په عرض ورکول ښهٔ کارنه دی ددی نه اجتناب پکار دی.

یو روایت کښ راځی مسند احمد ذکر کړی دی عثمان بن ابی العاص ته چا دختنی دعوت ورکړو هغه دعوت قبول نه کړو او ورته ئی اووئیل چه مونږ د نبی علیه السلام دور کښ هم د ختنو پروگرام ته نه راتلو او نه مو په کښ دعوتونه کول.

مفتی رشید احمد صاحب په احسن الفتاوی کښ لیکلی دی چی دارسم د ختنی د جاهلیت دَ دور دی او داداسی بدعت دی چی په دی ځومره هم رد اوکړی شی دا کم دی.

مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله اصلاح الرسوم کښ وائی د ختنه په موقع باندی خلقو له دعوتونه ورکول بلکل خلاف سنت دی. دغه شان د بچو د پاره بندونه غوټه کول ناروااکار دی . خذیفه ؓ دیو مریض لاس ته تار اولیدو او هغه ئی تری اوشلولو چی دا شرك دی (ابن کثیر جلد ۳ ص ٦٤٢)

بعضی زنانه د ماشومانو دپاره د جاهلیت هغه ټوټکی او رسمونه کوی لکه د بالښت (تکیه) لاندی ورته چاړه کیږدی چی یریږی نه حالانکه دا په دین اسلام کښ نشته رسو ل الله خو خپل امت ته دا تعلیم ورکړی دې چی دعاگانی وائی.

لکه بخاری نمبر۳۱۹۱ حدیث کښ راځی ابن عباس رضی الله عنه فرمائی کان رسول الله یعوذ

الحسن والحسين يقول اعيذ كما بكلمات الله التامة من كل شيطن وهامة ومن عين لامة ويقول هكذا كان ابراهيم عليه السلام يعوذ اسحاق واسماعيل.

دا باب د الله په فضل كرم سره ختم شو.
تاريخ ٢٢/٠١/٢٠١٩
بروز بدھ رات 09:00 بجے

باب ۴۲ سالگره (Birth Day)

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلَی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وَ مَآ اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْہُ وَ مَا نَھٰکُمْ عَنْہُ فَانْتَھُوْا

معززسامعين كرام الله رب العزت مونږ له د خپل پيغمبر په واسطه ډيرى ښكلى طريقى راليږلى دى كه هغه د غم باره كښ دې او كه د ښادى باره كښ دې، هغه دلين دين باره كښ دې اوكه هغه د عبادت باره كښ ده خو ټولى طريقى رسول الله مونږ ته ښودلى دي او په هغى كښ زمونږ كاميابى اوكه چرته هغه طريقى مونږ پريښودلى او غير طريقى مو راونيولى نو بيا زمونږ ناكامى ده ځكه الله دِ امت ته سورة الحشر كښ تعليم وركوى چى هغه طريقه چى تاسو ته ئى رسول الله دركوى نو په هغى باندى عمل اوكړى او د كومى نه مو چى منع كوى نو دهغى نه منع شى دالله رسول الله مونږ ته فرمائى چى زما طريقه باندى عمل اوكئ . عليكم بسنتى ''په تاسو زما سنت طريقى لا زم دى.او كچرته مونږ دا طريقى درسول الله پريږدونو رسول الله فرمائى مَن تَشَبَّہَ بِقَومٍ فَھُوَ مِنھُم (سنن ابى داود) مسند احمد جلد ٤ص ٦/٥

چا چى دكوم قوم سره مشابهت اوكړو نو هغه د هغوى نه دى.

د ترمذى په حديث نمبر٦٩٥ كښ دى نبى عليه السلام فرمائى چه نه دى زمونږ نه هغه څوك چى زمونږ نه علاوه د غيرو سره يوشان والى كوى. ديهودو او نصاروؤ سره مشابهت مه كوى چى د پيغمبر طريقه باندى عمل اوكړ و نو بيا خو به د قيامت په ورځ دا وئيلى شو كنه

تیرے محبوب کی یارب شباھت لے کے آیاہوں
حقیقت اسکو تو کر دے میں صورت لے کے آیاہوں

عزتمندو زمونږ بعض علاقوکښ خلق سالګره (Birth Day)مناوهی لیکن د هغی حقیقت ته کتل پکار دی چی دا د چاطریقه ده د سالګری مناوهلو په وخت کیك کټ کول او شمع بلول او مړی کول او په دی الفاظو سره مبارك باد ورکول.Happy Birth day to you دا د غیر مسلمو طریقه ده.

مفتی رشید احمد لدهیانوی رحمة الله په احسن الفتاوی جلد ۸ صفحه ۱۵٤ کښ لیکلی دی سالګره مناوول یو قبیح رسم دی ددی پریخودل واجب دی بیا په *آپکے مسائل اور انکا حل*کښ لیکلی دی سالګره مناوول اسلامی تعلیم نه دی دا دغیر مذهبو طریقه ده ددی پریخودل واجب دی.

دغه شان قاری عبدالباسط صاحب هم لیکلی دی چی دا یو فضول او بی مقصد ه رسم دی او دا فضول رسم یهودو او نصاروو ایجاد کړي دی.(سوال وجواب جلد ۳ ص ۱٤۸)

فتاوی حقانیه جلد ۲ ص ۷٤ کښ لیکلی دی چه په اسلام کښ د سالګری هیڅ ثبوت نشته د خیرالقرون نه سالګره مناوول نه دی ثابت دا ناکاره رسم د انګریزانو ایجاد دےاو دا رسم نن سبا بعضو مسلمانانو کښ هم راغلی دی د سالګری په دعوت کښ شرکت کول او یو بل ته تحفه تحائف ورکول فضول کار دی پاك شریعت ددی اجازت نه ورکوی .

مفتی یوسف لدهیانوی رحمة الله هم لیکلی دی چی د سالګره په پروګرامونو کښ شرکت کول صحیح نه دی.

لګ سوچ پکار دی رونړو چی مونږ نن ولی دسنت طریقوپه ځائی د یهودو ، نصاروؤ طریقی له ترجیح ورکوؤ.

اللهم احفظنا منه

باب ۴۳ دځان نه جوړیشوی ختمونه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلٰوةُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِيْدِ وَالسنة اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ۝بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا

عزتمندو ! بعض خلقو دځان نه څه غيرشرعی ختمونه جوړکړی دی. چی دهغی په شريعت کښ څه جواز نشته.

د حلوا ختم

بعض زنانه چی څه کارئی نه‌کيږی نو دهغی دپاره ختم اومنی او هغی ته د حلواختم وائی. دهغی طريقه داوی چی ښځی کورته راجمع کړی اول دوه دوه رکعته نفل چی چا څه د پاره منلی وی دهغی د پاره کوی. او چه څوك ځان د پاره دا ختم منی نو اول ځان دپاره دوه رکعته اوکړی بيا نفلونو پسی دعا کوی چی کله ئی دعا د پاره لاس پورته کړی وی نو لاس کښ ورله حلوا او ماسته گدی لاس په مخ دراخکلو نه مخکښ اوسټی نو بيا لاس په مخ راښکی بيا خپل لاس دهغه چا قميص پوری راکاږی چه چا دا ختم منلی وی. او دغه شان ٥ سيره حلوا پخه وی او دهغی دپاره پنځه پاواه غوړی پنځه پاوا چينی پنځه پاوا سوجی پنځه پاواه ميوه وغيره اخلی . او دغه حلوا صرف ختم کولووالا خوړی شی د کور نه بهر چاته اوړل جائز نه دی.ددے ثبوت نشه.

د ببيانو ختم.

بعض زنانه د څه مقصد د پاره د ببيانو ختم منی د هغی طريقه دا وی چه لس (١٠) ښځی راجمع کوی. دشلو کورونو خير راټول کړی او چی څه ددی کورونو نه راټول کړي نو په هغی چائی پخه کړی او ورسره څه راوړی دا ښځی سبق وائی او دولس رکعته نفل مونځ اوکړی دی ختم ته هغه زنانه نه‌پريږدی چا سره غيږه کښ چه ماشوم هلك نه وی. د کوټی دننه کنده اوکنی اوهغه لوخی هغی کښ اوينځی اولاس هم او دا ختم د زيارت په ورځ ١٠ بجی کوی.

~~د هيوکو ختم ددے څه ثبوت شريعت کښ نشته.~~

بعض خلق د کهجورو هډوکی راټول کړی او په هغی باندی دجُمعی په شپه یو کلمه په التزام سره لولی . او زنانه راجمع کوی چه دَدی په شریعت کښ ئی هیڅ ذکر نشته.

قهری ختم
بعض زنانه په قهری ختم کوی چه سورت توبه اووائی چی دا دومره قهر جن سورت دی چه په ځان بسم الله هم نه پریږدی .
د مرچکو ختم
بعض په خاص طریقه د مرچکو ختم کوی.
اووه ګله ختم
بعض زنانه یو ختم منی چه اووګله ئی کوی د ګل په ورځ ناطقئ ښځی راجمع کوی بیا هغوی ختم اوکړی بیا ورته حلوا پخه کړی. شپږ ګله ختم اوکړی نو چه مراد ئی نه وی پوره شوی بیا اووم ګل پریږدی چه کله ئی مراد پوره شی نو اوو ګل والا ختم بیا اوکړی.
د تور څادر ختم
بعض ددین نه ناخبره خلق یو ختم کوی چه ورته د تور څادر ختم وائی په ځان تور څادر واچوی اوهغه ځائی کینی چه چرته واښه او شرغشی وی یو څلویښت کرته سورة یاسین لولی بیا لاس الته اوچت کړی دشمن پسی بددعا کوی اووائی چه داسی ختم کولو سره دشمن ډیر ذر سزاوار شی.

د ملنګی ختم
بعض زنانه یو ختم منی چه په وریژو د الله نوم جوړشی نو یوځل ئی بیا کوی اوکه د پیغمبر نوم پری جوړشی نو اوو(۷) ځله ئی کوی او په دی کښ هم د ورځی تخصیص کوی . بعض زنانه د قرآن په ټکو ګوتی ګرځوی او ختم کوی لا اله الا الله پری وائی . دی زنانو ته پکاردی چه د قرآن د زده کولو کوشش اوکړی.

عزتمندو ! بعض خلق د غل معلومولود پاره د کوزی ختم کوی او په کوزه باندی غل معلوموی او ورسره څه خاص سورتونه وائی . او دغه په دی طریقه سره غل معلومول یا دسپو په ذریعه غل معلومول یا په نوك او په شیشه کښ غل معلومول دا غلطه طریقه ده.

عزتمندو د داسی غیر شرغی کارونو نه ځان اوساتے.

باب ۴۴ د الله ذكر

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ۝ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ وَ اذْکُرْ رَّبَّکَ فِیْ نَفْسِکَ تَضَرُّعًا وَّ خِیْفَةً وَّ دُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ ۝ الاعراف۲۰۵

ترجمه: اویادوه خپل رب په خپل زړه کښ په عاجزی اویره باندی اوسوادتیز آواز نه

معزز طلباء کرام ! د ذکر کولو ډیر فضیلت دےفقیه ابو اللیث رحمة الله تنبیه الغافلین کښ دا حدیث نقل کړی دی چی ابو درداء رضی الله عنه د حضور ارشادنقل کوی چه زه تاسو ته بهترین عمل اونه ښائم ؟ چی ستا سو د مالك په نزد ډیر پاکیزه دی. ستاسوددرجاتو ډیر اوچتونکی دی تاسو دپاره د سرو او سپینو زرو لګولو نه هم زیات دی بلکه د هغه بلکه دهغے جهاد نه هم ډیر زیات دے چه په هغےکښ تاسو د دشمن سر قلم کړی او هغوی تاسو شهید کړی . هغه دالله ذکر دی . ترمذی ۳۳۷۷ ، ابن ماجه ۳۷۹۰ ، احمد ۲۰۹۱۳ ، مالك ٤٤١

د ټولونه درانه اعمال

ابو جغفر رضی الله عنه د نبی اکرم دارشاد مبارك نقل کوی چه ددی اعمال د ټولو نه درانه اعمال او مشکل اعمال دری دی.

1. د خپل ذات سره انصاف کول
2. د خپل وروروسره تعاون دمال کول
3. د الله ذکر کول.

حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی چه د حضور نه تپو س اوکړی شو کوم یو عمل افضل دی؟ ارشاد ئی اوفرمائیلو ترمرګه پوری ذکر الله سره رطب اللسان پاتی کیدل.

مالك بن دینار رحمةالله علیه فرمائی کوم کس چی چه د مخلوق د یاد په ځائی د خالق د یاد سره مانوس نه دی دهغه عمل ناقص دی زړه ئی ړوند او عمر ئی ضائع دی.

حضرت انس رضی الله عنه بن مالك رحمة الله علیه د حضور دا ارشاد نقل کوی چه د الله ذکر د ایمان علامت دی او د نفاق نه برأت دی د شیطان مقابله کښ د بچ کیدو قلعه ده او دوزخ نه د خفاظت ذریعه ده.
عبدالله ابن عمیر رضی الله عنه چه کوم کس الحمدلله وائی دهغه دپاره د اسمان دروازی پرانستلی کیږی. الله اکبر د زمکی او اسمان ترمینځه خلا ء ډکوی او د سبحان الله ثواب دومره دی چه د الله نه سوا د چا علم هغی ته نشی رسیدلی.
حدیث قدسی.
په حدیث قدسی کښ دي چه کله بنده ما په خپل زړه کښ یادوی . زه هم هغه دغه شان یادوم. که هغه په تنهائی کښ زما ذکر کوی نو زه هم په تنهائی کښ د هغه ذکر کوم .که هغه په کوم مجلس کښ مایادوی نو زه د هغی نه ډیر ښه او اعلٰی مجلس کښ هغه یادوُم . هم دغه رنګه ئی ارشاد اوفرمائیلو چه کوم کس په بستره باندی پروت دالله ذکر کولو کولو سره اوده کیږی د بیداره کیدو پوری به هغه په ذکر کوونکو کښ شمارلی کیږی.
علماء ذکر کوی چه د الله تعالی د طرف نه ذکر دهغه د مغفرت او عفو نوم دی لهذا کله چه بنده د الله تعالی ذکر کوی نو الله تعالی هغه بنده په خپل مغفرت سره نوازوی .
حضرت ابن عباس رضی الله عنه د ایت من شرالواسواس الخناس په تفسیر کښ فرمائی چه ددی نه مراد شیطان دی چه دَ کوم سړی په زړه باندی مسلط وی نو کله چه هغه د الله تعالی ذکر شروع کوی نو شیطان لری کیږی

او کله چی فارغه شی د ذکر نه نو شیطان ورته وسوسه اچوی.
حضرت کعب بن احبار رضی الله عنه فرمائی چه په ټولو اسمانی کتابونو کښ دا مضمون ملاویږی چه الله تعالی فرمائی چه کوم کس ته زما د ذکر

کولو له وجه د غوښتلو فرصت نه ملاویږی نو هغه ته د غوښتلو والا نه هم زیات ورکوم. (ترمذی ۲۹۲٦) (دارمی ۳۲۲۲ ، وهذا هدیث حسن غریب)

بازار ته د تلو په وخت د الله ذکر

چه څوك بازار ته دداخلیدو سره لااله الله وحده لاشریك له له الملك وله الحمد یحی وَیمیت وهو حی لا یموت بیده الخیر وهو علی كل شیئٍ قدیر . وائی نو الله تعالی د هغه دپاره لس (۱۰) نیکیانی لیکئ او لس درجه ورله اوچتوی (ترمذی ۲٤۲۸ ، ابن ۲۲۳٥)

محمد بن واسع وائی چه زه خراسان ته راغلم او د قتیبه بن مسلم سره می ملاقات اوشو نو ما ورته اوئیل تا دپاره می یوه تحفه راوړی ده دا حدیث می ورته واورولو حضرت قتیبه رحمة الله علیه به روزانه په سورلئ کیناسته او بازار ته به راتلو او دی کلمات وئیلو سره به واپس تلو .

دذکرپنځه فوائد

1. ذکر سره د الله رضا حاصلیږی.
2. دی سره مزید د نیکی حرص زیاتیږی.
3. ترڅوچه په ذکر کښ لګیا وی نو شیطان نه به په خفاظت کښ وی.
4. په دي سره به زړه کښ نرم والی پیدا کیږی .
5. ذکر د ګناهونو نه منع کوی .

الله دی په دباندی د عمل کولو توفیق راکړی. آمین.

باب ۴۴ د ذکر کولو طریقه

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَحْدَہٗ وَالصَّلٰوۃُوَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بُعِثَ بِاِشَاعَتِ التَّوْحِیْدِ وَالسنۃ اَمَّابَعْدُفَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمْ بِسْمِ اللّٰہِ لرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وَ اذْکُرْ رَّبَّکَ فِیْ نَفْسِکَ تَضَرُّعًا وَّ خِیْفَۃً وَّ دُوْنَ الْجَھْرِ مِنَ الْقَوْلِ الاعراف۲۰۵

ترجمه :. او یاد وه خپل رب په خپل زړه کښ په عاجزی اویره باندی اوسوا د تیز آواز نه
عزتمندو ! ددی ایت کریمه مقصد دادی چه الله فرمائی چه ما په زړه کښ غلی او په یره باندی بغیر د تیز اواز نه یادوی.

شریعت محمدﷺ مونږ ته هر یوه طریقه بیان کړی ده د معاملاتوهم دعباداتو هم د مونځ ذکر خیرات د نفلونو وغیره.

بعض خلق د رمضان المبارك په طاقو شپومبارکو کښ په اخری عشره د نفلونو ، ذکر ، تلاوت،دعا ، استغفار، وغیره د پاره جماعتونو مدرسو ته راغونډیږی . حالانکه دا بدعت دی ځکه چی د نفل مونځ ثواب د جماعت په نسبت په کور کښ ډیر بهتره دی او دغه خلق د نفلویا د ذکر د پاره اعلان کوی خلق یو ځائی ته راغواړی او ددوی د په ځائی د نفلی عبادت ثواب په مدرسه جماعت کښ زیات ګنړی نو دا طریقه سنت بدلول دی او داسی اجتماع کول په شریعت کښ منع ده.صحابه کرامو او تابعینو کښ چا هم د نفلی عبادت دپاره خلق نه دے راغونډ کړے.

حضرت اشرف علی تهانوی دیوبندی رحمة الله علیه فرمائی چه د رمضان المبارك په انتظار کښ په نیك کارونو کښ روستو والی کول بدعت دی فرمائی چه بعض خلق د رمضان نه مخکښ نیك کارونه بند کړی مثلاً زکوة ورکول ، کال ئی په شعبان کښ پوره شو او دغه سړی درمضان په انتظار دی او شعبان کښ زکوة نه ورکوی نوکه چرته د رمضان په انتظار کښ د صدقو وغیره روستو والی د ثواب کاروو نو شریعت خو به چرته فرمائیلی ووکنه . لیکن شریعت داسی کله هم نه

دی فرمائیلی نو مونږ له داسی کول زیادت فی الدین اوبدعت دی (تغلیل المنام بدعت کی حقیقت، اور اس کے مسائل ص ۱۴)
نو دغه شان که یو سړی بغیر د **رمضان المبارك** نه کله کله هم ذکر نه کوی او بیا دِ په طاق شپو درمضان المبارك کښ داسی مجلسونو ته ځی چه هلته خلق جهری ذکر کوي اجتماع سره او داسی محفلونو ته خلق راټولولی شی نو دا هم بدعت دی لکه دا کارونه نن سبا بدعتیان کوی.چه جهراً ذکر کوي یا عید میلاد النبی ﷺ مناوهی مروجه.
معزز سامعین کرام! دا خبره زهن نشین کړی چا چه بدعت جوړکړی دی نو هغه ددین دشمن دی
1. حدیث کښ راځی چا چه د بدعتی سړی عزت اوکړو نو هغه دَاسلام په نړولو کښ کوشش اوکړو (بهیقی)
2. بل حدیث کښ راځی اهل بدعت د ټول مخلوق نه بدتر دی (تاریخ اصفهان)
3. بدعتیان د جهنم سپی دی (متناهیة)
4. الله تعالی د بدعتی هیڅ یو عمل نه قبلوی تر دی چی توبه دبدعت نه او نه باسی (الجمع)
5. کله چی بدعتی سړی مړ شی نو اسلام ته یوه فتح ملاؤ شی (جامع الکبیر)
6. ځان د بدعت نه اوساتی ځکه چی بدعت گمراهی ده. (الجامع)
7. بدعتی زما دامت نه نه دی. (الدیلمی)
8. بهترینه خبره د الله د کتاب ده او بهترین سیرت (نمونه) د(محمد ﷺ سیرت) (نمونه) ده او بدترین کارونه بدعت دی اوهر بدعت گمراهی ده . (مسلم، مشکوة)

عزت مندو ! زه اوس د هغه خلقو دکتاب نه یو څو حوالی لیکم چی هغوی دبدعت په تردید کښ د صحابو اقوال لیکلی دی او دصحابوؤ دسنتو پابند عمل ئی لیکلی دی لیکن پخپله بدعات دے خلقو پرینه خودل.

پخپله پری حملے کوی
بل ته مسئلے کوی.

دجامعه دارالتفسیر والحدیث وحانقاه تفسیرشمسیه په زیر اهتمام کښ مفتی جواد احمد صاحب '' تاریخ مسنون تراویح نومِ کتاب لیکلی دی د هغی ن څه حوالی لاندی ذکر کوو.

1. بانی بدعت سره سلام بند. حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه له یو سړی د چاسلام راوړو نو هغه رضی الله عنه اوئیل چی ما آ وریدلی دی چی دغه سلام رالیږلو والا بدعت ایجاد کړی دی زما د طرف نه هغه ته د سلام رسولو هیڅ حاجت نشته. (تاریح مسنون تراویخ صفحه ۷٦ بحواله مشکوة باب الایمان بالقدر)

2. حضرت عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه ته یوځل چا دماشوم د سنت دعوت ورکړو نو هغه ترینه انکار اوکړو چی د رسول الله په زمانه کښ مونږه د سنت په موقع باندی نه تلو او نه به دعوت ورکیده.

مطلب داچه (داد نبی علیه السلام نه نه دی ثابت نو مونږه هم دین کښ د ځان نه کار نه کوو. صفحه ۷٦ بحواله مسند احمد جلد ٤ صفحه ۲۱۷)

3. حضرت ابن عمررضی الله عنه د آذان ظهرنه پس مؤذن نه واوریدل چی هغه بیا خلقو ته د مانځه د پاره آواز اوکړو نو ابن عمر رضی الله عنه بے حده غصه شواوخپل ملګری مجاهد رحمة الله علیه ته ئی اوفرمائیل چه ما ددی بدعتی ددربار ه بوځه اوبیا ئی جماعت پریخوده هلته ئی مونځ اونه کړو (ترمذی جلد ۱صفحه ۲۸)

معزز سامعین ! ابن عمر ضی الله عنه د مؤذن د تثویب دوجه نه په هغه په جماعت کښ مونځ اونه کړولیکن نن مبتدعینوذکربالجهر او داسی مجلسونو ته جمع کیدل پرې نه خوده چی هغه د شریعت نه نه دی ثابت

داسی اجتماع په شریعت کښ منع ده چی پکښ دسنت تبدیلی راځی لکه ذکر ،تلاوت،نفلونه وغیره.
دپاره خلق راغونډول (ذخیره الجنان فی اعمال رمضان ص ۱۳۸)
تفسیرلامثال دسورة الاعراف ۲۰۵ ایت په تفسیر کښ لیکی چی ذکر به په زړه کښ او په غلی آواز کوی.
تفسیر ابن کثیر رحمة الله علیه ددی ایت په تفسیر کښ فرمائی چی ذکر اوچت آواز سره جائز نه دی او مستحب دی چه د الله ذکر په تیز اواز باندی اونکړی شی.
رسول الله نه خلقو تپوس اوکړو چی آیا که الله لری وی نو مونږ په تیزه تیزه باندی سوالونه اوکړو اوکه نزدی وی نو مونږ به غلی غلی دالله نه سوال اوکړو نو الله داایت راولیږه چی وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ‌ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِسورة الاعراف ۲ جلد ایت نمبر۲۰۵ ابن کثیر .
ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دی چه خلقو به یو سفر په تیز آواز سره دعا کوله نو رسول الله اوفرمائیل ای خلقو په خپلو ځانونو رحم اوکړی تاسو خو څه کونړ یا غائب ته آواز نه کوی تاسو خو الله رامدد کوی او الله د مری درگ نه زیات نزدی دی. (ابن کثیر)
نو معلومه خبره ده چی دالله ذکر به غلی کوے جهراً ذکر کو او مجلوسونه

ذکر دپاره مقرره او خلق راغونډول منع دی.

وہر جا علم وہ قدرت سے ہے موجود
نہیں علم وقدرت اس کے محدود
رگ گردن سے وہ نزدیک تر ہے
ترے ہر فعل پر اس کی نظر ہے۔

الله تعالی دی په دی د عمل کولو توفیق راکړی (آمین)

او الله دِ دا په خپل دربار کښ مقبول کړې.

دا کتاب د الله په فضل وکرم سره په ورځ دمنګل بتاريخ 2019/01/23 سحر07:49 بجے ختم شو

نہ دنیا سے نہ دولت سے نہ گھر کرنے آباد کرنے سے
تسلی دل کو ہوتی ہے خدا کو یاد کرنے سے۔

مٹادو اپنی ہستی کو اگر کوئی مرتبہ چاہیئے
جب دانہ حاک میں ملتا ہے تو گلِ گلزار ہوتا ہے۔(علامہ اقبالؒ)

اس ظالم دنیا میں زرہ سنھبل کر رہنا اے میرے دوست
یہاں اسلامی اوصولو سے واقف، نظروں سے گرا دیتے ہیں لوگ (فضل)

اللہ سے ڈرنے والے اللہ کے قریب ہو جاتا ہے۔(فضل)
پوری دنیا میں علم عام کرو تا کہ جہالت ختم ہو اور امن قائم ہو جائے (فضل)

تیار کردہ: فضل محمد (مائیکرو کمپیوٹر سنٹر ہریان صوابی 03458072683